www.Salgay.Com

## د ايمان تعريف

ايمان په لغت کې باور ، يقين ، تصديق او امن ته وېلی کيږي ، ډاډ او اطمېنان ته وېل کيږي ، او په شرعي اصطلاح کې فقهاو د ايمان جامع تعريف داسې کړی دی :

**الا يمانُ هُوَ عَقْدِ بِالقلبِ ، وَ قَول بِا للسَانِ ، وَ عَمَل بِالجَوارحِ ، يَزيدُ بِالطاعَتهِ وَ اَ عمَالِ الصالِحَتهِ، وينقُصُ بِالمَعصِيَتهِ .**

ايمان پر زړه باندې باور، تصديق ، يقين ، پر ژبه اقرار او په اندامونو باندې شرعي عمل ته ويل کيږي ، په طاعت او نورو نېکو اعمالو سره ايمان زياتيږي ، غوره عقيده په معصيت او ګناه کولو سره کميږي.

## د ايمان ډولونه

## ايمان په دوه ډوله دی .

ايمان تفصيلي او ايمان اجمالي :

هغه شيان چې بيان يې په اجمالي توګه شوی او په يقيني او قطعي توګه له دين څخه دي اجمالي ايمان راوړل فرض دي ,او هغه څه چې تفصيلي ذکر يې شوی او په يقيني او قطعي توګه له دين څخه دي تفصيلي ايمانورباندي راوړل فرض دي .

## اجمالي ايمان :

آمنت باالله کماهو باسمائه وصفاته وقَبلتُ جميع احکامه

ژباړه : ايمان مې راوړی په خدای جل جلاله لکه څنګه چې دا ايمان فرض دی په نومونو دخدای او فرض دی دا ايمان راوړل په صفتونو دخدای جل جلاله او منلي دي ما ټول احکام دخدای جل جلاله .

## تفصيلي ايمان :

آمنت باالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره من الله التعالى والبعث بعدالموت
ژباړه : ایمان مې راوړی په خدای جل جلاله چې یو دی اوایمان مې راوړی په پرښتو دهغه چې شته او هغه خدای جل جلاله پیدا کړي او ایمان مې راوړی په کتابونو دخدای جل جلاله چې دهغه له لورې رانازل شوي اوایمان مې راوړی په رسولانو دخدای جل جلاله چې دهغه له لورې رااستول شوي او ایمان مې راوړی په وروستۍ ورځ (دقیامت چې شته او راتلونکی دی ) او ایمان مې راوړی پدې چې اندازه دښيي ې او نه ښيي ې دالله تعالی له لورې ده او ایمان مې راوړی پدې چې له مړینې وروسته بیا ژوندون شته .

## د الله تعالی نومونه او صفات

د الله تعالی د هغو مبارکو نومونو او صفاتو شمېر چې په قرآن کريم کې مذکور دي نبي کريم صلى الله عليه وسلم نهه نوي (( يو کم سل )) ښودلي دي .

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لا إِلَهَ إِلاَ هُوَ الرَّحْمَنُ ، الرَّحِيمُ ، الْمَلِكُ ، الْقُدُّوسُ ، السَّلاَمُ ، الْمُؤْمِنُ ، الْمُهَيْمِنُ ، الْعَزِيزُ ، الْجَبَّارُ ، الْمُتَكَبِّرُ ، الْخَالِقُ ، الْبَارِئُ ، الْمُصَوِّرُ ، الْغَفَّارُ ، الْقَهَّارُ ، الْوَهَّابُ ، الرَّزَّاقُ ، الْفَتَّاحُ ، الْعَلِيمُ ، الْقَابِضُ ، الْبَاسِطُ ، الْخَافِضُ ، الرَّافِعُ ، الْمُعِزُّ ، الْمُذِلُّ ، السَّمِيعُ ، الْبَصِيرُ ، الْحَكَمُ ، الْعَدْلُ ، اللَّطِيفُ ، الْخَبِيرُ ، الْحَلِيمُ ، الْعَظِيمُ ، الْغَفُورُ ، الشَّكُورُ ، الْعَلِيُّ ، الْكَبِيرُ ، الْحَفِيظُ ، الْمُغِيثُ ، الْحَسِيبُ ، الْجَلِيلُ ، الْكَرِيمُ ، الرَّقِيبُ ، الْمُجِيبُ ، الْوَاسِعُ ، الْحَكِيمُ ، الْوَدُودُ ، الْمُجِيدُ ، الْبَاعِثُ ، الشَّهِيدُ ، الْحَقُّ ، الْوَكِيلُ ، الْقَوِيُّ ، الْمَتِينُ ، الْوَلِيُّ ، الْحَمِيدُ ، الْمُحْصِئُ ، الْمُحْيِئُ ، الْمُبْدِئُ ، الْمُعِيدُ ، الْمُمِيتُ ، الْحَيُّ ، الْقَيُّومُ ، الْوَاجِدُ ، الْمَاجِدُ ، الْوَاجِدُ ، الصَّمَدُ ، الْقَادِرُ ، الْمُقْتَدِرُ ، الْمُقَدِّمُ ، الْمُؤَخِّرُ ، الأَوَّلُ ، الآخِرُ ، الظَّاهِرُ ، الْبَاطِنُ ، الْوَالِي ، الْمُتَعَالِي ، الْبَرُّ ، التَّأَّابُ ، الْمُنْتَقِمُ ، الْعَفُوُّ ، الرَّؤُوفُ ، مَالِكُ الْمُلْكِ ، ذُوالْجَلاَلِ وَ الإِكْرَامِ ، الْمُقْسِطُ ، الْجَامِعُ ، الْغَنِيُّ ، الْمُغْنِي ، الْمَانِعُ ، الضَّارَّ ، النَّافِعُ ، النُّورُ ، الْهَادِي ، الْبَدِيعُ ، الْبَاقِي ، الْوَارِثُ ، الرَّشِيدُ ، الصَّبُورُ

## اسماني کتابونه او صحيفې

تورات په موسى عليه السلام (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ )سورة البقرة87 آيت .

انجيل په عيسى عليه السلام (وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنجِيلَ) سورة الحديد27 آيت .
زبور په داود عليه السلام (وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُوراً {55}سورة الاسراء .
قرآن په حضرت محمد صلى الله عليه وسلم رانازل شوى .
همداراز دوتلي مفسر علامه آلوسي بغدادي رحمه الله له وينا سره سم د صحيفو شميره سل ده چې پنځوس يې په حضرت شيث عليه السلام نازلې شوې وې . ديرش يې په ادريس عليه السلام نازلې شوې وې .لس يې په حضرت ابراهيم عليه السلام نازلې شوې اونورې لس يې په حضرت موسى عليه السلام دتورات تر نزوله مخکې نازلې شوې وې . والله تعالى اعلم باالصواب

## اوله : کلمهٔ طيبه:

لااِلهَ اِلاالله مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ
له خداى تعالى نه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمدeدالله رسو ل دى .

## دوهمه : د شهادت کلمه

اَشهَدُ اَنَ لا الهَ الا اللهُ وَحدَهُ لاشَريكَ لَهُ وَاَشهَدُ اَنَ مُحَمَّداًعَبدُه وَرَسُولُه
ژباړه : زه شاهدي ورکوم چې دالله نه پرته بل خداى دعبادت وړ نشته هغه يو دى سيال نه لري، اوداشاهدي ورکوم چې محمد e يي بنده او رسول دى.

## دريمه : د تمجيد کلمه

سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُللهِ وَلا اِلَهَ اِلاالله وَاللهُ اَكبَر وَلاحَولَ وَلا قُوَّىَ اِلا بِاللهِ العَلي العَظِيم
ژباړه : خداى پاك دى ستاينې هغه لره دي له خدايه پرته دعبادت وړ بل ذات نشته ، خداى لوى دى له ګناوو دساتنې اود نيکو کارونو دکولو توفيق يوا ې هغه ورکوي هغه دلويي او شوکت تن دى .

## څلورمه : دتوحيد کلمه

لااِلَهَ اِلاالله وَحدَهُ لاشَريكَ لَهُ، لَهُ المُلكُ وَلَهُ الحَمدُ يُحيِى وَيُمِيتُ

وهوِ حيٌّ لا يَمُوتُ اَبداً اَبداً ذُوالجَلالِ وَالاكرَامِ بِيَدِهِ الـخَير وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِير .
له خدايه پرته دعبادت وړ بل ذات نشته ، سيال نه لري پاچاهي اوستاينې هغه لره دي، ژوندي كول اومړه كول يې په واك كې دي ، تل ترتله به ژوندى وي، دعزت اوشوكت تن دى اوپ ه يې په واك كې ده ، په هرڅه قادر دى .

## پنځمه كلمه : د استغفا ر كلمه

اَستَغفِرُاللّهَ رَبِّي مِن كُلِّ ذَنبٍ اَذنَبتُهُ عَمَداً اَوخَطاً سِرّاً اَوعَلانِيَىَ وَاَتُوبُ اِلَيهِ مِنَ الذَّنبِ الذِي اَعلَمُ وَمِنَّ الذَّنبِ الذِّي لا اِعلَمُ اِنَّكَ اَنتَ عَلّامُ الغُيوبِ وَسَتّارُ العُيُوبِ وغَفّارُ الذُّنُوبِ وَلاحَولَ وَلاقُوَّىَ اِلا بِاللّهِ العَلّىِ العَظِيم .
ژباړه : زه له هغه ذاته بښنه غواړم چې زما خداى دى، له هرې هغې ګنا څخه چې په قصداويا مې په هېره سره كړې وي ، دهغه په درباركې له هرې ګناڅخه چې ماته معلومه وي اويا نه وې توبه باسم په تحقيق سره خدايه ! په پټو رازونو خبر يې ! دعيبونو پټوونكى، دګناوو بښونكى يې ! له ګناڅخه دساتنې اوښوكارونودكولو توفيق يوا ې ته وركوې! په تحقيق سره دلويي اوشوكت تن يې !

## شپږمه : له كفره دبېزارى كلمه

اَللَّهُمَّ اِنِّي اَعُوذُبِكَ مِنَ اَن اُشرِكَ بِكَ شَيأَ وَاَنَا اَعلَمُ بِهِ وَاَستَغفِرُكَ لِما لا اَعلَمُ بِهِ تُبتُ عَنهُ وَتَبراتُ مِنَ الكُفرِ وَالشِركِ وَالكَذِبِ وَالغِيبَىَ وَالبِدعَىَ وَالنَمِيمَىَ وَ الفَواحِشِ وَالبُهتَانِ وَالمعاصِي كُلِّهَا وَاَسلَمتُ وَاَقُولُ لا اِلَهَ اِلاالله مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّهِ
خدايه ! زه پرتا پنا غواړم له دې څخه چې له تاسره بل څه سيال و م اوزه پرې پوهيږي اوله هغه شرك څخه چې پرې نه پوهيږم خدايه تاته توبه باسم له هر كفر، شرك، درواغو، غيبت ، بدت، چغل خوري، سپكوسپورو، تور لګولو اوټولو ګناوو څخه، اومااېمان راوړى اووايم چې : له خداى تعالى نه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمدeدالله رسو ل دى

اسلام له پنځو شيانو جوړ دى

لومړی : اقراراو باور کول دي پدې چې خدای جل جلاله شته او يو دی او حضرت محمدصلی اللّه عليه وسلم يې رسول او پيغام وړونکی دی او هغه څه چې رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم دخدای جل جلاله له لورې راوړي ريښتيا او حق دي .

دوهم : لمونځ کول ,نو هغه سړی چې دلمانځه له فرضوالي منکر وي کافر بلل کيږي , او هغه څوك چې فرض والی يې مني خو کوي يې نه هغه ته فاسق ويل کيږي .

دريم : درمضان دمياشتې روژې نيول ,نو هغه څوك چې درمضان دمياشتې فرضوالی نه مني کافر دی , او هغه څوك چې فرض يې بولي مګر نيسي يې نه هغه ته فاسق ويل کيږي .

څلورم : دزکوة ورکول , نو هغه څوك چې دزکوة فرضوالی نه مني کافر دی , او هغه څوك چې فرضوالی يې مني مګر ورکوي يې نه هغه ته فاسق ويل کيږي .

پنځم : دحج كول په هغه چا چې دلارې وس او ځواك ولري , نو هغه څوك چې دحج له فرضوالي منكر وي كافر دى , او هغه څوك چې فرض والى خو يې مني مګر له ځواك درلودلو سربېره يې نه ادا كوي فاسق دى .
والله تعالى اعلم باالصواب
څلوېښت ژباړل شوي نبوي صلى الله عليه وسلم حديثونه

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې : څوك هم زما څلوېښت داسې حديثونه ياد كړي چې دهغه په ديني چارو كې په كارراشي نو هغه به عالم ل كيږي , له شهيدانو سره به راپورته كول كيږي ,دقيامت په ورځ به زه پخپله دهغه دايماندارى شاهد يم , او دهغه سفارش به كوم , اوورته ويل كيږي به چې : دجنت له كومې دروازې وغواړي نو جنت ته تلاى شي .
پدې حديثونو كې لاندې موضوعګانې څېړل شوي :

1-دځان او كالو پاكي-2............. دوخت ساتنه3..................... -سادګي غوره كړئ
- 4بسپنه غوښتل-5........................ دګاونډي
حقونه- 6.................ه حلاله
-7 ښندنه
اوقرباني-8.......................استقلال-9...............................
يووالى
-10دكينې بدوالى--11.......له مور پلار سره چلند-12........ له خپلوانو سره چلند

1- دځان او كالو پاكي :

1-الطهور شطر الايمان . (مسلم)
ژباړه :پاك صاف ګرځيدل نيمايي ايمان دي .
2-غسل يوم الجمعة واجب على كل محتلم وان يستن وان يمس طيبا . (بخٍاري)
ژباړه :دجُمعې په ورځ لامبل دهر ځوان لپاره اړين دي ,هغه ته ښايي چې غاښونه په مسواك پاك كړي او خوشبويي ولګوي .

2- دوخت ساتنه :

3-الصلوة على وقتها (بخاري )
ژباړه :پخپل مهال لمونځ كول (الله تعالى ته ترټولو كارونو غوره دى )
4- صل الصلوة لوقتها (مسلم)
ژباړه : لمونځ په خپل وخت ادا كوه .
5-الصلوة اذا اتت , والجنازة اذا حضرت ,والايم اذا حضرت لها كفوا . (ترمذي )
ژباړه : (پدې دريو كارونو كې هيڅكله ځنډ كول نه دي پكار ) لمونځ چې وخت يې راشي ,جنازه چې مخې ته موجوده وي , او دكونډې نكاح كله چې هغې ته خاوند پيداشي .
6-يعمل بنفسه فينفع نفسه ويتصدق (بخاري )
ژباړه : (په سړي باندې لازمه ده چې) چې دخپلو مټو په زور ځانته ه ورورسوي او صدقه وركړي .
7-ما اكل احد طعاما خيرا من ان يأكل من عمله وان النبي الله داود كان يأكل من عمل يده (بخاري )
ژباړه : څوك چې دخپلو مټو په زور كار كوي او خوراك برابروي او خوري يې نو تر هغه ښه خوراك نشته ,او دالله تعالى نبي حضرت داود عليه السلام به دخپل لاس ه خوړله .

3- سادګي غوره كړئ :

8-من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الآخرة (بخاري )
ژباړه :څوك چې په نړۍ كې وريښم واغوندي نو هغه ته به دآخيرت په ورځ نه وراغوستل كيږي .
9-البسوا ثياب البيض فانها اطهر واطيب (ترمذي)
ژباړه :سپين كالي اغوندئ ځكه چې هغه خورا ې او پاكې وي .
10-من لبس شُهرة في الدنيا البسه الله ثوب مذلة يوم القيامة (ترمذي)
ژباړه :كه چا دشُهرت په بڼه كوم كالي واغوستل , نو دقيامت په ورځ به الله تعالى هغه ته دذلت او رُسوايي كالي وراغوندي .

4-بسپنه غوښتل :

11-اليد العليا خير من يدالسفلى ,اليد العليا هي المنفقة السفلى هي السائلة (بخاري)
ژباړه :پورتنى لاس تر لانديني لاس غوره وي ,پورتنى لاس خرڅ كوونكى او لاندينى لاس بسپنه غوښتونكى وي .
12-والذي نفسي بيده لان يأخذ احدكم احبله فيحتطب على ظهره خير له من ان يأتي رجلا فيسأله اعطاه او منعه (بخاري )
ژباړه : په هغه ذات لوړه دچا په واك كې چې زما روح ده كه يو سړى رسۍ واخلي او دلرګيو بار پخپله شا راوړي دا غوره دى تر هغه چا چې له بل نه بسپنه غواړي نو كه دهغه زړه وغواړي نو وركوي يي او كه يي ونه غواړي نو نه يي وركوي .
13- لا تسألواالناس شيئا (بخاري )
ژباړه :تاسې به له هيچا نه بسپنه نه غواړئ (دادبيعت يو شرط وو ) .

5-دګاونډي حقوق :

14-لا يمنع جار جاره ان يغرزخشبه في جداره (بخاري)
ژباړه : هيڅ ګاونډى دې بل ګاونډى د ده په ديوال باندي دلرګي له ښودلو نه منع كوي .
15- مازال جبريل يوصيني باالجار حتى ظننت انه سيورثه (بخاري)
ژباړه :دګاونډي په هكله ماته جبرائيل دومره وينا وكړه چې آن ګمان مې وكړچې ګاونډى به زما وارث (ميراث خور) كړي .
16- والله لايؤمن والله لايؤمن قيل ومن يا رسول الله !قال الذي لايأمن جاره بوائقه (بخاري)
ژباړه : په خداى سوګند هغه سړى ايمان درلودونكى نه دى , په خداى لوړه هغه سړى ايمان درلودونكى نه دى ورڅخه وپوښتل شول چې څوك اى رسول الله ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هغه څوك چې دهغه له ضررونو څخه دهغه ګاونډي بې غمه نه وي .
17-من كان يؤمن بالله واليوم الآخرفلا يؤذجاره (بخاري)
ژباړه :څوك چې په خداى او دآخيرت په ورځ ايمان لري نو هغه دې ګاونډي ته ربړ يا تكليف نه رسوي .

18-لا تحقرن جارة لجارتها ولو فرسن شاة (بخاري)
ژباړه :هيڅ يوه ګاونډۍ ه دې خپلې بلې ګاونډۍ ته د وُزې
دپ ې په ډالۍ کولو کې نه شرميږي .

19 -اذا طبخت مرقة فاكثر ماءها وتعاهد جيرانك (مسلم )
ژباړه :كله چې ته شوروا پخه كړې نو اوبه يې ډيرې كړه او دخپل
ګاونډي خيال ساته .

-6 حلاله ه :

20-يأتي على الناس زمان لايبالي المرء مااخذ منه ا من الحلال ام
من الحرام (بخاري)
ژباړه :په خلكو باندې داسې زمانه هم راتلونكې ده چې سړى به
هيڅ فكر نه كوي چې داشى ده ته له روا لاري لاس ته ورغلى كه
له حرامې لاري .
21- ان الله طيب لايقبل الله الا الطيب ,وان الله امر المؤمنين بما امر
به المرسلين فقال يايها الرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحا وقال
تعالى يايها الذين آمنوا كلوا من الطيبات ما رزقناكم ثم ذكر الرجل
يطيل السفر اشعث اغبر يمد يديه الى السماءيا رب يا رب ومطعمه
حرام و ملبسه حرام وغذي بالحرام فانى يستجاب لذلك (مسلم )
ژباړه :الله تعالى سپيڅلى دى اوسپيڅلتيا خوښوي ,الله تعالى
مسلمانانو ته هم دهغه څه حكم كړى دكوم څه حكم چې يې
رسولانو ته كړى وو ,الله تعالى فرمايلي : اى رسولانو پاك شيان
خورئ او ښه عملونه كوئ ,او فرمايلي يې دي : اى مسلمانانو
:هغه څه چې مونږ تاسې ته دركړي له هغوى نه حلال شيان
خورئ ,له هغه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ديوه
داسې چا ذكر وكړ چې لوى سفر كوي ,پريشان حاله وي ,په ګرد
لړلي دواړه لاسونه داسمان لور ته پورته كوي او وايي اى پالونكي
! اى پالونكي ! ليكن دهغه خوراك , اك ,لباس او غذا هرڅه حرام
وي , نو دهغه دعا به خاوري قبوله شي ؟
22-من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الاالطيب فان
الله يتقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبها كما يربي احدكم فلوه حتى
تكون مثل الجبل (بخاري)
ژباړه :څوك چې له حلالې ې ديوې خُرما په پرتله صدقه وركړي او

الله تعالى خو حلال قبلوي , او خداى جل جلاله هغه صدقه پخپل ښي لاس قبلوي ,او دمال د تن لپاره يې داسې پالي لکه له تاسې نه چې څوك سخوندر پالي تر دې چې (خداى جل جلاله دهغې صدقې اجر ) دغره برابركړي .
23-طلب كسب الحلال فريضة بعد الفريضة (شعب الايمان )
ژباړه : (له نورو ) فرايضو وروسته دحلال رزق لټه فرض ده .

7-ښندنه او قرباني :

24-رباط يوم في سبيل الله خير من الدنيا وما عليها (بخاري)
ژباړه :دخداى جل جلاله په لاره كې يوه شپه پهره داري كول تر ټولې نړۍ او دهغې له ټولو سامانونو نه غوره دي .
25-ابني هذا سيدولعل الله ان يصلح به بين فئتين من المسلمين (بخاري)
ژباړه :زما دا ځوى (حسن رضي الله عنه ) سردار دى , ليرې نه ده چې لوى خداى د ده په لاس دمسلمانانو ددوو لويو غورځلو تر منځ سوله راولي .
26-اماطة الاذى عن الطريق (بخاري)
ژباړه : (دايمان تر ټولو وړه درجه) له لارې نه دربړوونكو څيزونو لرې كول دي .

8-استقلال :

27-ادومه وان قل (بخاري)
ژباړه : (دخداى جل جلاله ) په نزد هغه كار ترټولو ډير غوره دى چې لږ وي خو تل وي .

28-مه عليكم بما تطيقونفو الله لايمل الله حتى تملوا وكان احب الدين اليه ما داوم عليه صاحبه (بخاري)
ژباړه : پر تاسې اړينه ده چې له خپل ځواك سره سم كار وكړئ , په الله تعالى لوړه ده چې خداى جل جلاله نه ستړى كيږي( (داجر په وركولو كې) تر څو تاسې ستړي نه شئ .

29-قل آمنت با الله ثم استقم (مسلم )
ژباړه : ووایه چې ما په خدای ایمان راوړی او بیا (پخپله دې خبرې ) ټینګ اوسيږه .

9-یووالی :

30- ماانا علیه واصحابي (حاکم)
ژباړه: (جنتي ) هغه دی چې زما او زما دملګرو په لاره عمل کوي .
31- من فارق الجماعة شِبرا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه (ابوداود)
ژباړه : څوك چې ديوې لويشتې په پرتله له خپلي ټولی نه جلا شي نو ګواکې هغه له خپلې غاړې نه داسلام کړی لرې کړه .
32-انه سيكون هنات وهنات فمن اراد ان يفرق امر هذه الامة وهي جميع فاضربوه باالسيف كائنا من كان (مسلم)
ژباړه : ډير نژدې به شر او فساد جوړ شي نو كه څوك وغواړي چې پدې امت كې جلالوالی راولي حال دا چې امت سره یوځای وي نو هغه ووژنئ که هغه هر څوك وي .

10-دكينې بدوالی :

33-ولا تحاسدوا .
ژباړه : او پخپل منځ كې كينه مه سره كوئ .
34- دب اليكم داءالامم قبلكم الحسدوالبغضاء هي الحالقة لا اقول تحلقوا الشعر ولكن تحلقواالدين (ترمذي)
ژباړه : په تاسې كې به هغه ناروغي راشي كومه چې په پخوانيو خلكو كې وه , یعنې کینه او بغض ,دا خریبونکي ده , زه دا نه وایم چې هغه ويښتان خريي بلكه هغه دين له منځه وړي .
35 -اياكم والحسد فان الحسد يأكل الحسنات كما تأكل النار الحطب (ابو داود)
ژباړه : له كينې نه ډډه وكړئ ,ځكه چې كينه نيكي داسې خوري لكه اور چې لرګي خوري .

11-له مور پلار سره چلند:

36-الكبائر الاشراك باالله وعقوق الوالدين (بخاري )
ژباړه :لويې لويې ګناوې دادي : له الله تعالى سره شريك نيول ,او دمور پلار نافرماني كول .
37-ولا تعقن والديك وان امراك ان تخرج من اهلك ومالك (مسند احمد)
ژباړه :او دخپل مور پلار دامر سرغړونه مه كوئ كه څه هم هغه تاسې ته ووايي چې له خپل اهل او عيال او شتمنۍ نه لرې شه .

12-له خپلوانو سره چلند:

38- من احب ان يبسط له في رزقه وينسأله في اثره فليصل رحمه (بخاري)
ژباړه : كه څوك دعمرزياتوالى اودرزق فراخي غواړي نو له خپلوانو سره دې ښې ي كوي .

39- لا تنزل الرحمة على قوم فيهم قاطع رحم (شعب الايمان )
ژباړه : په هغه قوم رحمت نه راښكته كيږي په چا كې چې خپلوي پريښودونكى موجودوي .

40 -لا يدخل الجنة منان ولاعاق ولامدمن خمر (نسائي)
ژباړه : احسان بارووونكى ,او دمور پلار نافرماني كوونكى , او شراب ونكى دا درې واړه به جنت ته نه ځي .
د حضرت محمد مصطفى صَلى اللّهُ عليهِ وَسَلم ژوندليک ( لومړۍ برخه )
په دې برخه کې لوستی شئ :

دنبوي نسب لړۍ
درسول الله صلی الله علیه وسلم زيږيدنه
درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه څيره
درسول الله صلی الله علیه وسلم لباس

## دنبوي نسب لړۍ

رسول الله صلی الله علیه وسلم ټبر د عرب په بنو اسماعیل کې دقریشو دقبیلې دهاشم له کورنۍ څخه دی چې دنسب لړۍ یې داده :
محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان .
له تاریخي روایاتو څخه څرګندیږي چې له عدنان څخه تر حضرت اسماعیل علیه السلام پورې دڅلویښتو پلرونو واټن دی خو په همدې منځ کې ټول نومونه ثبت شوي نه دي ځکه عربو به په لرې لیکونو کې یوا ې وتلي نومونه یادول هغه نومونه چې له عدنان څخه تر اسماعیل علیه السلام پورې ثبت شوي دا دي :
عدنان بن عدو بن المقوم بن تارح بن یثحب بن یعرب بن ثابت بن اسماعیل بن ابراهیم علیهما السلام .

## درسول الله صلی الله علیه وسلم زیږیدنه

دیوه وتلي مصري هیئت پوهاند محمود پاشا فلکي د ریاضي له څېړنې سره سم رسول الله صلی الله علیه وسلم دربیع الاول په نهمه نیټه ددوشنبې په ورځ چې د571 م کال داپریل دمیاشتې له شلمې نې ې سره سمون خوري زیږیدلی . پلار یې تر پیدایښت له مخې وفات شوی وو , او عبدالمطلب وربانديې محمد نوم کیښود.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوه درې ور ې بي بي آمنې ,بیا دابو لهب وین ې (ثوبیي) او وروسته حلیمې سعدیي تی ورکړ , دعربو دا دود ووچي خپل ماشومان به یې له ښاره دباندې و ته دشیدو ورکولو لپاره ورسپارل ,او په دې کې دا ه وه چې یوخو به ماشومانو دعربي ژبې سوچه لهجه زده کوله او بل داچې دعربو ځان تیاوې به پکې راتلې په همدې موخه به دکلیو ې په کال کې دوه ځله ښار ته راتلې اوماشومان به یې وړل .
درسول الله صلی الله علیه وسلم له پیدایښت څخه څو ور ې وروسته دهوازن کورنۍ ې ښار ته راغلې چې په دوی کې یوه هم حلیمه وه , حلیمې بل ماشوم پیدا نکړای شو ,درسول الله صلی

الله عليه وسلم مور بي بي غوښتل تر څو خپل زوی ورته وسپاري حليمې سره له دې چې دهغوی دبې وزلۍ او دماشوم ديتيمتوب له کبله دڅه شي تمه نه درلوده ,خو تر تش لاس تللو ورته ښه وبريښيدله او ماشوم يې له ځان سره واخيست
رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته دبني سعد (هوازن) په کورنۍ کې دوه کاله پاتې شو,خو کله چې حليمې سعديي هغه ښار ته راوست نو د(وبا) ناروغي ه وه نو بي بي آمنې ورته وويل چې محمد صلى الله عليه وسلم بيا له ځانه سره بوځه ,حليمې سعديې ومنله او په يوه روايت رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته تر شپږو کلونو پورې پاتي شو.

## درسول الله صلى الله عليه وسلم مبارکه څيره

درسول الله صلى الله عليه وسلم قد منځنی , غړي برابر , رنګ سور او سپين , تندی پلن , وروځې سره نښتي , پزه يې دنګه او لوړوالي ته مايله وه ,مخ يې ډير غوښن نه وو ,خوله يې څه ناڅه غټه ,او غاښونه يې سره بيل بيل وو,غاړه يې دنګه اوسريي غټوالي ته مايل وو ,سينه يې پراخه ,دسر وېښتان يې نه ډيرتاو راتاو او نه بيخي نيغ نيغ وو,مبارکه ږيره يې ه وه ,ستر ې يې تورې , باڼه يې لوی او اوږده وو , ولې يې غوښن ,او دوږو هډونه يې لوی وو, په سينه مبارکه يې تر نامه پورې دويښتانو يوه نری ليکه وه , په اوږو اوليځو يې ويښتان وو , دلاسونو ورغوی يې غوښن او پلن وو ,څنګلي يې اوږدې او پوندې يې نازکې وې , دپښو دتلو منځ يې داسې خالي وو چې تر لاندې به يې اوبه تيريدلای شوې .
درسول الله صلى الله عليه وسلم دوُليو په منځ کې دکوترې ده په کچ دنبوت (مهر) ټاپه وه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډير ندی ګرځيده ,خبرې به يې په دمه دمه کولې , که به يې دکومې خبرې مطلب تاکيدکول وو نو هغه خبره به يې په بيابيا تکراروله ,غږ يې لوړ وو , دخبرو په مهال به يې اکثر اسمان ته کتل ,رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډير لږخندل ,او چې خندا به ورغله نو موسکی به شو .

## درسول الله صلى الله عليه وسلم لباس

په نبوي لباس کې کومه ځانګړتيا نه وه ,عام کالي يې له څادر ,کميس او لنګ څخه عبارت وو ,يو روايت راغلی چې يو پرتوګ يې اخيستی وو او دا شوني ده چې اغوستی به يې وي .
ډيری مهال به يې توره پګړۍ په سر کوله ,پګړۍ به په خولۍ برسيره تړله ,خولۍ به يې ساده اوټيټه وه ,شمله به يې کله (په ښي اوږه-ځکه خو هم کيڼ لوري ته دشملې پريښودل له شرعي پلوه بدعت بلل شوي) او کله هم دوليو په منځ کې پرته وه ,او کله به يې تر غاړه تاووله .
يمني څادر يې ډير خوښ وو ,چې هغه به کرښې درلودې , شامي عبا (چوپانه) يې هم استعمال کړې ده ,رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله کله قيمتي او ښکلې جامې هم اغوستې ,په رنګونو کې يې (سپين) رنګ خوښ وو سور رنګ يې نه خوښاوه .
درسول الله صلی الله عليه وسلم به ښه بوی ډير خوښيده ,
د(سکته )په نوم عطر به يې ډير استعمالول ,رسول الله صلی الله عليه وسلم دموزو پښو کولوډيرخوی نه درلود, خو کومې دڅرمنې موزې چې نجاشي ورته راليږلې وې هغه يې استعمال کړې وې ,معمولا به يې څپليو ته ورته پڼې (موچړې) په پښو کولې .
نبوي بستر يوه څرمن وه , چې دخرما له پاڼو څخه ډکه شوې وه ,او کټ يې په بوږ اُوبدل شوی وو.
د(محمدرسول الله ) په نوم دسپينو زرو په ګوتې کې يو مهر کندل شوی وو چې دټاپې لګولو په مهال به يې دښي لاس په ګوته کوله ,رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په جنګونو کې خول او زغره هم استعمالوله , دأحد په وتلي جګړه کې يې دوه زغري اچولې وې .

د حضرت محمد مصطفی صَلی اللّهُ عليهِ وَسَلم ژوندليک ( دوهمه برخه )

په دې برخه کې لوستی شئ :

درسول الله صلی الله عليه وسلم ذاتي ځانګړتياوې

درسول الله صلی الله عليه وسلم نبوي ځانګړتياوې

-نبوي ځانګړتياوي :

داځان   تياوې دوه ډوله دي : ذاتي او نبوي
ذاتي ځان   تياوې هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دامت په مقابل كې وركړل شوي دي , او نبوي ځان   تياوې هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دنورو انبياوو په مقابل كې وركړل شوي دي .

الف- درسول الله صلى الله عليه وسلم ذاتي ځان   تياوې :
نبوة او دنبوة لوازم لكه وحي ,الهي انباء , دحضرت جبرايل عليه السلام راتلل ,او داحكاموتنسيخ , داټول هغه څه دي چې دامت افرادو ته ندي وركړل شوي .بلكه دامت افرادو ته يوا  ې ريښتينى خوب ,كشف او الهام پاتې دي .
عام مسلمانان پدې شرط چې عدل وساتلى شي يوا  ې څلور     ې په نكاح كولاى شي خو رسول الله صلى الله عليه وسلم تر څلورو زياتې ميرمنې هم په نكاح اخيستې شوې .
عام مسلمانان كولاى شي چې داهل كتابو له     و سره نكاح وكړي خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا اجازه نه وه او داځان   تيا يو قيد وو .
رسول اله صلى الله عليه وسلم ته دا اختيار وركړل شوى وو چې په موجوده نهو بيبيانو كې څلور ځان ته ورنژدې كړي او نورې سره له دې چې دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دنكاح شرف يې درلودخو له ځان څخه يې لرې كړې اوپدې غوراوي كې يې رد او بدل هم كولاى شو .
درسول الله صلى الله عليه وسلم تر وفات وروسته دهغه پاكې بيبيانې هيچا هم نشواى په نكاح كولاى .
دشپې لمونځ (تهجد) دعام امت لپاره مستحب دى خو په رسول الله صلى الله عليه وسلم فرض وو .
دڅاښت لمونځ په رسول الله صلى الله عليه وسلم دفرض لمانځه په څير واجب الادا وو .
رسول الله صلى الله عليه وسلم به دمازديګر تر لمانځه وروسته هم دوه ركعته لمونځ كاوه خو امت ته تر مازديګر وروسته او تر ماښام له مخه لمونځ كول روا ندي .
دامت لپاره پر له پسې(بې له روژه ماتي كولو) روژه نيول نه دي روا ,خو رسول الله صلى الله عليه وسلم به څو ور  ېپه پرله پسېتوګه

پرته له ماتولو روژه نیوله .
درسول الله صلى الله علیه وسلم اودتړول اهل بیت لپاره دزکوة دمال خوړل ناروادي .

ب ــ درسول الله صلى الله علیه وسلم نبوي ځان تیاوې

له حدیثو څخه څرګندیږي چې درسول الله صلى الله علیه وسلم نبوي ځان تیاوېپه لاندې ول دي :

رعب او نصرت :
تر رسول الله صلى الله علیه وسلم وړاندېدنبیانو مادي ځواك لږ وو, او كه به دحضرت موسى او حضرت داود او حضرت سلیمان علیهم السلام په څیر نبیانو مادي ځواك درلودهم مګر رعب ورسره نه وو, خو له رسول الله صلى الله علیه وسلم سره دمادي ځواك ترڅنګ دومره رعب هم وو چې ډیر زورور خلك پرته له ج ې كولو څخه دتسلیمې كړى ته راغلل .

دسجدې عام ځاى :
تر رسول الله صلى الله علیه وسلم دمخه نبیانو قرباني او عبادت له ځان یو ځایونو پرته بل چیرې نه وو روا, خو درسول الله صلى الله علیه وسلم دین په ځان و ځایونو پورې ندى تړلى ,هر ځاى سجده ,دعا او قرباني كیږي .

دپیروانو ډیرښت :
ډیرى انبیا علیهم السلام داسې تیر شوي چې دامتونو شمیره یې دګوتو تر شمیر نه ده اوښتې , خو محمدي امت آن درسول الله صلى الله علیه وسلم په ژوند كې دومره ډیر وو چې دحجة الوداع په مهال نژدې سل زره كسان درسول الله شاو خوا راټول وو اودلبیك اللهم لبیك نارې یې وهلې .

عامه بلنه :

پخوانیو نبیانو به یوا ؠ یوه قوم یا یوه هیواد یا دیوه مهال لپاره مبعوث کیدل خو دمحمدي رسالت لمن له انسانانو څخه پرته آن تر پیریانو هم واوښته او پیریانوته يې هم سمې لاري ته دراتلو بلنه ورکړه .

جوامع الکلم :
پخواني کتابونه او صحیفې یو هم جامعیت نه لري ,په ځینو کې یوا ؠ دقومونو تاریخ دی ځیني يې بیا دعقیدې برخې بیانوي او ځینې نور يې هم داسې درواخله خو قرآنکریم هغه یواځینی جامع کلام دی چې د دین او دنیا ټول ګوټونه يې روښانه کړي ,عقاید ,اخلاقیات ,اومعاملات هرڅه پکې شته هرچا څه ترې ایستلي که څه هم دقرآنکریم ډیره برخه مبارکوحدیثو واضحه کړي خو بیا يې هم باریکۍ پاتې دي .

ددین پوره والی :
الهي دین چې له آدم علیه السلام څخه رانیولی بیا تر حضرت محمد صلی اللّه علیه وسلم پورې یودین وو او دانبیاوو له خوادهمدې یوه دین اصولو ته بلنه کیدله همدا دین دحضرت محمد صلی اللّه علیه وسلم په بعثت او بلنه سره بشپړشو .

دنبوت پای ته رسیدل :
درسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په سپیڅلي ذات ټول پیغمبرانه نعمتونه پای ته ورسیدل ,او دنبوت لړۍ هم پای ته ورسیدله ,اوپدې ډول نو نړیوال دبل پیغمبر دراتګ له انتظار څخه خلاص شول .

تلپاتې معجزه :
دنوروانبیاوو معجزې دهمهغه مهال لپاره وې ,خو محمدي معجزه دتل لپاره ده .که قرآنکریم په هغه مهال دعربو دادب او شاعرۍ په ډګر کې معجزه وه ,خو نن دژوند په هر ډګر کې معجزه ده , دانساني ماغزو نوې لاس ته راوړنه (کمپیوټر) هم نن نارې وهي چې قرآنکریم یوه معجزه او له هر ډول لاس وهنې څخه خلاص یو کتاب دی .

دشفاعت کولو مقام محمود :
په هغه ورځ چې انسانان دمایوسۍ په حالت کې حضرت آدم علیه

السلام ,حضرت نوح عليه السلام ,حضرت ابراهيم عليه السلام , حضرت موسى عليه السلام ,او حضرت عيسى عليه السلام ته ورشي اودشفاعت غوښتنه ترينه وكړي , هر يوبه خپل خپل عذر ورته ووايي او په نفسي نفسي نارو به سر وي خو چې ددواړو كونو سردار محبوب رب العالمين حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم ته ورشي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به دلوى پالونكي په درباركې عرض وكړي , دخداى جل جلاله له لورې به ورته دشفاعت كولو اجازه وركړل شي او دې ته مقام محمود ويل كيږي دكوم چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دقرآنكريم په سورة اسراء كې ژمنه شويده .

د حضرت محمد مصطفى صَلى اللهُ عليهِ وَسَلم ژوندليک ( دريمه برخه )

په دې برخه كې لوستى شئ :

الف- درسول الله صلى الله عليه وسلم پاكي بيبياني

١- ام امؤمنين حضرت بي بي خديجه(رضي الله عنها)
٢ ـ ام المؤمنين حضرت بي بي سوده (رضي الله عنها)
٣ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها
٤ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي حفصه رضي الله عنها
٥ ــ ام المؤمنين حضرت زينب رضي الله عنها
٦ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي اُم سلمه (رضي الله عنها)
٧ ــ ام امؤمنين حضرت بي بي زينب رضي الله عنها
٨ ــ ام المؤمنين حضرت بي بي جويريه رضي الله عنها
٩ ــ ام المؤ منين حضرت ام حبيبه رضي الله عنها
١٠ ــ ام المؤمنين حضرت بي بي ميمونه رضي الله عنها
١١ ــ ام المؤمنين حضرت صفيه رضي الله عنها
١٢ ــ حضرت ماريه قبطيه رضي الله عنها

ب- درسول الله صلى الله عليه وسلم اولادونه

قاسم حضرت زينب رضي الله عنها
حضرت رقيه رضى الله عنها
حضرت ام كلثوم رضى الله عنها

دجنتي     و سرداره حضرت فاطمة الزهرا رضى الله عنها ابراهيم

## ١- ام امؤمنين حضرت بي بي خديجه(رضي الله عنها)

دپلارنوم يې خويلد او دمورنوم يې فاطمه وو. دبي بي خديجې كورنۍ دقصې په پشت كې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوځاى كيږي.
بي بي خديجه رضي الله عنها دقريشو يوه مشهوره ,هوښياره ,پاك لمنه او شتمنه ميرمن وه . دغه مباركه بي بي په لومړي سركي دزراره زوى ابوهاله ته واده شوي وه . له هغه نه يى دوه بچيان وو چې ديوه نوم يې هند اودبل داحارث وو.حارث هغه ځوك وو چې دقريشوپه لاس په حرم كې په شهادت ورسول شو. هغه داسې چې كله په رسول الله صلى الله عليه وسلم ګوزارونه كيدل نومړى يى مخې ته ودريد. دخداى د دين د دښمنانو دتورو ګوزارونه يې په خپل بدن واخستل او له آنحضرت صلى الله عليه وسلم نه يې دخپل ځان په بيه دفاع وكړه . چې دخپلې دغې قربانۍ له امله يې داسلام په لاره كې دلومړني شهيد تل پاتې وياړپه برخه شو.
هندبيادفصاحت اوبلاغت په ډګركې ښه نوم درلود . داحاديثوپه كتابونوكې درسول الله صلى الله عليه وسلم مباركه ځيره دهمده په روايت ترمونږ پورې رارسيدلې ده . دابوهاله له مړينې وروسته حضرت بي بي خديجة رضي الله عنها دعتيق بن عائذپه نكاح كې وه .
له هغه نه يى يوازې يوه لور درلوده . دعتيق ترمړينې وروسته بيادغه پاكه بي بي دحضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم په نكاح كې راغله .
دغې مباركې بي بي له رسول الله صلى الله عيله وسلم سره پنځه ويشت كاله تيركړل .
له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دبي بي مباركي شپږ اولادونه وشول .
دوه هلكان چې آن په كوچنيوالي كې وفات شول او څلورلوڼې چې نومونه يې دادي :
فاطمه, زينب , رقيه, اُم كلثوم .

ددغې مباركې بي بي په ژوندكې دخداى جل جلاله نازولې پيغمبر
له بل چاسره نكاح ونكړله . بي بي خديجه رضى الله عنها دبعثت
په لسم كال وفات اوپه حجون نومې ځاى كې خاوروته وسپارل شوه.

## ٢ ـ ام المؤمنين حضرت بي بي سوده (رضي الله عنها)

دبي بي سودې رضي الله عنها شمارله لومړنيو مسلمانانو كيږي
. دې هغه مهال له خپل ميړه سكران بن عمرو سره حبشې ته
هجرت وكړ. يو روايت دادى چې سكران په حبشه كې مرتد شو
اوعيسويت ته واوښت . بي بي سودې ورنه طلاق واخيست اومكې
ته بيرته راغله سكران هماغلته په حبشه كې مړ شو .
بل روايت دادى چې سوده رضي الله عنها دسكران په ملتيا مكې ته
راغله اوځو ور ي وروسته سكران وفات شو. له سكران څخه دسودې
رضي الله عنها يو زوى وو چې عبدالرحمان نوميده او دجلولاء په
وتلې ج ه كې په شهادت ورسيد.
دأم المؤمنين بي بي خديجې رضي الله عنها له وفاته وروسته
دسودې رضي الله عنها دپلارزمعه په خوښه اوشته والي كې ددې
نكاح له حضرت رسول اكرم صلى الله عليه وسلم سره وشوه .
دغه مباركه بي بي دلوړې ونې او خورا ي تنې ميرمن وه . لوى
خداى جل جلاله ورسره ددغو اوصافو ترڅنګ فياضي , سخاوت ,
اطاعت اوفرمانبرداري هم ورپه برخه كړې وه .
دأم المؤمنين سوده رضي الله عنها دوفات په كره نيټه كې
اختلاف دى خو داخبره باوري ده چې دحضرت عُمر رضي الله عنه
دخلافت پرمهال لاژوندى وه .

## ٣ ـ أُم المؤمنين حضرت بي بي عايشه رضي اللّه عنها

حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها دمسلمانانو دلومړني خليفه
او درسول الله صلى الله عليه وسلم دغار دملګري حضرت
ابوبكرصديق رضي الله عنه لور وه . دمور نوم يې زينب وو او دأُم
رومان په نامه ياديدله . حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها
دبعثت په څلورم كال زيږيدلې اوپه شپږكلنى كې يې له رسول
الله صلى الله عليه سره نكاح شويده .

یو روایت دادی چې ددې دنکاح غوښتنه پخپله پیغمبرصلی الله علیه وسلم کړې وه . خودیوه بل روایت له مخې ویل شوي چې کله دخدای جل جلاله نازولې استازې صلی الله علیه وسلم حضرت بي بي سوده په نکاح کړه نوحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته عرض وکړچې عایشه لومړنۍ انجلۍ ده چې له مسلمان پلاره زیږیدلې نوکه تاسې یې په خپله نکاح مشرفه کړئ!!!
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې عایشه لاوړه انجلۍده خو حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ورته وویل چې خیردی دواده لپاره به یې زه صبروکړم ترڅو لویه شي .
آنحضرت صلی الله علیه وسلم داخبره ومنله . دغه بي بي ترنبوي هجرت وروسته دنهو کلونو په عُمر واده کړی شوه .
له عایشې رضي الله عنه نه ډیری نبوي احادیث روایت کړل شویدي . دحدیثو ځیني څیړونکي پدې باوردي چې په شرعي احکامو کې له دې څخه څلورمه برخه روایتونه شویدي . نوموړې بي بي ته خدای پاك بیساری ذکاوت ورپه برخه کړی وو. هغې دتفسیر , حدیثو , دشریعت په اسرارو , خطابت , ادب او دنسبونو په فن کې لوی لاس درلود .
دحضرت ابوبکر ,حضرت عُمر اوحضرت عثمان رضي الله عنهم دخلافت په پیرونوکې یې فتواګانې ورکولې . حضرت عایشې رضي الله عنها نهه کاله له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره تیرکړل , دپاك رسول صلی اللله علیه وسلم دوفات پرمهال دهغې عُمراتلس کاله وو.
په اوه پنځوسم هجري کال کې نژدې دشپږشپیته کلونو په عُمر وفات شوه اود دې له وصیت سره سم په جنت البقیع کي دشپې خاوروته وسپارل شوه .
قاسم بن مُحمد, عبدالله بن عبدالرحمن , عبدالله بن عتیق ,عبدالله بن زبیر اوعُروه بن زبیر رضي الله عنهم قبرته ورښکته کړه .دجنازې لمونځ یې دحضرت ابوهُریرة رضي الله عنه په امامت کې ترسره شو. دغه مهال نوموړی دمروان بن حاکم له لوري دمدینې منورې والي وو.

## ٤ ـ اُم المؤمنین حضرت بي بي حفصه رضي الله عنها

دغه بي بي داسلام د دوهم خليفه حضرت عُمر رضي الله عنه لور وه . په لومړي سرکې دحضرت خنيس بن خذافة رضى الله عنه په نکاح کې وه . خو هغه دِبدرپه غزاکې شهيد شو او بي بي مبارکه کونډه شوه . حضرت عُمر رضي الله عنه له حضرت عُثمان رضي الله عنه نه وغوښتل چې له هغې سره نکاح وکړي خو هغه ونه منله . حضرت عُمر رضي الله عنه خورا غمجن شو او رسول الله مبارك ته يې ګيله وکړه . رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې لپاره چې هغه خوشاله ساتلې وي دځان له لورې يې ورته له بي بي حفصې رضى الله عنها سره دنکاح ست وکړ . هماغه وو چې له پاك رسول سره يې نکاح وشوه .

بي بي حفصه رضي الله عنها په نبوي حرم کې يوازينۍ لوستې ميرمن وه او درسول الله په ژوندکې يې دځان لپاره پخپل لاس قرآنکريم ليکلى وو.

دغه بي بي دحضرت اميرمعاويه رضي الله عنه دخلافت په پيرکې د95 کلونو په عُمروفات شوه . دجنازې دلمانځه امامت يې دمدينې منورې دهغه وخت حاکم مروان بن حکم وکړ . دغې مبارکې بي بي خپل ټول مال جايداد دخداى په لاره کې خيرات کړى وو .

## ۵ ــ ام المؤمنين حضرت زينب رضي الله عنها

حضرت زينب رضي الله عنها لومړى دعبدالله بن جحش رضى الله عنه په نکاح کي وه کله چې حضرت عبداللهرضى الله عنه د احد په غزاکې شهيدشو نو رسول الله صلى اله عليه وسلم په نکاح کړه ,خو دوه درې مياشتې وروسته وفات شوه .

دجنازې لمونځ يې رسول الله صلى الله عليه وسلم اداکړ , اوپه جنت البقيع کې خاورو ته وسپارله شوه , دوفات په مهال ديرش کلنه وه .حضرت زينب رضي الله عنها دوهمه ميرمنه وه چې درسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند وفات شوه ,څنګه چې به حضرت زينب رضي الله عنها مسکينانو او بې وزلو ته ډوډۍ ورکوله او نوره مرسته به يې ورسره کوله ځکه نود ام المساکين په نامه هم يادېدله . رضي الله عنها وعنهن .

## ٦ ـ اُم المؤمنين حضرت بي بي اُم سلمه (رضي اللّه عنها)

ددغې پاكې بي بي خپل نوم هند , دپلارنوم يې سهيل اودمورنوم يې عاتكه وو.
نومړې په لومړني سركې دخپل اكا د زوی او درسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم درضاعي ورور عبداللّه بن عبدالاسدپه نكاح كې وه .
نومړې له خپل ميړه سره يوځای حبشې ته هجرت وكړ . هلته يې دسلمه په نوم زوی وزيږيد. وروسته مكې ته راغله اوبيايې دلومړنيومسلمانو ميرمنو په كتاركې مدينې منورې ته هجرت وكړ.
ميړه يې عبداللّه دخپل وخت له وتليو آس زغلونكو شميرل كيده .دبدر او اُحدپه غزاګانو كې يې برخه اخيستې وه . دأحدپه ج ه كې دخوړلوټپونو له امله يې دهجرت په څلورم كال ستر ي له نړۍ ې ي كړې .
رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم دهغه دجنازې پرمهال نه تكبيرونه وويل . له لمانځه وروسته چا ترې وپوښتل چې يارسول اللّه تيروتنه خوبه مو نه وي كړې؟
رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم ورته وفرمايل چې ابوسلمه دزرو تكبيرونو حق درلود .
رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم وروسته اُم سلمه ته دنكاح وړانديز وكړ خو هغې عذر ووايه . رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم ته يې وويل چې يو خو زه خوراقهرجنه ميرمن يم , ډيراولادونه لرم ,او بله داچي عُمر مې ډيردی . خورسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم ددغو عذرونو سربيره له هغې سره نكاح وكړه .
نومړې يوه پوهه اوهوښياره ميرمن وه . دحديثونو له مخې دغه بي بي له عايشې رضي اللّه عنه نه وروسته دافضليت دوهمه درجه لري . اُم سلمه رضي اللّه عنها د84 كلونوپه عُمر ترټولوبيبيانو وروسته وفات شوه. دجنازې لمونځ يې حضرت ابوهريره رضى اللّه عنه اداكړ.

## ٧ ـ ام امؤمنين حضرت بي بي زينب رضي اللّه عنها

حضرت زينب رضي اللّه عنها درسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم دترور لور وه , دا بي بي لومړی حضرت زيد رضي اللّه عنه ته واده شوې وه خوداچې حضرت زيد رضي اللّه عنه يو آزاد شوی مريی وو نو ځكه

ورسره ددې وخت نه تيريده ,حضرت زيد درسول الله صلى الله عليه وسلم په خوښه دې ته طلاق ورکړ,وروسته ورسره رسول الله صلى الله عليه وسلم نکاح وکړه .
دنکاح په مهال يې عمر 35 کاله وو ,دا دومره پرهيزګاره ميرمن وه چې کله ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم دنکاح پيغام ورواستاوه نودې په ځواب کې ورته وويل چې زه به استخاره وکړم ,همداراز کله چې په ام المؤمنين حضرت عايشې صديقې پسې بهتان وويل شو نو حضرت زينب رِضی الله عنهاسره له دې چې دحضرت عايشې رضي الله عنها بَن وه دحضرت عايشې په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې : زه دعايشې له ښو اخلاقو پرته په بل هيڅ شي نه يم خبره .حضرت عايشې رضي الله عنها هم دزينب په فياضي داسې اقرار کړی چې : زينب رضي الله عنها ډيره قانعه او دفياض طبيعت ميرمن وه .
رسول الله صلى الله عليه وسلم پاکو بيبيانو ته ويلي وو چې له تاسي څخه به ډير ژر هغه څوك له ما سره يوځاي شي (تر ما وروسته به ژر وفات شي ) چې دهغې لاسونه اوږده وي ,پاکو بيبيانو به خپل لاسونه سره کچل ,خو پدې استعاره کي دحضرت زينب رضی الله عنها فياضي او سخا ته اشاره وه , دې به پخپل لاس پيسې بياموندلې او هغه به يې دخداي جل جلاله په لاره کې خرڅ کولې . همدا نبوي وړاندوينه دحضرت زينب رضي الله عنها په اړه ريښتيا شوه او درسول الله صلى الله عليه وسلم له وفاته وروسته په بيبيانو کې حضرت زينب رضي الله عنها ترټولو لومړۍدهجرت په شلم کال دخپل عمر په 53 کلنۍکي وفات شوه .
حضرت زينب رضي الله عنها پخپل لاس کفن او نور لوازمات برابر کړي وو ,خو ورسره يې دا وصيت هم کړی وو چې يوکفن دي حضرت عمررضى الله عنه هم راکړي او بيا دي له دې دوو نه يو خيرات کړل شي هماغسي وشو ,دجنازې لمونځ يې حضرت عمررضي الله عنه ادا کړ,حضرت اسامه رضي الله عنه,محمدبن عبدالله بن جحش عبدالله بن ابي او احمد بن جحش قبر ته ښکته کړه . انا لله وانا اليه راجعون .

## ۸ ــ ام المؤمنين حضرت بي بي جويريه رضي الله عنها

حضرت جويريه رضي الله عنها دحارث بن ضرار لور وه ,حارث دبنو مصطلق دكورنۍ مشر وو ,حضرت جويريه لومړۍ دمسافع په نكاح كې وه ,هغه دبنو مصطلق يا مريسيع په غزا كې مړشو ,په نومو ړې جـ ه كې مسلمانانو ته ډيرى مرييان او مين ې په لاس ورغلل ,جويريه رضي الله عنها دثابت بن قيس په برخه شوه ,خو جويريي دنهو اوقيو سرو زرو په بدل كې دمكاتبت تړون وكړ ,هغه هم راضي شو ,جويريه رضي الله عنها درسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته راغله او دمرستې غوښتنه يې ورڅخه وكړه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې كه زه دابيه پرې كړم او تا په نكاح كړم نو ښه به نه وي ؟ جويريي داخبره خوښه كړه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغې اندازه سره زر وركړل او دايي ازاده بيا يې په نكاح كړه .

دهمدې نكاح له بركته دجويريي رضي الله عنها دكورنۍ ټول غړي مرييونه او مينځي ازادي شوې ,ځكه چې صحابۀ كرامو وويل چې دا كورنۍ درسول الله صلى الله عليه وسلم خسرګنۍ شوه ځكه يې نو ټول ازاد كړل .

حضرت جويريه رضي الله عنها دهجرت په پنځوسم كال د65 كلونو په عمر وفات او په جنة البقيع كي خاورو ته وسپارل شوه . انا لله وانا اليه رجعون .

## ٩ ـ ام المؤ منين حضرت ام حبيبه رضي الله عنها

ددې بي بي نوم رمله او كنيت يې ام حبيبه وو ,دابو سفيان لوروه ,تر بعثت 17 كاله وړاندي زيږيدلې وه ,ام حبيبه رضي الله عنها لومړۍ عبدالله بن جحش ته واده شوې وه ,دواړه مسلمانان او حبشې ته مهاجر شول ,عبدالله هلته عيسايي شو خو داپه اسلام پاتې شوه ,ددين داختلاف له امله عبدالله ام حبيبي ته طلاق وركړ.

دهجرت په اووم كال رسول الله صلى الله عليه وسلم يو تن (عمر بن اميه) نجاشي ته واستاوه ,څو ام حبيبې ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دنكاح پيغام وروسوي ,نجاشي خپله مينځه ابرهه ور واستوله ,حضرت ام حبيبې رضي الله عنها داپيغام قبول كړ ,او ددې خبردزيري دوركولو په ډول يې ابرهه ته دسپينو زرو دوه بن ي او دوه ګوتمنۍ(انګشتري) وركړې .

نجاشي دحضرت جعفررضي الله عنه اونورو مسلمانانو په ون دا نکاح وتړله ,درسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري يې ورته څلور سوه دیناره مهر وټاکه او دولیمې ډوډۍ هم نجاشي ورکړه .
ام حبيبې رضي الله عنها دمهر له روپو څخه پنځوس دیناره ابرهه ته ورکړل خو هغې بن ي او داپيسې بيرته ورکړې او ورته ويي ويل چې :زه پاچا له دې شيانو منع کړي یم .
په دوهمه ورځ نجاشي ورته عود,زعفران اونور شيان واخيستل او ور وايې استول ,خو کله چې له شرحبيل بن حسنه سره مدينې منورې ته راغله نو هغه هرڅه يې له ځانه سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړل .
ام حبيبه رضي الله عنها دهجرت په 44 کال په مدينه منوره کي وفات شوه .
انا لله وانا اليه راجعون .

## ۱۰ ــ ام المؤمنين حضرت بي بي ميمونه رضي الله عنها

حضرت ميمونه رضي الله عنها چې دپلار نوم يې حارث او دمور نوم يې هند اووتلې ميرمن وه ,ميمونه رضي الله عنها دحضرت عباس رضي الله عنه دميرمني خوروه,او نوري اوه خويندي يې هم دقريشو دسردارانو په نکاح کي وې ,دنبوي عمرې (اووم هجري کال)دعمرې تر اداکولو وروسته دحضرت عباس رضي الله عنه په تشويق دحضرت ميمونې رضي الله عنها نکاح له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وشوه .
پدې نکاح کې له سياسي پلوه لويه موخه داوه څو رسول الله صلی الله علیه وسلم دقريشو له ډيرو کورنيو سره خپل شي په هغوي کي حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه هم وو چې لا يې اسلام نه وو راوړی ,چې خورا ماهرجنګيالی او دحضرت ميمونې رضي الله عنهادوراره توب له امله دهمدې بي بي په لاس روزل شوی وو .ددې نکاح له امله له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دخپلوي په تار وپيیل شو چې همدا خپلوي دنوموړي دمسلمانيدو لامل وګرځيدله .
حضرت ميمونه رضي الله عنها لومړی مسعود بن عمرو ثقفي ته واده شوه ,کله چې هغه طلاقه کړه نو بياابو درهم بن عبدالعزی ته

واده شوه ,دهغه تر مړينې وروسته حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم په نكاح كړه .
حضرت ميمونه رضي الله عنها دهجرت په يو پنځوسم كال په سرف نومې ځاى كې وفات شوه ,چيري چې يې دنكاح خطبه ويلى شوې وه ,دجنازي لمونځ يې دخپلي خور زوي (خوريي) حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه اداكړاو همهغه قبر ته ښكته كړه .
انا لله وانا اليه راجعون . رضي الله عنها وعنهن .

## ١١ ـ ام المؤمنين حضرت صفيه رضي الله عنها

دنومونې نوم زينب ,دپلار نوم يې حيي بن اخطب ,او دمور نوم يې ضره وو . كله چې په عربو كي دامام يا پاچا په نوم له ولجې څخه كومه ښځه برخه بيله شوه هغه به دصفيي په نوم يادېدله ,حضرت زينب رضي الله عنها په همدې توګه دخيبر په وتلي غزا كي درسول الله صلى الله عليه وسلم په نكاح كي راغله ,ځكه خو هم دصفيي په نامه يادېدله .
دحضرت صفيي رضي الله عنها پلار دبنو نضير ديهودانو رئيس ,او مور يې دبنو قريضه ديهودانو دمشر لوروه ,صفيه لومړى سلام بن مشكم ته واده شوه هغه طلاقه كړه بيا كنانه بن ابي الحقيق په نكا ح كړه ,كنانه دخيبر په غزا كي ووژل شو او صفيه بندي شوه ,كله چې دخيبر دجنګ بنديان راټول كړاي شول نو حضرت دحيۀ كلبي رضي الله عنه حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض وكړ چې يوه مينځه وركړي ,رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل ورشه يوه خوښه كړه ,دحيۀ كلبي رضي الله عنه صفيه خوښه كړه چې پدې كې يو صحابي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغى او عرض يې وكړ چې تاسي دبنو نضير او بنو قريضه يهودو رئيسه حضرت دحيۀ كلبي ته وركړه ؟ هغه يواځې له تاسو سره ښايي .
رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت دحيه رضي الله عنه ته يوه بله مينځه وركړه او صفيه يې ازاده او بيا يې نكاح ورسره وكړه ,چې دخيبر په لاره په صهبا نومي ځاي كي يې دواده مراسم تر سره شول .
رسول الله صلى الله عليه وسلم له حضرت صفيي سره خورا مينه

درلوده ,يوه ورځ يې وليده چې صفيه ژاړي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورڅخه وپوښتل ولي ژاړې ؟ صفيي ورته وويل چې عايشه او زينب رضي الله عنهما وايي چې مونږ په ټولو بيبيانوكي غوره يو مونږ درسول الله صلى الله عليه وسلم سره په نكاح سر بيره دهغه دتره لوڼې هم يو .
رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې :تاهغوي ته ولي ونه ويل چې حضرت هارون عليه السلام زما پلار ,حضرت موسى عليه السلام زما تره او حضرت محمد صلى الله عليه وسلم زما خاونددى ,نو په څه شي تاسي له ماڅخه ې كيدلاى شي ؟
حضرت صفيه رضي الله عنها دهجرت په پنځوسم كال وفات شوې او دجنت البقيع په هديره كې خاورو ته سپارل شوي ده . انا لله وانان اليه راجعون . رضي الله عنها وعنهن .

## ١٢ ـ حضرت ماريه قبطيه رضي الله عنها

درسول الله صلى الله عليه وسلم دليك په ځواب كې دمصر مقوقس دوه انجونې (ماريه او نسرين) هم له نورو سوغاتونو سره يوځاى را واستولې , او په ليك كي يې ليكلي وو چې دادواړه دقبطيانو وتلې انجونې دي .
هغوى درسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته تر راتلو دمخه لا مسلمانې شوې وې , څنګه چې دا انجونې دواړه سره خويندې وې ,ځكه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ماريه ځان ته او نسرين حضرت حسان رضى الله عنه ته په نكاح وركړه .
درسول الله صلى الله عليه وسلم ديوه زوى ابراهيم مور هم همدا ماريه قبطيه رضى الله عنهاوه . رضى الله عنها وعنهن .

## ب- درسول الله صلى الله عليه وسلم اولادونه

درسول الله صلى الله عليه وسلم داولادونو په شميره كي اختلاف دى خو په كوم روايت چې اتفاق راغلى په هغه كي درسول الله صلى الله عليه وسلم اولاد شپږ شودل شوى ,دوه زامن او څلور لوڼي ,خو ابن اسحاق دطاهر او طيب په نامه هم درسول الله صلى الله عليه وسلم دوه نور زامن ياد كړي دي . يو روايت لا داهم دى چې دسول الله صلى الله عليه وسلم څلور لوڼي او اته زامن وو .

دااتفاقي خبره ده چې له ابراهيم نه پرته درسول الله صلى الله عليه وسلم نور ټول اولادونه له ام المؤمنين حضرت خديجې رضى الله عنها څخه زيږيدلي وو .

## قاسم

درسول الله صلى الله عليه وسلم مشر زوي قاسم نوميده چې تر بعثت يوولس دوولس كاله وړاندي زيږيدلى وو ,او په كوچنيتوب كي وفات شوى دى ,قاسم ته په نسبت كولو سره درسول الله صلى الله عليه وسلم كنيت ابو القاسم وو او دا كنيت يې ډير خوښيده ,د(څه مهال لپاره يې )ددې كنيت له ښودلو څخه نور خلك راګرځولي وو .

## حضرت زينب رضي الله عنها

درسول الله صلى الله عليه وسلم په لوڼو كې زينب مشره او تر بعثت لس كاله وړاندې زيږيدلې وه , حضرت زينب رضى الله عنها دخپل خاله زوى ابوالعاص ته واده شوې وه ,ابو العاص چې دبدر په جنګ كې بندي شو ژمنه وركړه واخستل شوه چې زينب به مدينې ته راولي او دژمني دتر سره كولو په موخه پريښودل شو هغه خپله ژمنه پوره كړه او زينب رضى الله عنها يې له خپل ورورکنانه سره مدينې ته راواستوله په لار كې قريشو بريد ورباندې وكړاو هبار بن اسود په نيزه ووهله چې زينب رضى الله عنها په ځمكه ولويده چې دهمدې پيښې له امله يې حمل هم تاوان شو .
دابو سفيان په من    يتوب دا ج  ه پاي ته ورسيده او كنانه بالآخر زينب رضى الله عنها حضرت زيدرضى الله عنه ته چې په همدې موخه رسول الله صلى الله عليه وسلم را استولى ووپه لاره كي وسپارله اوهغه له ځانه سره مدينې ته بوتله .
ابو العاص بيا په يوه سريه كې ونيول شو ,كله چې يې مدينې ته راوست نو حضرت زينب رضى الله عنها ورته پناه وركړه ,بيا مكې ته ولاړ خپل حسابونه يې خلاص كړل ,اسلام يې ومانه او بيرته مدينې ته راغى او دزينب رضى الله عنها نكاح بيا ورسره نوي شوه .

حضرت زينب دهجرت په اتم كال وفات شوه حضرت سودې حضرت ام سلمې او حضرت ام ايمن رضى الله عنهن ورته غسل وركړ
,ددواړو نړيو سردار رسول الله صلى الله عليه وسلم يې دجنازې لمونځ اداكړ,او حضرت ابوالعاص رضى الله عنه قبر ته ورښكته كړه
,
حضرت زينب رضى الله عنها يو زوي علي او يوه لور امامه درلوده
,علي په ماشومتوب كي وفات شو خو په بل روايت په يرموك كي شهيد شو .له امامه سره رسول الله صلى الله عليه وسلم خورا مينه درلوده آن تردې چې په لمانځه كي به يې په اوږو سپروله
,دحضرت فاطمې رضى الله عنها تر وفات وروسته امامه حضرت علي رضى الله عنه ته په نكاح شوه , چې دحضرت علي رضى الله عنه له شهادته وروسته بيا امامه حضرت مغيره رضى الله عنه ته په نكاح شوه . په يوه روايت دامامه يو كوچنى ديحيي په نوم و خو بل روايت بيا وايي چې امامه اولادونه نه درلودل امامه دمغيره رضى الله عنه كره وفات شوه .
انا لله وانا اليه راجعون .

## حضرت رقيه رضى الله عنها

حضرت رقيه رضى الله عنها هم تر بعثت له مخه زيږيدلې وه
,لومړى نكاح يې دابو لهب له زوى عتبه سره شوې وه , درسول الله صلى الله عليه وسلم بله لور حضرت ام كلثوم رضى الله عنها هم دابو لهب نږور وه ,خو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ددښمني له امله ابو لهب خپل دواړه زامن ددې بيبيانو طلاقولو ته اړايستل ,او همداسي وشول .
حضرت رقيه رضى الله عنها وروسته حضرت عثمان رضى الله عنه ته په نكاح شوه ,او ورسره يوځاى يې حبشې ته هجرت وكړ , بيا مكې ته راغلل او مدينې ته مهاجر شول ,حضرت رقيه رضى الله عنها دبدر دغزا په مهال ناروغه او وفات شوه,ددې دناروغي له امله حضرت عثمان رضى الله عنه دبدر په غزا كي او دبدر دغزا له كبله رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې بي بي په جنازه كي ون ونه كړاي شواي .
دحضرت رقيي رضى الله عنها په حبشه كي يو ماشوم زيږيدلى وو

چې عبدالله نوميده او په شپږ کلنۍ کي وفات شو . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا .

## حضرت ام کلثوم رضی اللّه عنها

حضرت ام کلثوم رضی اللّه عنها دحضرت رقيي رضی اللّه عنها تر وفات وروسته دهجرت په دؤيم کال حضرت عثمان رضی اللّه عنه ته په نکاح شوه ,شپږ کاله وروسته دهجرت په نهم کال دشعبان په مياشت کي وفات شوه ,دجنازې لمونځ يې دپالونکي تن محبوب حضرت رسول اکرم صلی اللّه عليه وسلم ادا کړ ,حضرت علي رضی اللّه عنه ,حضرت فضل بن عباس رضی اللّه عنه او اسامه رضی اللّه عنه قبر ته ښکته کړه .
انا للّه وانا اليه راجعون .

## دجنتي و سرداره حضرت فاطمة الزهرا رضی اللّه عنها

حضرت فاطمة الزهر رضی اللّه عنها تربعثت وړاندي زيږيدلي او دهجرت په دوهم کال حضرت علي رضی اللّه عنه ته ورواده شوه ,دحضرت فاطمې رضی اللّه عنها لپاره حضرت علي رضی اللّه عنه خپله زغره په 480 درهمه خرڅه کړه او هغه پيسې يې درسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم حضورته راوړې رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم حضرت بلال رضی اللّه عنه ته امر وکړ تر خوشبويي راوړي بيا نکاح سره وتړله شوه .
دواده په ورځ رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم حضرت فاطمې رضی اللّه عنها ته يو کټ ,يوه بستره ,يوڅادر ,دوه ميچني او يو مشك ورکړل . تر واده وروسته حضرت علي رضی اللّه عنه او حضرت فاطمة الزهرا رضی اللّه عنها له نبوي حرم څخه دباندې په يوه ګوښه کورکې اوسيدل .

دحضرت فاطمې رضی الله عنها پنځه ماشومان شوي : حسن ,حسين ,محسن ,ام كلثوم او زينب ,محسن په وړوكتوب كي وفات شو .
دجنتي و نومورې سرداره دنهه ويشتو كلونو په عمر دهجرت په يوولسم كال دروژې په مياشت كې درسول الله صلى الله عليه وسلم تر وفات شپږ مياشتي وروسته وفات شوه .دحضرت فاطمې رضى الله عنها دوفات خبر رسول الله صلى الله عليه وسلم دخپل وفات په مهال داسي وركړی وو ((په ما پسي به ته ژرراشې)) .
انالله وانا اليه راجعون .

## ابراهيم

درسول الله صلى الله عليه وسلم وروستی زوی ابراهيم دی دهجرت په اتم كال د ذی الحجې په مياشت كې زيږيدلی ,حضرت ماريه قبطيه رضی الله عنها به په عاليه نومې ځای كې اوسيدله ابراهيم هم هلته زيږيدلی خلكو به وروسته هغه ځای د ( ابراهيم مشربه) بلله .
په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دابراهيم زيری ابو رافع وكړ,په زيري كې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته يو مريي وركړ .رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوومه ورځ دابراهيم عقيقه وكړه ,دده دويښتانو په كچ سپين زر يې خيرات كړل ,او نوم يې ورباندي ابراهيم كيښود .
دابراهيم لومړی دايه دحضرت ابو رافع ميرمن بي بي سلمی وه , بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم نومورې ام سيف ته وسپاره چې دمدينې په شاو خوا كي اوسيدله , رسول الله صلى الله عليه وسلم به دام سيف كورته دابراهيم دليدو لپاره ورتلو ,هغه به يې په غيږ كي نيولو مينه به يې ورسره كوله او ښكلولوبه يې .
ابراهيم دام سيف په كور كي وفات شو ,دوفات په مهال د دوو مياشتو او لسو ورځو وو ,دزنكدن په مهال يې رسول الله صلى الله عليه وسلم څنگ ته ناست وو ,دجنازې لمونځ يې رسول الله صلى الله عليه وسلم اداكړ , حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او حضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه قبر ته ښكته كړ .
اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا .

## د حضرت محمد مصطفی صَلی اللّهُ علیهِ وَسَلم ژوندلیک ( څلورمه برخه )

په دې برخه کې لوستی شئ :

دبدر وتلې غزا
د بني قینُعاع غزا
داحد وتلې غزا
دبئر معونه پیښه
درجیع پیښه
دبنو نضیرشړل
دخندق غزا
دبنو قریظه پای

دا خبره ډیره اختلافي ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په څو غزاګانو کې ون کړی وو څوك 27 څوك 20 او څوك يې بیا 18 ښيي چې مونږ له هغوی څخه لاندې یوڅو غزاګانې را اخلو :

### دبدر وتلې غزا :

دهجرت په دوهم کال درجب میاشت وه چې مسلمانانو دکفارو په یوه تجارتي قافله باندې چې دابو سفیان په مشری کې له شام نه مكې ته راروانه وه دبرید کولو تابیا ونیوله 313 تنه مجاهدين چې ٧٤ تنه پكې مهاجر او نور يې انصار وو درسول الله صلی الله علیه وسلم په ملتیا دزړو تنوکفري لښکرو چې له هغه مهال سره سم دهرډول جنګي ساز او سامان په درلودلو سره ج ې ته چمتو وو وله مدینې څخه د باندې دمقابلې لپاره راووتل .
درمضان المبارك په اوولسمه ورځ دواړه لښکرې سره مخامخ شوې, خو ترجنګ په مخته شپه کې باران وشو, دمسلمانانو د لورې, ښګلنه ځمکه کلکه اودمشرکانو د لورې ځمکه خ ې شوه ,په همدې شپه صحابۀ کرام بې غمه ویده شول, خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ټوله شپه له الله تعالی سره په راز او نیاز کې رڼه تیره کړه , دقریشو لښکر ته ارام ورپه برخه نه شو ,سهار دومره زړه

نازړه وو چې دمسلمانانو لښکر ورته په سترګو ډير ښکاريده ,ج ه
پيل شوه ډير ژر دقريشو مشران ووژل شول ,او لښکري يې زړه
ماتي او تيښته پرې ه شوه , دقريشو له لورې اويا تنه چې ډيرى
يې مشران وو ووژل شول او همدومره بنديان شول ,له مسلمانانو
څخه څوار لس تنه شهيدان شول چې شپږ تنه پکې مهاجر او اته
تنه انصار وو,پدې ډول دا خونړۍ ج ه دمسلمانانو په بري سره پاى
ته ورسيدله .

## د بني قينُعاع غزا :

څنګه چې دمدينې منورې ډيرى اوسيدونكي يهودان ووپه دوى كې
بني قينقاع ,بني نضير او بني قريضه غ ې كورنۍ وې , د بني قينقاع
دكورنۍ خلكو زرګري كوله ,او په نورو يهودانو كې دوى زړه ور او
جنګيالي وو ,له دې كبله لومړى دوى دج ې داعلان جرأت وكړ, او
دپيغمبر صلى الله عليه وسلم له لورې ورسره شوى تړون يې
مات كړ , دبدر دجنګ په شپو كې نومړې كورنۍ خپله كينه ښكاره
كړه ,او بې يې جوړ كړ ,ورسره داپيښه هم وشوه چې يوه
مسلمانه ميرمنه ديهودو ه ته ورغله , هغوى د دې ميرمنې بې
پتي وكړه ,يو مسلمان چې هلته ولاړو هغه يهودي يې وواژه , او
يهودو بيا هغه مسلمان شهيد كړ .
كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر شو نو ورغى او
يهودانو ته يې وفرمايل :
اى له خدايه وويريږئ داسې ونه شي لكه دبدر په خلكو چې
وشول او په تاسې عذاب راښكته شي . يهودانو په ځواب كې ورته
وويل : مونږ قريش نه يو ,كه له مونږ سره مو شخړه پيښه شوه
نو مونږ به تاسو ته وښيو چې جنګ څه ته وايي ؟ كله چې ديهودو
له لورې تړون مات شو , رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دې
ته اړشو چې له دوى سره جنګ وكړي .

يهودان يې کلابند کړ او دا کلابندي تر پنځلسو ورځو اوږده شوه , وروسته په دې راضي شول چې هره پريکړه رسول الله صلی الله عليه وسلم وکړي مونږ يې منو ,عبدالله بن ابي چې د دوی سوګندي وو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل چې دوی دې جلاوطنه شي ,هماغه وو چې دايهود چې اووه سوه تنه وو او دريو سوو تنو پکې زغرې اغوستې وې دهجرت په دوهم کال د(وړوکي اختر) په مياشت کې دشام اړوندې سيمې (اذرعات) ته وشړل شول .

## داحد وتلې غزا :

دبدر په غزا کې چې کله قريشو ماتې وخوړله او ډيری مشران يې دجنګ په ډګر کې ووژل شول ,نو دوی هم دکسات اخستلو لپاره هلې ځلې پيل کړې ,هغه تجارتي کاروان چې دابو سفيان په مشری له شام څخه راغلی وو ,ټوله ه يې دجنګ په تياري خرڅه کړه .
حضرت عباس رضی الله عنه چې مسلمان شوی وو,خولا هم په مکه کې اوسيده ، ديو ليك له لارې رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې لښکر له ځرنګوالي نه خبر کړ ,رسول الله صلی اله عليه وسلم هم دحال احوال معلومولو لپاره څوك واستول ,هغوی خبر راوړچې قريش احد ته نژدې رارسيدلي دي . احد دمدينې شمال لورې ته يو نيم ميل لرې پروت د يو غره نوم دی .
له ډيری صحابۀ کرامو سره تر مشورې کولو وروسته رسول ا للّه صلی الله عليه وسلم دهجرت په دريم کال دشوال په مياشت کې دجمعې په مبارکه ورځ له يوزر تنه نبوي لښکرسره له مدينې نه دباندې ووت ,خو دمنافقينو مشر عبدالله بن ابی ابن سلول له خپلو دريو سوو ملګرو سره بيرته راستون شو ,نو له دې امله رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم سره اووه سوه تنه پاتې شول ,چې په هغوی يوا ي سلو تنو زغرې درلودې .
رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم داحد غره تر څنګ لښکر دا شان برابر کړ چې شايي غره ته شوه ,اودلښکر صفونه (مقدمه , ميمنه ,ميسره ,اوخلفيه ) يې تيار کړل او قومندانان يې معلوم کړل .
رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم پنځوس تنه دحضرت عبدا للّه بن

جبير رضى الله عنه په مشرئ دغره دهغه كنډَو دساتلو لپاره وګمارل چيرې چې دشا له لورې دقريشو دبريد ويره وه ,او ورته وېې فرمايل : كه په مونږ هرڅه كيدل خو چې تاسې هغه ځاى پرې نږدئ ,جنګ په پيل كې ځان ته ځانته وو ,خو وروسته صفونه سره شول ,دقريشو بيرغ وړونكي په يو بل پسې ووژل شول , حضرت علي او حضرت ابو دجانه رضى الله عنهما هم ددښمن په لښكر كې لارې جوړې كړې , څو د دښمن پ ې سستې او تيښتې ته اړشول ,خو مسلمانانو په غنيمت ټولولو لاس پورې كړ واو دغره دكنډو ساتونكو چې همدا حال وليد ,نو پوه شول چې مسلمانان بريالي شوي او دغنيمت غونډولو مهال دى ,كه څه هم حضرت عبدالله بن جبير رضى الله عنه ورته دنه تللو ډير وويل ,خوهغوى لاړل يوا ې حضرت عبدالله بن زبيررضى الله عنه له لسو تنو سره پاتې شو ,كله چې خالد بن وليد (چې هغه مهال لا نه وو مسلمان شوى اودكفارو له لورې راجنګيده ) هغه كنډو خالي وليد نو له نورو سپرو سره په هماغه كنډو راواوښت , كوم كسان چې هلته پاتې وو هغوى شهيدان كړل ,او دجنګ ډګرته يې ځان راورساوه ,قريش يې بيرته سره راټول او نوى جنګ پيل شو , مسلمانانو چې دغنيمت غونډولو له امله وسلې له ځانه لرې كړې وې , دومره وارخطا شو چې خپل او پردي يې نه پيژندل ,په همدې وارخطايئ كې څو تنه مسلمانان پخپل منځ كې شهيدان شول .
جنګ دومره تيز شو چې آن درسول الله صلى الله عليه وسلم په ښكلي رخسار هم دوينو لارې جوړې شوې ,او داغږ پورته شو چې محمد صلى الله عليه وسلم شهيد شو ,خو څو تنه وو چې له خپل ځانونو يې درسول الله صلى الله عليه وسلم دساتلو ډال جوړكړى وو .
په نوموړي جنګ كې اويا تنه مسلمانان شهيدان شول ,چې ډير يې انصار وو ,درسول الله صلى الله عليه وسلم تره حضرت حمزه رضى لله عنه هم دشهيدانو دكاروان ملګرى وو , چې هندې (دابو سفيان ميرمنې )دحضرت حمزه رضى الله عنه نس څيرې او ځيګر يې را وايست او خوله يې پرې ولګوله . (علماوو ليكلي چې كله هندې ايمان راوړ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې ماته مه رامخامخ كيږه ,هغه ووچي هندې به چيري رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدنو لاره به يې ورڅخه چپوله ) دجنګ په پاى

كې رسول الله صلى الله عليه وسلم څو تنه وټاكل ترڅو ددښمن
ځارنه وكړي , پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دوهمه
ورځ آن تر اتو ميلو پورې ددښمن څارنه وكړه . همدا جنګ وو چې
دمسلمانانو دبې وزلي توب او تش لاسي له امله ,دحضرت مصعب
بن عمير رضى الله عنه شهيد وجود نيم په كفن او نيم په وښو پټ
كړاى شو .
كه څه هم داحد په غزاكې مسلمانانو ته دسر ډير تاوان ورسيده ,خو
ماتې يې خوړلې نه ده ,ځكه له جنګ پلوه دماتي دوه شرطونه
دي : ١) داچې دهغه هيواد خاوره ونيسي ٢) دا چې دهغه هيواد پوځ
ورك كړي .
خو مشركانو نه مدينه ونيوله او نه يې دمسلمانانو پوځ ورك كړ
,ځكه په هماغې ورځ داسلامي لښكر اوياتنه صحابۀ كرام رضى الله
عنهم ددښمن دځارنې لپاره روان شول .

## دبئر معونه پيښه :

دهجرت په څلورم كال دصفر په مياشت كې ,دكلاب دكورنۍ مشر
ابو براء رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى او عرض يې
وكړچې : له ما سره يوځو تنه وليږه ترڅو زما قبيلې ته داسلام
بلنه وركړي . رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : زه
دنجد له لورې په ويره كې يم ,ابو براء وويل :دهغه ځاى دخلكو ضامن
زه يم .
درسول الله صلى الله عليه وسلم ويره ځكه وه چې عامر بن طفيل
دنجد دسيمې مشر رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ويلي ووچې
: زما او ستا تر منځ درې خبرې دي , لومړى داچې : دكليو او بانډو
مشري به ستا وي ,او دښارونو مشربه زه يم ,دوهم داچې ترخپل
ځان وروسته ما خليفه كړه ,كه دانه منل كيږي نودريمه خبره
داچې ټول غطفان به راټول او سخت بريد به درباندې وكړي .
كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له ابو براء سره اويا تنه
صحابۀ كرام واستول ,او هغوى بئر معونه نومې ځاى ته ورسيدل , نو
دحضرت حرام بن ملحان رضى الله عنه په لاس يې درسول الله
صلى الله عليه وسلم ليك همدې عامر ته واستاوه عامر حرام رضى
الله عنه شهيد كړاو له شاو خوا كورنيو نه يې يولښكر تيار كړ
,عامر له همدې لښكر سره دبئر معونه په لورې راروان شو ,صحابۀ

كرام رضى الله عنهم دحضرت حرام رضى الله عنه دراتلو په هيله وو خو داچې څنډ يې وكړ نو ورپسې روان شول ,په لاره دعامر له لښكر سره مخامخ شول ,دعامر لښكر دوى ټول ونيول او هلته يې شهيدان كړل ,خو يو تن عمرو اميه ترې ژوندى پاتي شو ,او هغه هم داسې چې عامرورته وويل چې زما مور ديوه مريي دازادولو نذر منلى وو نو زه تا ازادوم .
رسول الله صلى الله عليه وسلم چې له نومړې پي ې خبرشو نو ډير وغميده ,او يوه مياشت يې دسهار په لمانځه كې دې تيرى كوونكو ته ښيراوې كولې .
**درجيع پيښه :**

دبير معونه له پي ې سره نژدې درجيع پيښه هم يوه زړه دردوونكې پيښه ده .
دعضل او قاره دكورنيو څو تنه راغلل او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې عرض وكړ چې له موږ سره يوڅو تنه دتبليغ لپاره وليږه ,رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره دحضرت عاصم بن ثابت په مشرى لس تنه صحابۀ كرام واستول ,كله چې دا مبلغين رجيع نومې ځاى ته ورسيدل نو دې كسانو ورسره ي وكړه ,اودبنو لحيان كورنۍ يې ولمسوله ترڅو دا مبلغين شهيدان كړي ,هغه وو چې دبنو لحيانو دوه سوه كسان ورپسې راووتل خو دا مبلغين ورڅخه يوې غونډۍ ته وختل ,كفارو ورته وويل راښكته شئ موږ تاسې ته پناه دركوو ,حضرت عاصم رضى الله عنه ورته وفرمايل :موږ له كفارو څخه پناه نه غواړو ج ه ونښته او دامبارك مبلغين شهيدان شول ,يوا ې دوه تنه حضرت خُبيب او حضرت زيد رضى الله عنهما دكفارو په خبره تيروتل ,او له غونډۍ څخه راښكته شول ,دښمنانو دهغوى مړې وروتړلې او مكې ته يې بوتلل
څنګه چې حضرت خُبيب رضى الله عنه داحد په جنګ كې حارث نومې كافر وژلى وو ، نو نومړى هم دحارث زامنو واخيست ,څو يې دخپل پلار په كسات كې ووژني ,كله چې دې كسانو حضرت خُبيب رضى الله عنه دوژلو په موخه دحرم له پولو څخه دباندې بوتلو ,نو حضرت خُبيب رضى الله عنه ورته وفرمايل : اجازه راكړئ چې دوه ركعته لمونځ وكړم , وژونكو ورته اجازه وركړه ,حضرت خُبيب رضى الله عنه دوه ركعته لمونځ اداكړ اوورته وويل : زما زړه غوښتل چې

ډير لمونځ وكړم خو ستاسې به داخيال شي چې له مرګه ويريږي (ځكه نو په همدې دوو ركعتونو بسنه كوم ) .
له همدې مهال راپديخوا چې څوك وژل كيږي نو تر وژل كيدو مخه دوه ركعته لمونځ اداكول ورباندي سنت بلل شوي ترڅو دحضرت خبيب رضی الله عنه داياد په امت محمدي كې ديوه ښندونكي دښندوينې د علامې په توګه تر قيامته پورې جاري پاتې شي .
دشهادت نه لږ وړاندې حضرت خُبيب رضی الله عنه داشعر ووايه :
لِستُ أُبالِي حِينَ أُقتَلُ مُسلِمًا ............. على آَيِ شِقٍ كانَ لِلهِ مَصرِعِ .
وذالِك في ذاتِ الاِلَه ِوَاِن يَشأَ............ يُبارك على اوصالِ شِلوٍ مُمزَعِ .
ژباړه :كله چې زه دپالونكي تن په لاره كې وژل كيږم نو بيا هيڅ پروا نلرم چې په كوم اړخ به ووژلی شم .او كه خدای وغواړي نوزما په غوڅو اندامونواو بندونو به بركت وكړي .
حضرت زيد رضی الله عنه بيا صفوان بن اميه دوژلو لپاره واخيست ,دهغه دوژلو پر مهال دقريشو ډيرو مشرانو دهغه ننداره كوله . كله چې وژونكي توره راواخيسته ,,ابو سفيان وويل :ريښتيا ووايه ! كه پدې مهال كې ستا په ځای محمد (صلی الله عليه وسلم) وژل كېدل شوی وای نو داكاربه تا خپله نيكمرغي نه وه لې ؟
حضرت زيد رضی الله عنه ورته وويل : زما دې په خدای جل جلاله لوړه وي ,چې زه پدې خبره هم سر وركولو ته تيار يم چې دمحمد صلی الله عليه وسلم په پښه كې اغزی ولاړ شي , په همدې مهال كې دصفوان مريي (نسطاس ) دهغه سر وواهه .
انا لله وانا اليه راجعون .
**دبنو نضيرشړل :**

له يهودانو سره داتړون هم شوی وو چې كه دكومې وينې بيه دمدينې په هستوګنو راتله نو هره كورنۍ به خپله ونډه وركوي ,كله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوو تنو دوينې دبيې دوركولو لپاره بنو نضير ته ورغی , نو كه څه هم په ښكاره ډول خو يهودانو دا غوښتنه ومنله ,خو په پټه يې يو سړی چې عمرو بن حجاش نوميده ,دخونې دوهم پوړته خيژولی وو ,او ورته ويلي وو چې محمد (صلی الله عليه وسلم )دهمدې خونې سيوري ته

ولاړدی ,له هغه بامه ډبره وربانديٍ راواچوه ترڅو ووژل شي ,خو رسو
ل الله صلی الله علیه وسلم ته دا دسیسه کشف شوه اوپه
سملاسي ډول مدینې ته ولاړ .
همداراز بنو نضیر له قریشو سره دمسلمانانو په خلاف په یوه بله
دسیسه کې هم   ون درلود چې دمسلمانانو پټ ځایونه یې ورته
ښودلي وو ,سربیره پر دې دیهودو همدې قبیلې رسول الله صلی الله
علیه وسلم ته یو پیغام هم رااستولی وو چې له دیرشو کسانو سره
راشه او مونږ به هم دیرش تنه پوهان درولو ,که هغوی ستا خبرې
ومنلې نو مونږبه هم اسلام راوړو .رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته دا څرګنده وه چې دوی دبغاوت هوډ کړی ,نو په ځواب کي
یې ورته وویل : تر څو تاسې له ما سره یو بیل تړون نه وي کړی
زه په تاسې باور نلرم .بنو نضیر دتړون له کولو په شا شول ,سره
له دې چې د دوی دیني ورونو (بني قریظه )همداسې تړون کړی
وو .
بل ځل یې بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیغام راولیږه
چې ته هم درې کسان راوله مونږ به هم درې کسان پوهان درولو نو
که هغوی ستا خبر ومنله نو مونږ به هم اسلام راوړو ,رسول الله
صلی الله علیه وسلم دهغوی دا خبره ومنله ,خو په لاره چا خبر
ورکړ چې یهود توري په لاس درته ولاړاوستا دوژلو اراده لري .
دبنو نضیرودډې شرارتونو لامل داوو چې یو خو ددوي کلاوي ډیري
کلکي وې او له جنګ څخه نه ویریدل , اوبل دوي ته دمنافقینو مشر
عبدالله بن ابی    ر وهلی وو چې دچا خبره مه منئ که ج   ه
ونښته نو بني قریضه به هم ستاسي ملاتړ وکړي او زه به هم
له دوو زرو کسانو سره ستاسې ملاتړ ته درودانګم .خو کله چې
اسلامي لښکر درسول الله صلی الله علیه وسلم په امر د دوی
کلاګانې محاصره کړې نو نه یوا  ې داچې بنو قریضه یې ملاتړ ونه
کړ بلکه دمنافقینو رئیس عبدالله هم په ښکاره ډول له مسلمانانو
سره دج   ې کولو ځواك نه درلود .
محاصره پنځلس ور  ې اوږده شوه ,په پای کې بنو نضیر پدې راضي
شول چې هرڅومره سامان په اوښانو وړای شي هغه دې یوسي او
له مدینې څخه دې جلا وطن شي .
دیهودو دنوموړې کورنۍ ډیر کسان خیبر ته ولاړل ,او په هغوی کې
سلام بن ابي الحقیق ,کنانه بن الربیع ,او حیي بن اخطب غوندي

يهودي سرداران هم وو ,چې په خيبر كې يې دومره درناوی وشو ,چې دخيبريهودانو هم دوی دخپلو مشرانو په توګه ومنل .
دهجرت په څلورم كال دربيع الاول په مياشت كې بنو نضير وشړل شول ,او مسلمانانو ته له دوی څخه پنځوس زغرې ,پنځوس خولونه ,او درې سوه څلويښت توري په غنيمت پاتې شوې . والحمد لله على ذلك .

## دخندق غزا :

كله چې بني نضير له مدينې نه ووتل ,نو داسلام پر خلاف يې په يو لوی سازش لاس پورې كړ , لومړی د دې يهودو مشران مكې ته ولاړل او قريشو ته يې وويل : كه تاسو راسره مرسته وكړئ نو مونږ به دمسلمانانو جرړې وباسو ,قريشو همدا ورځ غوښتله .
دهمدې ليدنو كتنو پايله دا شوه چې قريشو خپل او يهودو خپل سوګندي سره راټول كړل ,څو تر 24000 ډير پوځ په مدينه باندې دبريد كولو لپاره چمتو شو .
رسول الله صلى الله عليه وسلم چې خبر شو نو له صحابۀ كرامو سره يې مشوره وكړه ,دحضرت سلمان فارسي رضى الله عنه په رايه دخندق په كندلو پريكړه وشوه ,دمدينې ښار دريو لورو ته كلاګانې او ونې درلودې خو شمال لورې خلاص وو,همدې لورې ته دخندق په كندلو پيل وشو .رسول الله صلى الله عليه وسلم دخندق نقشه پخپله وښودله ,په اوسني حساب دا خندق شپږ كلو متره اوږد او پنځه شرعي ګزونه كږی وو.
دهجرت په پنځم كال د ذي قعدې د مياشتې په اتمه نيټه دخندق كار پيل شو ,رسول الله صلى الله عليه وسلم هرو لسو تنو ته لس ګزه ځمكه دكندلو لپاره معلومه كړه ,او پخپله هم په كار لګيا وو ,صحابه و به دكار په ترځ كې دا ترانه ويله :
نحن الذين بايعو ا محمدا ..................على الجهاد ما بقينا ابدا .

مونږ هغه کسان يوچي له محمد صلى الله عليه وسلم سره مو تر خپله ژونده پورې دجهاد کولو بيعت كړى .
رسول الله صلى الله عليه وسلم به ورته په ځواب کي دادعابدرګه كوله :
اللهم لا اجر الا اجر الآخرة ................فاغفر الانصار والمهاجرة .
اجرخو دآخيرت غوره دى نو اى خدايه ته ښنه وكړه انصارو اومهاجرو ته .
كه څه هم دوي به دلوږي له كبله په نسونو پوري كاڼي تړلي وو , خو بياهم دخندق کار په شلو ورځو کي د دريو زرو تنوپه مبارکو لاسونو پاي ته ورسيده .
مسلماني ميرمنې او ماشومان دښار خوندي كلاګانو ته بوتلل شول ,او هلته دبنو قريظه ديهودو دبريد له ويرې دوه سوه تنه دحضرت سلمه بن الاكوع رضى الله عنه تر مشرى لاندې سنګري شول ,نور لښكر د(سلع ) نومې غونډۍ په لمن كې مورچې ووهلې .
دمسلمانانو په لښكر كې ځينې منافقين هم وو ,چې په يوه او بله بهانه به يې اجازه غوښتله ,او دلښكر له صفونو څخه به وتل ,اودنورو يهودو په لمسون بنو قريظه هم دمسلمانانو په مقابل كې ودريدل .
كله چې دابو سفيان په مشرى دكفاروسله وال لښكر په خورا جوش او جذبه مدينې ته راورسيدل نو له خندق سره مخامخ هك پك پاتې شول . دخندق خوا ته يې خيمې ووهلې ,او له هغه ځايه به يې غشي ويشتل ,خو دوه ځلې سخته نښته هم وشوه ,يو ورځ داسې چې دكفارو مشرانو ديوې يوې ور ې دج ې لپاره رونه ووهل ,او هره ورځ به يې بې شميره غشي دمسلمانانو په لورې ويشتل .
دوهم ځل دتيري كوونكي لښكر وتلي اتلان له خندق څخه راپورې وتل ,او دننه لورته په ج ه لګيا شول ,په دوى كې عمرو بن عبدود ,نوفل او ضرار هم وو ,خو د دوى په مقابل كې حضرت علي او حضرت عمر رضى الله عنهما په خورا ميړانه وجنګيدل ,عبدود او نوفل ووژل شول او ضرار په تيښته بريالى شو . دا ورځ خورا سخته ورځ وه ,مشركينو له هر لورې غشي ويشتل ,په همدې ورځ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پرله پسې څلور لمونځونه قضا شول ,ځكه دغشو دباران له كبله هيچا هم له خپل سنګر

ځخه سر نه شواى راپورته كولاى , ځومره چې ج ه اوږديدله
هغومره كفار وارخطا كيدل ,ځكه د ځلرويشت زره پوځ توښه اوخرڅ
مخ په تماميدو وو .
دپالونكي تن په قدرت يوه شپه داسې باران او ږلۍ ووريده چې
دمشركينو دخيمو مراندې يې غوځ ,او دخوراك اك لوښي يې په
بل لورې ورته واړول ,په همدې حال كې مشركين په دې ويره كې وو
چې مسلمانان بريد ونه كړي ,نو په سبا يې دماتي او بيرته تلو
نغاره وغږوله ,پدې توګه له يوې مياشتې محاصر ې ځخه وروسته
مدينه له كلابندۍ ځخه خلاصه شوه ,د دې تيري كوونكي لښكر په
وارخطايۍ كې دنعيم ابن مسعود اشجعي كردار هم دستاينې
وړدى .
ابن مسعود يو غطفاني رئيس وو ,نوموړى مسلمان شوى وو خو
يهود او قريش ورباندې خبر نه وو,او ده ورسره اړيكې درلودې , ابن
مسعود بنو قريظه يهودوته چې لا په مدينه كې وو وويل : تاسې او
مسلمانان ديوه ښار اوسيدونكي ياست ,كه قريش او نور يهود
ماتې وخوري نو ستاسي ژوند سختيږي ,ددې لپاره چې قريش تل
در سره مرسته ولري له هغوى ځخه ځو تنه يرغمل كينوئ ,بيا
قريشو ته ورغى او ورته وېې ويل : بنو قريظه په تاسو باور نلري
هغوى وايي كه تاسو له مونږ سره په ژمنه ولاړياست نو ځو تنه
راسره ګرو (يرغمل) واوسئ .
قريشو چې داخبره واوريدله په بنو قريظه پې باوره شول ,او
دازموينې لپاره يې ترې وغوښتل ځو د شنبې په ورځ په مسلمانانو
بريد وكړي ,يهودو مخالفت وكړ چې پدې ځه سره د دوې تر منځ بې
باوري لاهم ډيره او دقريشو ملا سسته شوه .
دخندق دجنګ دوهم نوم احزاب هم دى ,ځكه پدې جنګ كې دعربو
او يهودو ډيرو كورنيواو ډلو ټپلو ون كړى وو,پدې جنګ كې شپږ
تنه مسلمانان شهيدان او اته تنه مشركين ووژل شول ,خو د(آوس
)دكورنۍ مشر او دانصارو يو غښتلى مټ حضرت سعد بن معاذرضى
الله عنه پدې جنګ كې ټپي اوځوور ې وروسته دهمدې ټپ له امله
په شهادت ورسيده . انالله وانا اليه راجعون .

## دبنو قريظه پاى :

له یهودو سره چې کوم تړون شوی وو نو بنو قینقاع هغه دبدر او بنو نضیر داحدپه ورځ مات کړ, له همدې کبله دادواړه یهودي کورنۍ له مدینې څخه جلا وطنې شوې .بنو قریظه دخندق غزا په پیل کې دمسلمانانو لورې ونیو ,دجنګ په جریان کې یوه یهودي ځان هغه کلاوو ته ورساوه چیرې چې مسلمانې میرمنې او ماشومان اوسیدل ,هلته حضرت حسان رضی الله عنه پهره کوله ,خو داچې په جنګ کې دیوې پي ې له کبله یې ونه شوای کولای هغه یهودي ووژني ,حضرت صفیي رضی الله عنها دحضرت حمزه رضی الله عنه خور بي بي هغه یهودی وواژه ,توره یې ترې په غنیمت کې واخیستله اوسر یې دکلا شاته وغور ځاوه , یهود پوه شول چې دلته هم وسله وال کسان شته ځکه یې نو برید ونکړ .
دجنګ په مهال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنو قریظه یهودوته حضرت سعدبن معاذ او حضرت سعد بن عباده رضی الله عنهما ورواستول ,څو هغوی ته لیکل شوی تړون ورياد کړي ,خو هغوی وویل محمد څوك دی او تړون یې څه شی دی ؟
ځکه نو دې یهودو دخندق په جنګ کې عملا برخه واخیسته ,او دماتي پر مهال یې هم داسلام لوی دښمن ,دبنونضیر دجلاوطن شوو یهودو مشر حیي بن اخطب له ځانه سره راوست ,حيي بن اخطب دجلاوطنۍ په مهال ژمنه کړې وه چې دمسلمانانو په خلاف به دچا مرسته نه کوي ,خو په نوموړي جنګ کې یې نه یوا ې داچې دقریشو مرسته یې وکړه بلکه دمسلمانانو حلیف (سوګندي) یهود بني قریظه یې هم جنګ ته ولمسولو .
دخندق دج ې په پای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې وسلې مه ږدئ او په بنو قریظه برید وکړئ ,دلښکر په وړاندې حضرت علي رضی لله عنه دهغوی کلاګانو ته ور سید,که بنو قریظه بیا هم د روغې جوړې لاره نیولې وای شوني وه چې امان یې موندلی وای ,خو دوی دجنګ تیاري نیولې وه ,او دحضرت علي رضی الله له رسیدو سره سم یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ستغې سپورې وویلې .
درسول الله صلی الله علیه وسلم په امر یې کلاګاني محاصره شوې ,او دا محاصره تر یوې میاشتې اوږده شوه ,په پای کې یهودو وویل هره پریکړه چې سعد بن معاذ رضی الله عنه وکړي مونږ یې منو ,(هغه مهال حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه زخمي وو

شهيد شوی لا نه وو , ) يهودو فکر کاوه چې له سعد رضی اللّه عنه سره د هغوی د نيکيو له امله چې ښايي په يوه مهال به يې ورسره کړې وي له کبله ممکن حضرت سعد د دوی په ه يوه پريکړه وکړي خو داسې ونه شول بلکه : حضرت سعد بن معاذرضی اللّه عنه پريکړه وکړه چې دبنو قريظه يهودو ج ه مار کسان دې ووژل شي , ي او ماشومان دې بنديان او مال دې غنيمت ونيول شي . داپريکړه حضرت معاذ رضی اللّه عنه دتورات له حکم سره سمه وکړه ,رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم ته به چې په هغه مهال کومه خبره ښکاره نه وه راغلې نو دتورات احکام يې عملي کول ځکه يې نو پدې پريکړې سره حضرت سعدرضی اللّه عنه ته وويل چې تاېوه اسماني پريکړه وکړه . د بنو قريظه يهودو دا پريکړه ومنله او ځانونه يې دوژلو ځای ته حاضر کړل , ددې پريکړې په کولو سره دبنو قريظه مسأله پای ته ورسيده .

د حضرت محمد مصطفی صَلی اللّهُ عليهِ وَسَلَم ژوندليک ( پينځمه برخه )

په دې برخه کې لوستی شئ :

درسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم ناروغي ،
وفات
تجهيز او تکفين

## ناروغي :

دچهار شنبې په ورځ چې دصفر دمياشتې اتلسمه يا نولسمه نيټه وه ,رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم جنت البقيع ته چې دعاومسلمانانو هديره وه ولاړ ,کله چې له هغه ځايه راستون شونو ناروغه شو,دحضرت ميمونې رضی اللّه عنها کره يې شپه تيره کړه ,د دوشنبې په ورځ درسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم ناروغي زياته شوه , او دنورو بيبيانو په خوښه دحضرت عايشې رضی اللّه عنها کره ولاړ ,ترڅو پورې چې يې دګرځيدو ځواک درلود نو مسجد ته به يې تشريف وړلو ,وروستنی لمونځ دماښام لمونځ وو چې مسلمانانو په رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم پسې ادا کړ. دامهال درسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم سر خوږيده او تړلی يې وو, همدا شپه

ماخوستن وار په وار بې هوښي وربانديږ راتله ,او امر يې وكړ چې حضرت ابو بكر صديق رضى الله عنه دې لمونځ وركړي .
بله ورځ ماسپښين درسول لله صلى الله عليه وسلم ناروغي يوڅه كمه وه ,غسل يې وكړ ,د حضرت عباس او حضرت علي رضى الله عنهماپه اوږو باندې يې ځان تكيه كړاوجُومات ته ولاړ ,هلته دابو بكر رضى الله عنه په امامت لمونځ ولاړوو ,چې دهغه ترڅنګ كيناست او خلكو ته يې لمونځ وركړ ,وروسته يې يوه لنډه خطبه وويله ,دادرسول الله صلى الله عليه وسلم وروستۍ خطبه وه چې پكې يې وفرمايل :
(خداى جل جلاله يوه بنده ته واك وركړى چې ددُنياوي نعمتونو اوياهم دخداى له لورې دأُخروي نعمتونو له منځ نه يوخوښ كړي.
بنده هغه شيان دځان لپاره غوره كړل چې له آخرت سره اړيكې لري.
حضرت ابوبكر صديق رضى الله عنه وژړل ځكه پوه شو چې هغه بنده پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم دى ,رسول الله صلى الله عليه وسلم دابوبكر صديق رضى الله عنه په اړه وفرمايل ترټولو زيات چې زه دچا له شتمني او ملګرتيا څخه خوښ يم هغه ابوبكر دى .)
همداراز يې په خطبه كې دانصارو په هكله وفرمايل : (اى خلكو زه دانصارو په هكله تاسې ته وصيت كوم ,عام مسلمانان به ډيريږي خو انصاربه دومره لږ شي لكه په خوړو كې مالګه ,انصارو خپله دنده تر سره كړه ,اوس په تاسو دهغوى دپور پرې كول فرض دي ,انصار زما په وجود كي دمعدې په څير دي ,هرڅوك چې ستاسو د و او تاوان واكدار (خليفه) وي نو دهغه دا دنده ده چې كه هرڅوك په انصارو كې ښه وي ومني ,او كه له چا څخه كومه تيروتنه شوي وي نو هغه دې وبښي . )
رسول الله صلى الله عليه وسلم ترناروغتيا يوه ورځ وړاندې حضرت اسامه رضى الله ته امر كړى وو چې دروميانو ج ې ته لاړشي ,خو دهغه له قوماندې څخه دنوموړي دځواني له كبله شكايت وكړ
,رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اړه پخپله خطبه كې وويل :
(كه داسامه په سردارۍ تاسې نيوكه لرئ نو دده دپلار په سردارئ هم تاسې نيوكې كولې زما دې په سپيڅلي خداى لوړه وي چې اسامه د دې دندې حقدار او مستحق دى , هغه په ما ډير ګران دى

,او تر دې وروسته به هم په ما ګران وي .) رسول الله صلی الله علیه وسلم دخطبې په ترڅ کي داهم وفرمایل : (دحلال او حرام نسبت دې ماته نه کيږي ,ما هغه څه حلال کړي چې هغه خدای جل جلاله پخپل کتاب کې حلال کړي ,او ما هغه څه حرام کړي چې خدای جل جلاله حرام کړي دي).
رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل چې : (ای دخدای دپیغمبر لورې فاطمې ! او ای دخدای دپیغمبر عمې صفيې! دخدای او آخرت لپاره څه عمل وکړئ زه تاسې له خدای جل جلاله څخه نشم خلاصولای ). د نوموړې خطبې له ویلو وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته دحضرت عایشې رضی الله عنها کورته تشریف یووړ , دناروغتیا په نا کرارۍ کې نبوي ذات ته ورپه یادشول چې څه اشرفۍ يې له بي بي عایشې سره اي ې وې هغه يې راوبلله اوورته ويې فرمایل : (عایشې! هغه اشرفۍ چیرې دي ؟ محمد(صلی الله علیه وسلم ) به له خدایه جل جلاله سره پداسې حال کې ووینې چې دی په هغه بد ګمانه وي , لاړه شه او هغه دخدای جل جلاله په لاره کې خیرات کړه . )

ددوشنبې په سهار چې درسول الله صلی اله علیه وسلم دناروغتیا دیارلسمه شپه وه چې رسول لله صلی الله علیه وسلم دخپل کور له وره (دروازې) نه پرده پورته کړه ,ويې لیدل چې خلك په لمانځه ولاړدي ,ډیر خوښ اوموسکی شو ,حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه فکر وکړ چې رسول الله صلی اله علیه وسلم لمانځه ادا کولو ته راځي ځکه يې نووغوښتل چې شاته شي ,خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په اشاره پوه کړ چې لمونځ ورکړي ,رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرته حجرې ته ننوت ,دا هغه وروستنۍ لیدنه وه چې صحابۀ کرامو له نبوي سپيڅلي څيرې نه وکړه .

دوفات کال :
رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کال دروژې په میاشت کې لس ور ې په اعتکاف کي تیرولې ,خو په ورستنۍ روژه کې شل ور ې په اعتکاف کې کیناست ,رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کال دروژې په میاشت کې یوځل دحضرت جبرایل علیه السلام له خولې نه قرآنکریم اوریده ,خو د ورستني کال په روژه کې يې دوه

ځلې واوريده .
دوروستني حج او په ځينو نورو خطبو كې رسول الله صلى الله عليه وسلم ځيني داسې خبرې كړې وې چې هغه دمړينې يادونه وه ,لكه چې دحج په وروستۍ خطبه كې يې وفرمايل : (زه ددې خبرې هيله نلرم چې په راتلونكي كال كې له تاسې سره وليدلاى شم ,ښايي تر دې وروسته حج ونه كړاى شم . )
دحج دفريضې داداكولو ترراتګ وروسته رسو ل الله صلى الله عليه وسلم داحد دشهيدانو هديرې ته ورغى ,او هلته يې هم داسې خطبه وويله چې ګواكې څوك له مړواو ژوندو سره په مخه ښه كوي ,رسول الله صلى الله عليه وسلم دصفر دمياشتې په اولسمه يا اتلسمه نيټه حضرت اسامه بن زيد رضى الله عنه ته وفرمايل : (ته له لښكر سره لاړشه او له هغو شريرو خلكو څخه دې دپلار كسات واخله . ) دموته په وتلي جنګ كې حضرت زيد رضى الله عنه شهيد كړاى شوى وو ,ځكه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت اسامه بن زيد رضى الله عنه ته هلته دبيا تللو امر وكړ .

## وفات:

څومره چې ورځ پخيدله په رسول الله صلى الله عليه وسلم بې هوښي ډيريدله ,درسول الله صلى الله عليه وسلم دزړه ټكړې حضرت بي بي فاطمې رضى الله عنها چې دا ناكراري وليدله نوپه ژړا يې وويل هاى زما دپلارنا كراري .رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : (ستا پلار به تر دې ورسته نا كراره نه شي . )
دناروغۍ په نا كرارى كې به هم درسول الله صلى الله عليه وسلم له مباركې خولې نه داتور ي اوريدل كيدل : (مع الذين انعم الله عليهم ) او يا دا (اللهم بالرفيق الاعلى ) , تر غرمې وروسته درسول لله صلى الله عليه وسلم په مباركه سينه كې غړ پيداشو ,او پدې مهال يې شونډې ښوريدلې او داتوري ورڅخه اوريدل كيدل (الصلاة وما ملكت ايمانكم ) يعنې دلمانځه او مريبونو خيال ساتئ ,په وروستنۍ شيبه كې رسول الله صلى الله عليه وسلم لاس پورته كړ ,په ګوته يې اشاره وكړه او درې ځلې يې وويل : (بالرفيق

الاعلى ,بالرفيق الاعلى ,بالرفيق الاعلى ) په همدې وينا كې يې لاسونه ځوړند شول ,ستر ې يې دبام په لورې نيمګښه پاتې شوې او سپېڅلى روح يې قدسي عالم ته والوته .
انا للّه وانا اليه راجعون .

## تجهيز او تكفين:

دسې شنبې ورځ د تجهيز او تكفين ورځ وه حضرت علي رضى اللّه عنه ,فضل بن عباس رضى اللّه عنه ,او حضرت اسامه بن زيد رضى اللّه عنه غسل وركړ ,په همدې مهال كې حضرت عباس رضى اللّه عنه هم حاضر وو ,او يو انصاري حضرت اوس بن خولې رضى اللّه عنه اوبه راوړې ,دكفن لپاره دسپېنسيو درې سپينې ټوې غوره شوې .
تر غسل او كفن وروسته دا پوښتنه راپيدا شوه چې رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم به په كوم ځاى كې خاوروته سپارل كيږي ؟
حضرت ابو بكر صديق رضى اللّه عنه وويل :انبيا چې چيرې وفات شي هلته خاورو ته سپارل كيږي ,په همدې خبره اتفاق راغى او په كوم ځاى كې چې رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم وفات شوى وو په هماغه ځاى كې دقبر كنلو كار پيل شو , داځاى دحضرت عايشې رضى اللّه عمها داوسيدلو خونه وه ,دقبر په سرهم خبره راپورته شوه ,ځكه حضرت ابو عبيده بن جراح رضى اللّه عه به دمكې دخلكو په څير بغلي قبرونه كيندل ,او حضرت ابو طلحه رضى اللّه عنه به بيا دمدينې دخلكو په دود لحدي قبرونه ايستل ,نو دا خبره كيدله چې اوس څوك او څه ډول قبر وكندي ؟
حضرت عمر رضى اللّه وويل : په همدې دواړو اصحابو پسې څوك واستوئ ,هر يو چې لومړى راغى هغه دې دخپلې خو ې قبر وكندي ,په دواړو صحابه و پسې سړي واستول شول ,حضرت ابو عبيده بن جراح رضى اللّه عنه په كور كې نه وو ,حضرت ابو طلحه رضى اللّه راغى او لحدي قبر يې جوړكړ , څنګه چې دقبر ځمكه نمجنه وه نو هغه بستر يې پكې وغوړاوه په كوم كې چې رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم وفات شوى وو .
كله چې جنازه تياره شوه نو خلك دلمانځه لپاره رامات شول ,خونې ته وار په واررننوتل او لمونځونه يې كول ,دالمونځونه پرته دچا له

امامت نه ترسره شول ,لومړی نارینه و بیا      ینه و او وروسې
کوچنیانو دجنازې لمونځونه ادا کړل .درسول اللّه صلی اللّه علیه
وسلم مبارك جسد حضرت علي مرتضی رضی اللّه عنه ,حضرت
فضل بن عباس رضی اللّه عنه ,حضرت اسامه بن زید رضی اللّه عنه
,او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی اللّه عنه قبر ته ښکته کړ .
انا للّه وانا الیه راجعون .

## حضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه

نوم يې عبداللّه ، کنیت يې ابوبکر , صدیق او عتیق يې لقبونه وو .
دپلار نوم يې عثمان کنیت يې ابو قحافه او دمور نوم يې سلمی
او ام الخیر يې کنیت وو .
دپلار دلورې د نسب پوره کړی يې داده : عبداللّه بن عثمان بن عامر
بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مُره بن کعب بن لوئ
القرشي التمیمي .
او دمور دلورې دنسب کړی يې په دا ډول ده : ام الخیر بنت صخر بن
عامر بن کعب بن سعد بن تیم بن مُره ( طبقات ابن سعد قسم اول
دریم ټوك119 مخ) پدې ډول دحضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه
نسب دمور او پلار دواړو له لورې په شپږم پشت درسول اللّه صلی
اللّه علیه وسلم له نسب سره یو ځای کیږي .

## دحضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه پلار

دحضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه پلار ابو قحافه عثمان بن عامر
دمکې له شرفاوو څخه او ډیر عمر سړی وو , په پیل کې هغه هم
داسلام غورځنگ هسې یوه ټوکه بلله له همدې کبله حضرت
عبداللّه وايي کله چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم هجرت وکړ
نو زه درسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په لټه کې دحضرت ابوبکر
صدیق رضي اللّه عنه تر کوره راورسیدم هلته ابو قحافه موجود وو
هغه حضرت علي رضي اللّه عنه پدې لاره دتیریدو په مهال لیدلی وو
نو ډیر دغصې په حالت کې يې وویل چې دې هلکانو زما زوی هم
خراب کړ ( الاصابه 4 ټوك 221مخ )
ابو قحافه دمکې تر فتحې پورې پخپل پلارني مذهب ولاړوو دمکې تر
فتحې وروسته یوه ورځ رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم په مسجد
کې تشریف درلود چې ابوبکر له خپل پلار سره یو ځای درسول اللّه

صلی اللّه علیه وسلم لیدو ته راغی ,کله چې درسول اللّه سترګي پرې ولګیدې نو ویې فرمایل ای ابوبکره تا (دلته په راوستو سره)خپل پلار ولې وځوراوه زه به ورغلی وم ,کله چې رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم دابو قحافه سپین ږیرتوب ولید نو دابو قحافه په حالت یې رحم راغی او خپل دشفقت لاس یې دهغه په سینه ورتیر کړ او دښو او مبارکو تورو تلقین یې ورته وکړ او په اسلام یې مشرف کړ هغه درسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم له رحلته وروسته دابوبکر رضي اللّه دخلافت زمانه هم ولیده اوپه 14هجري کال کې د97 کلونو په عمر مړشو . (اصابه 4 ټوك 222 مخ )

## دحضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه مور

حضرت ام الخیر سلمی بنت صخر رضي اللّه عنها له هغو کسانو نه شمیر ل کیږي چا چې په پیل پیل کې داسلام حق مذهب قبول کړ,تردې له مخې یوا ي 39 کسانو اسلام راوړی وو او هغوی هم په جار دخپل اسلام ښکارندوینه نشوا کولای اونه یې هم داسلام بلنه په ښکاره ډول کولای شوا. حضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه چې یو ځل له رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم څخه اجازه وغوښته او مشرکین یې په جار سره اسلام ته راوبلل نو مشرکینو هغه سخت وواهه خو په دې ربړ سربیره حضرت ابو بکر صدیق رضي اللّه عنه دخپل کور غړو ته داسلام بلنه ورکوله هماغه وو کله چې سهار شو نو له خپلې مور سره دارقم بن ارقم رضي اللّه عنه کورته درسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم لیدو ته راغی او عرض یې وکړ چې ای دخدای رسوله ! زما مو ر حاضره ده هغې ته دحقې لارې لارښوونه وکړئ : نو رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم هغې ته داسلام راوړو بلنه ورکړه او هغه په اسلام باندې مشرفه شوه ( الاصابه 8 ټوك 229 مخ ) حضرت ام الخیر هم دډیر عمر ه وه دحضرت ابو بکر صدیق رضي اللّه تر خلافته پورې ژوندۍ وه لیکن له خپل خاوند نه مخکې مړه شویده . ( الاصابه له طبراني )نه .

## دحضرت ابوبکر صدیق رضي اللّه عنه حلیه

حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ډير دنريو اندامونو تن وو ,څهره
يې لغړوښي او غنم رنګی وو , تندی يې لوړ او پراخ وو , ستر ي
يې ور ننوتلي وې او په ويښتانو به يې دنكريزو خضاب لګاوه .

## دحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه مېرمنې او اولادونه

حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په مختلفو مهالونو كې له يوه نه
ډير ودونه كړي وو .له كومو ميرمنو نه چې يې اولادونه شوي
دهغوی نومونه دادي :
قتيله يا قتله : له دې څخه يې حضرت عبدالله او حضرت اسماء
رضي الله عنهماپيدا شو .
ام رمان : دادام المؤمنين حضرت عايشې او حضرت عبدالرحمن
رضي الله عنهما مور وه .
اسما : له دې څخه محمد بن ابي بكر پيدا شو .
حبيبيه بنت خارجيه : دحضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه ترټولو
كشره لور( ام كلثوم )له همدې نه پيدا شوې وه .

## دحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ژوند

حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه له اسلام څخه تر مخه يو بډای
سوداګر وو چې په ديانت ,ريښتنولی او امانت ساتلو كې يې وتلی
نوم درلود . د ملكې اوسيدونكو به دهغه دعلم , تجربې او ښو كړو
وړو له امله دهغه ډير عزت كاوه .دجاهليت په زمانه كې به د خون
بها مال دحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په كور كې يوځاي كيده
كه به دبل چا كره يوځای شو نو قريشو به هغه مال نه مانه
.(كنزالعمال 6 ټوك 313 مخ ) دجاهليت په زمانه كې هم ابوبكر
صديق رضي الله عنه له شرابو نه همداسې بد وړل لكه داسلام په
زمانه كې , اوويل به يې چې دشراب ل دانسان عزت ته زيان
رسوي .
له حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه سره له ډيره وړوكوالي
درسول الله صلى الله عليه وسلم مينه وه او درسول الله صلى الله
عليه وسلم دملګرو په ټولی كې وو. دسوداګری په ډيرو
سفرونو كې به هم له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره

ملګرى وو (پورتنۍ حواله) كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نبي وټاكل شو نو هغه په پټه خپل ټول مخلصين او درازملګري پدې حقيقت خبر كړل نو حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه ترټولو لومړى سړى وو چې د رسو لله صلى الله عليه وسلم سره دبيعت كولو لپاره يې لاس ور اوږد كړ .كه څه هم ځينو مؤرخينو ليكلي چې تر ټولو مخكې حضرت خديجې رضي الله عنهااسلام راوړ ځينو بيا حضرت علي رضي الله عنه ليكلى ځينو حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه ليكلى ليكن له ډيرو اثارو او دلايلوڅخه دا په ډاګه كيږي چې تر ټولو مخكې حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه اسلام راوړى , او ددې نورو اثارو او احاديثو تطبيق څيړونكو څه پدې ډول كړى چې : په و كې ام المؤمنين حضرت خديجې رضي الله عنها لومړى اسلام راوړى , په ماشومانو كې حضرت علي رضي الله عنه ,په غلامانو كې حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه او په ازادو او بالغو سړو كې بيا حضرت ابو بكر رضي الله عنه تر ټولو ړومبى په اسلام باندې مشرف شوى دى . فتح الباري 7ټوك 130 مخ .

دحضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه له مسلمانيدو سره سم داسلام دپر مخ تللو لړۍ پيل شوه او دحضرت عثمان بن عفان , حضرت زبير بن عوام,حضرت عبدالرحمن بن عوف , حضرت سعد بن ابي وقاص , حضرت طلحه بن عبدالله ,حضرت عثمان بن مظعون , حضرت ابو عبيده ,حضرت ابو سلمه ,حضرت خالد بن سعيد بن العاص رضي الله عنهم په څيرجليل القدره خلك هم دحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه دزېارايستلو په پايله كي مسلمانان شول .

حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په خپل كور كې دلمانځه كولو لپاره يو ځان ى مسجد جوړ كړى وو چې ډير په عاجزۍ او خشوع وخضوع سره به يې لمونځ پكې ادا كاوو , صديق رضي الله عنه ډير زړه نرمى انسان وو ,كله چې به يې دقرآن كريم تلاوت كاوو نو له سترګو څخه به يې اوښكې بهيدلې آن تردې چې خلكو به دهغه ژړااوريدله او ټول به رايو ځاى شول او له دې اثر درلودونكي منظر څخه به ډير متاثر شول . بخاري باب هجرة النبي واصحابه .

حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه به دخداى په لاره كې ډير مالونه وركول په سنه 9 هجري كې رسول الله صلى الله عليه وسلم

دغزوۀ تبوك دتيارۍ لپاره دخدای جل جلاله په لاره كې دمالونو دوركولو اعلان وكړ نو حضرت عمر رضي الله عنه دخپل كور نيمايي مال دخدای په لار كې دوركولو په بڼه درسول الله صلى الله عليه وسلم حضورته راوړ او دا ګمان يې وكړ چې كيدای شي نن زه په نيك كار كې حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه ته ماتې وركړم خو حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه دخپل كور ټول مال راوړ او درسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته يې كيښود , رسول الله صلى الله عليه وسلم له حضرت عمر څخه وپوښتل چې تا خپل اولادته څه پريښودل؟ نو حضرت عمر وفرمايل چې نيمايي مال مې اولاد ته پريښود او نيمايي مې دخدای جل جلاله په لار كې د صدقه كولو په نيت ستاسې حضورته راوړ , بيا يې له ابو بكر صديق رضي الله عنه څخه وپوښتل چې تا خپل اولادته څه پريښودل؟ هغه ورته وفرمايل : چې ای دخدای رسوله ! ما چې څه په كور كې درلودل نو هغه مې ټول ستاسې حضورته راوړل , اوويي فرمايل چې كور مې الله تعالى او دهغه رسول ته پريښود (هغه به له خپله درباره زما روزي راكوي ) دحضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه دا وينا درسول الله صلى الله عليه وسلم ډيره خوښه شوه او دحضرت ابو بكر صديق ستاينه يې وكړه ,نو حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې ما له ځان سره وويل چې ريښتيا هم په نيكو كارونو كي تر حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه وړاندې كيدل اسان كار نه دی . ترمذي مناقب ابو بكر رضي الله عنه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې تر ټولولومړی دمسجد دجوړولو لپاره دكومې ځمكې انتخاب كړی وو هغه ديتيمانو وه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم نه غوښتل چې ديتيمانو په ځمكه مسجد جوړ كړي خو حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه دهغې ځمكي قيمت هغو يتيمانو ته وركړ او درسول ا لله صلى الله عليه وسلم له راېې سره سم په هماغې ځمكې مسجد جوړ شو . فتح الباري 7ټوك 193 مخ .

## دحضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه ځان تياوې

1-حضرت ابو بكررضي الله عنه يو له هغو لسو كسانو څخه وو چې په نړۍ كې ورته د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې دجنتي

توب زيرى ورکړل شوى وو .
2- داسلام دلومړي خليفه په توګه وټاکل شو .
3- په بالغو نارينه و کې ترټولو لومړى په اسلام باندې مشرف شو.
4- درسول الله صلى الله عليه وسلم دخسرتوب وياړ ورپه برخه شو
.
5- په غار حرا کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دملګرتوب له کبله ورته د(يارغار) دلقب اخيستلو شرف حاصل شو
.

## په لاندې غزاوو کې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فعاله ونډه اخيستې وه

1- غزوۀبدر 2-غزوۀ احد 3-غزوۀ بني مصطلق 4-واقعۀ حديبيه 5- امارت حج .

## دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه وفات

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې نړۍ څخه دآخيرت په لورې سفر وکړنو دمرتدينو او په دروغو دنبوت ددعوې کوونکو يو سيلاب راپورته شو له بله پلوه ځينو مسلمانانو دزکوۀ له ورکړې څخه هم ډډه وکړه نو دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه دخلافت ډيره برخه له هغوى سره په مقابله تيره شوه ايله څه باندې دوه کاله وتلي وو او له داخلي فتنو څخه خلاصون او دفتوحاتو پيل شوى وو چې حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه دمرګ په مرض اخته شو .
حضرت عايشه صديقه رضي الله عنها وايي چې په يوه سړه ورځ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ولامبل او له هغه وروسته يې سخته توده تبه پيل شوه چې نژدې 15 ور ې يې دوام درلود دمرض په مهال يې وپوښتل چې نن کومه ورځ ده ؟ ورته وويل شو چې نن دو شنبه ده , بيا يې وپوښتل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په کومه ورځ وفات شو ؟ ورته وويل شو چې ددوشنبې په ورځ نو ويې وفرمايل چې زه هم هيله لرم چې په همدې نن شپه دخپل اجل بلونکي ته ښه راغلاست ووايم هماغه وو چې دسه شنبې په شپه د63 کالو په عمر په 13 هجري کال دجمادى الاولى په پاى کې د تل پاتي نړۍ په لورې مسافر شو . انا لله وانا اليه راجعون .

له وصيت سره سم يې د شپې په مهال دكفن او دفن تياري
وشوه , خپلې ميرمنې حضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها
ورته غسل وركړ , حضرت عمر فاروق رضي الله عنه يې دجنازې
لمونځ اداكړاو حضرت عثمان ,حضرت طلحه ,حضرت عبدالرحمن بن
ابي بكر , او حضرت عمر فاروق رضوان الله تعالى عليهم اجمعين قبر
ته ورټيټ كړ او پدې طريقه سره درسول الله صلى الله عليه
وسلم دژوندوني ملګرى دتلپاتې ملګرتيا په بڼه درسول الله
صلى الله عليه وسلم په خوا كې خاورو ته وسپارل شو او پدې څه
كولوسره له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دنيوي مينې په
پايله كې حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه داخروي ملګرتوب
لپاره له رسول الله صلى الله علي وسلم سره يوځاى جنت ته
ننووت .
رضي الله عنهم ورضوا عنه .

## حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

نوم يې عمر كنيت يې ابو حفص او لقب يې فاروق وو , دپلار نوم
يې خطاب او دمور نوم يې ختمه وو .دنسب پوره كړى يې داسې
ده :
عمر بن الخطاب بن نفيل بن عبدالفرى بن رباح بن عبدالله بن قرط
بن رزاح بن عدي بن كعب بن لوئ بن فهر بن مسالك .
دعدي دوهم ورور مرة وو چې درسول الله صلى الله عليه وسلم له
نيكونو نه شميرل كيږي ,له همدې امله دحضرت عمر رضي الله
عنه نسب په اتم پشت له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره
يږي .
حضرت عمر رضي الله عنه له نبوي هجرت څخه څلويښت كاله
دمخه دې نړى ته ستر ې پرانيستې . دځوانى عمر يې په
شريفوعربوكې دوتلو زده كړولكه دنسب دزده كړي ,سپه ګري
,پهلواني ,او خطابت غوندې دشريفانه اعمالوپه كولوكې تير كړاو
پدې علومو كې يې وتلى نوم او لوړ مقام تر لاسه كړ .
له نوموړوعلومو سره سره حضرت عمر رضي الله عنه ليك لوست
هم زده كړ ,ځكه خو هم دهغه شمير له هغو كسانو نه كيږي
كوم چې آن دجاهليت په مهال يې ليك لوست زده كړى وو.
هغه به دجاهليت په زمانه كې هم دخپل فكري تدبر ,سالم عقل او

لوړې حوصلې درلودو له امله په ټولو مهمو مسائلو کي دقريشو دسفير او دريم ي په توګه ټاکل کيده او دخپل خداى ورکړي معامله فهمۍ او تجربې له امله به يې ډيرې لويې لويې مسئلې په خورا لږه موده کې حل او فصل کولې .
دحضرت عمر رضي الله عنه دعمر اووه ويشتم کال وو چې دعربو دجاهليت په تورو ډګرونو داسلام روڼ لمر وځليده ,او دمکې له هرې درې نه دتوحيد ازان ې خپرې شوې , د نورو مشرکينو په څير حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته هم دتوحيد دې اوازونو خوند نه ورکاوه اوتل به د داسې اوازونوله اوريدو څخه په غصه کيدو , او دې اوازونو ته به يې دکرکې په سترګه کتل , آن تردې چې دخپلې کورنۍ يوه مينځه (بسينه) يې داسلام دراوړلو له امله دسزا ورکولو په توګه دومره ووهله چې مرګ ته يې نژدې کړه .
دجاهليت په مهال دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه داسلام دښمنۍ په اړه د سيرپوهانو له لورې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه يوه وتلې کيسه ليکل شوې چې رانقلول يې اړين بولم :

" کله چې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وليدل چې اسلام ورځ په ورځ مخ په وړاندې روان دی نو فکر يې وکړ چې داسلام دورکولو لپاره دحضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم (وژل) ډير ضروري دي نو دهمدې ناوړې موخې د پوره کولو لپاره يې خپله توره تر ملا و وله او راروان شو. کله چې يې څه سفر وکړ نو په لاره کې له نعيم بن عبدالله سره مخامخ شو, هغه چې دده حالت وليدنو پوښتنه يې ځنې وکړه چې خير خو به وي ؟ حضرت عمررضي الله عنه ورته وويل چې غواړم دحضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فيصله وروکړم په همدې موخه له کوره راوتلی يم .
نعيم ورته وويل چې ته لومړی دخپل کورخبر واخله ستا خور او خاوندې دواړه مسلمانان شوي , حضرت عمرفاروق رضي الله عنه چې دا واوريدل نو راستون شو اودخپلې خور کورته په داسې حالت کې راورسيدو چې هغې دقرآنکريم تلاوت کاوه , خوکله چې يې دحضرت عمررضي الله عنه دقدمونو غږ واوريده نو پټه خوله شوه او قرآني ورقې يې پټ ځاى کيښودې .
خوحضرت عمررضي الله عنه ددې غږ اوريدلی وو نو ورڅخه ويي پوښتل چې دا اواز دڅه شي وو؟ خور يې ورته وويل دهيڅ شي

هم نه وو , حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورته وويل چې زه خبر شوی یم چې تاسې دواړه (مرتدان) شوي یاست ؟ له دې وینا سره سم حضرت عمر رضي الله عنه دخپلې خور له خاوند سره لاس او ګریوان شو کله چې یې خور خلاصي ته راغله نو هغه یې هم دومره ووهله چې آن ویني یې پرې وبهولې .
خو له دې وهلو سره نه یوا ې داچې ددې دواړو له اسلام سره په مینه کې کوم کمی رانغی بلکه خور یې ورته وویل عمره : چې څه کولای شې ویې کړه اسلام اوس زمونږ په زړه او د وینو په رګونو کې ځای نیولی چې هیڅ د وتو لار یې نشته . دخور دې تورو دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زړه کې ډیر اثر وکړ او د وروروله له احساس نه په ډکو کتلو سره یې خپلې خورته وکتل چې ویې لیدل دهغې له زخمونو نه دسرې وینې دارې وهي نو زړه یې نور هم نرم شو او خپلې خور ته یې وویل چې تاسې چې څه تلاوت کول هغه ماته هم راوښایاست هماغه وو چې خور یې فاطمې ورته دقرآنکریم اجزا په مخکې کیښودل نو دسورة الحدید دا آیت شریف (سبح لله مافي السماوات وما في الارض) لیکلی وو او له دې یوه یوه توري څخه دهغه په زړه کې دومره رعب ډیریدو چې کله د(آمنوا باالله ورسوله) آیت ته ورسید نو بې اختیاره یې چغه کړه چې (اشهدان لااله الاالله وان محمدا رسول الله) .
دا هغه مهال وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دصفا ترغره لاندې دارقم بن ارقم رضي الله عنه په کور کې تشریف درلود ,حضرت عمرفاروق رضي الله عنه چې کله هلته ورغی نو دروازه یې ور وټکوله څنګه چې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه توره په لاس کې وه نو ځینې صحابهٔ کرام ده ته دننه داجازې ورکولو په اړه متردد شول ,لیکن حضرت حمزه رضي الله عنه وویل چې راپرې یې ږدئ که هغه مخلصانه راغلی وي نو ډیره ښه او که یې نیت خراب وي نو پخپله توره به یې سر ور پرې کړم ,کله چې حضرت عمر رضي الله عنه پښه دننه کیښودله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته رامخکې شو او له لمنې نه یې ونیو او ورته ویې وفرمایل وایه عمره په کومه موخه راغلی یې ؟
حضرت عمررضي الله عنه چې دنبوت دغه له جلاله ډک غږ واوریدو نو په رپیدا شو او په ډیره عاجزۍ سره یې وویل (ایمان راوړلو ته راغلی یم) ددې تورو له اوریدو سره سم رسول الله صلی الله علیه

وسلم په بې اختياره توګه د(الله اكبر) دومره زوروره ناره وكړه چې شاوخوا ټول غرونه دهغه له اوازه ولړزيدل .
سيرة النبي 1 ټوك 209-210 مخونه داسدالغابې وابن عساكر ,او كامل ابن اثير په حواله .
همدا روايت له لږ بدلون سره دار قطني ,ابو يعلى,حاكم او بيهقي هم له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت كړى ا وهغوى دسورة حديد په ځاى دسورة طه دآياتونو ذكر كړى .

دقريشو دوو لويو لويو سردارانو ته 1- ابو جهل او2- حضرت عمررضي الله عنه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې تورو سره دعا كړيوه چې :
??اللهم اعز الاسلام باحدالرجلين اما ابن هشام واما عمر بن الخطاب ,, اى خدايه اسلام ته دقريشو له دوو سړو نه په يوه سړي سره عزت ور وبښه يا په ابن هشام (ابو جهل) يا په عمر بن الخطاب . درسول الله صلى الله عليه وسلم دهمدې دعا بركت وو چې حضرت عمر رضي الله عنه داسلام سپيڅلى دين ومانه اوزړه يې دشريعت په حقو لارښوونو سپين وځليده .

عامو مؤرخينو او سيرت پوهانو ليكلي چې دنبوة په اووم كال حضرت عمر رضي الله عنه اسلام راوړ او تردې دمه نژدې نهه ديرشو كسانو ايمان راوړى وو چې حضرت عمررضي الله عنه يې څلويښتم تن شو .
كله چې دحضرت عمررضي الله عنه داسلام راوړو خبره قريشو ته ورسيده نو هغوى ډير وځوريدل او ويل به يې چې (صبا عمر) ??عمر بې دينه شوى - نعوذباالله,, بخاري-اسلام

## دحضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه  حليه

حضرت عمر فاروق رضي الله غنم رنګى سړى وو وسر يې برابر وو نه غټ نه وړوكى ,دغامبورو غوښه يې لږ وه , ږيره يې ډيره ه بريتونه يې غټ غټ او قديې ډير لوړ وو آن تردې چې د ډيرو خلكو په منځ كي به هم له ورايه څرګنديده .

## ميرمنې او اولادونه يې

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په مختلفو مهالونو كې له يوه نه ډير ودونه كړي وو,چې تفصيل يې په لاندې توګه بيانيږي :
زينب -دعثمان بن مظعون خور په مكه كې مسلمانه او هم هلته په حق ورسيده.
قريبه بنت ميته المخزومي ?داسلام دنه منلو له امله يې طلاق وركړ.
مليكه بنت جرول-داسلام دنه منلو له امله يې طلاق وركړ.
عاتكه بنت زيد- ددې نكاح لومړی له عبدالله بن ابي بكررضي الله عنهما سره شوې وه خو وروسته بيا دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په نكاح كې راغله .
ام كلثوم -چې درسول الله صلی الله عليه وسلم لمسۍ او دفاطمې رضي الله عنها لور وه حضرت عمر فاروق له نبوي كورنۍ سره دتړاو پيداكولو په بڼه په 17 هجري كال كي د40 زره مهر په بدله په نكاح كړه .

## اولادونه يې

دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په كورنۍ كې حضرت حفصه رضي الله عنها ځكه ترټولو غوره وه چې درسول الله صلی الله عليه وسلم په زوجاتو مطهراتو كې ه وه ,له همدې كبله حضرت عمررضي الله عنه خپل كنيت هم دهغې په نامه اېښی وو .
دنارينه اولادونو نومونه يې دادي : عبدالله ,عبيدالله,عاصم ,ابوشحمه ,عبدالرحمن ,زيد,او مجير ,پدې واړو كي عبدالله ,عبيدالله او عاصم دخپل علم, فضل ,كرم او نورو ځان تياوو له كبله ډير وتلي دي .طبقات ابن سعد تذكرۀ عمر بن الخطاب رضي الله عنه .

## دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه ځان تياوې

1-حضرت عمررضي الله عنه يو له هغو لسو كسانو څخه وو چې په نړۍ كې ورته دسول الله صلی الله علي وسلم له لورې دجنت زيری وركړل شوی وو .
2-حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته درسول الله صلی الله عليه

وسلم دخسرتوب وياړ ورپه برخه شوی وو .
3-حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته په لومړي ځل داميرالمؤمنين لقب ورکړل شو .
4-حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته داسلام ددوهم خليفه وياړ ورپه برخه شو .
5-په ډيری احکامو کې دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه رايه له قرآنکريم سره موافقه وه لکه د    و دپردې مسئله او داسې نور ډير مسائل .
6- ډيری فتوحات دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کي وشول .

دحضرت عمررضي الله عنه له مسلمانيدو سره سم داسلام يوه نوې دوره پيل شوه ,تردې دمه څه لږ ډير څلويښت تنه مسلمان شوي وو نوداخو پريږده چې په ښکاره ډول چا خپل مذهبي عبادات نشو ادا کولیي بلکې چاته د خپل اسلام ښکارندوينه هم له ويرې خالي نه وه خو پداسې حالت کې يوا  ې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وو چې ټول مشرکين يې رايوځای کړل او په لوړ آواز يې هغوی ته دخپل اسلام راوړو خبرورکړ.
مشرکينو ته پدې څه خوراربړ ورسيد او غوښتل يې چې حضرت عمررضي الله عنه ته زيان ورسوي خوعاص بن وائل چې دحضرت عمررضي الله عنه ماماکيده حضرت عمر رضي الله عنه ته دپناه ورکولو بلنه ورکړه ,حضرت عمررضي الله عنه چې دمسلمانانو مظلوميت پخپلو سترګو ليدلی وو نو دعاص ابن وائل دپناه ورکولو بلنه يې په سختۍ سره رد کړه اوله مشرکينو سره يې دمخامخ مقابلې کولو لارغوره وبلله تردې چې دمسلمانانو له يوه لښکر سره يې په کعبه شريفه کې لمونځ ادا کړدالومړی ځل وو چې حق په ښکاره ډول په باطل باندې غالب شو او دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه ددې کړنې له امله هغه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې دفاروق لقب ورکړل شو . ابن سعدجزء دريم ټوك 1 193 مخ .

څنګه چې دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه په زمانه کې فتوحات پيل شوي وو نو دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې

دفتوحاتو لړۍ نوره هم اوږده شوه او دځمكې ښه ډيره برخه
داسلامي حكومت تر ولقې لاندې راغله مونږ په لنډه توګه يوا ي
دمفتوحه سيمو دنومونو په اخستلو بسنه كوو :
كه څه هم دحضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه په زمانه كي
دعراق بانفيا,كسكراو حيره سيمې دحضرت خالد بن وليد رضي الله
عنه په لاس فتحه شوې وې خو دهغه له وفاته وروسته بيرته دغې
سيمې دمسلمانانو له لاسه ووتلې خو دحضرت عمر فاروق رضي
الله عنه په زمانه كې په نورو سيمو سربيره دغه سيمې بيرته فتحه
شوې , دقادسيي خونړۍ ج ه هم دحضرت عمررضي الله عنه په
زمانه كې وشوه ,او دكسرى دكورنۍ درفش كادياني دتل لپاره
سرچپه او داسلام سپين بيرغ دتل لپاره دايران په خاوره ورپيده .
له دې سره سره مسلمانانو په بابل ,كوفي ,بهره شير , او پخپله په
نوشيرواني پلازمينه مدائن باندې هم قبضه وكړه , چې له دې
وروسته بيا ايرانيانو دجلولاء سيمه دخپل پوځي مركزپه توګه وټاكله
چې له څو مياشتو محاصرې وروسته اسلامي لښكر جلو لاء هم
فتحه كړه .
شام او دمشق هم دحضرت خالد بن وليد رضي الله عنه اوديرموك
ميدان ,حمص,لاذقيه دحضرت ابوعبيده اونورو صحابۀ كرامورضوان الله
تعالى عليهم اجمعين ترپوځي مشرۍ لاندې دحضرت عمررضي الله
عنه په زمانه كې فتحه شوي .
دبيت المقدس سپيڅلې ځمكه هم دحضرت عمر رضي الله عنه په
زمانه كې داسلامي لښكر دسرتيري مجاهد حضرت عمرو بن
العاص رضي الله عنه او حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ترپوځي
مشرۍ لاندې دمجاهدو ځواكونو تر لاس لاندې راغله .
همدارازمصر , اوورته نورې سيمې هم دحضرت عمرو بن العاص رضي
الله عنه تر مشرۍ لاندې دحضرت عمررضي الله عنه په زمانه كې
فتحه شوې .
په لاندې غزاوو كې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ون كړى وو :
دبدر وتلې غزا , داُحُد وتلې غزا , دخيبر په پيښه كې كې هم
حضرت عمررضي الله عنه ون درلود , دمكې له فتحې وروسته
دهوازن په ن‌ښته كې چې په غزوۀ حنين باندې شهرت لري هم
حضرت عمر رضي الله عنه سرلښكر وو ,په حجة الوداع كې حضرت
عمرفاروق رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره

ملګری وو ,همداراز دحضرت ابو بکر صديق رضي اللّه عنه په زمانه
كې چې څه پي ي  شوي نژدې په ټولو كې حضرت عمر فاروق رضي
اللّه عنه   ون كړی وو .

## دشهادت پيښه يې:

دمغيره بن شعبه يو فارسي غلام چې فيروز نوميده او ابو لؤلؤ يې
كنيت وو حضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه ته راغی او دخپل
آقاګيله يې ورته وكړه " چې هغه په ما خورا ډير محصول ټاكلی ,,
خو څنګه چې دابولؤلؤدا ګيله بې ځايه وه ځكه نو حضرت عمرفاروق
رضي اللّه عنه ورته وفرمايل چې ته خو كسب كوونكی سړی يې
په تا دا محصول ډير نه دی ابو لؤلؤدحضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه
پدې خبره ډير خپه او په قهر شو هماغه وو چې دسهار دلمانځه په
مهال يې په حضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه دخنجر شپږ پرله
پسې وارونه وكړل ,نو حضرت عمر رضي اللّه عنه دزخمونو
دورپيښيدو له امله ولويده او دلمانځه د اداكولو لپاره حضرت
عبدالرحمن بن عوف رضي اللّه عنه مخكې شو .
دابو لؤلؤدخنجر زخمونه ډير كاري وو ځكه نو درې شپې وروسته
حضرت عمر فاروق رضي اللّه عنه دمحرم په لومړی نيټه دهفتې
په ورځ په 24 هجري كال كې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد. او دخپل
محبوب صلی اللّه عليه وسلم په خوا كې خاورو ته وسپارل شو .
انا للّه وانا اليه راجعون

### حضرت عثمان (ذوالنورين) رضي اللّه عنه

نوم يې عثمان ,ابو عبداللّه او ابو عمر يې كنيت ,او ذوالنورين يې
لقب وو .
دپلار نوم يې عفان او دمور نوم يې اروی وو ,دپلار له لورې يې
دنسب پوره لړی داسې ده :عثمان بن عفان بن ابي العاص بن
اميه بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصی القرشي .
او د مور له لورې يې د نسب پوره لړی پدې ډول ده :اروی بنت كريز
بن ربيعه بن حبيب بن عبد شمس بن عبد مناف , پدې ډول حضرت
عثمان ذوالنورين رضي اللّه عنه دنسب په پنځمه كړی له رسول
اللّه صلی اللّه عليه وسلم سره يوځای كيږي .

دحضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه دمور مور (انا) بيضاء ام الحکيم دحضرت عبدالله بن عبدالمطلب سکه خور اودرسول الله صلی الله علیه وسلم ترور وه ,له دې پلوه حضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه دمور له لورې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د قريشي توب په خپلو ي هم تړل کيږي .
دحضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه کورنۍ دجاهليت په زمانه کي هم دعربو په منځ کې ډيره محترمه کورنۍ ل کيده ,اودخپل پت ,رياست او غزواتو له امله يې په نورو قومونو کې ځان ې بېڼه درلوده . دحضرت عثمان ذوالنورين رضي ا لله عنه نيکه اميه بن شمس د قريشو دقبيلې مشرتوب په غاړه درلود,داموي خليفه ګانو نسبت هم دې اميه بن شمس ته کيږي له همدې کبله د(امويين) په نامه باندې پيژندل کيږي .
دقريشو قومي بيرغ (عقاب) هم دهمدې کورنۍ په قبضه کي وو ,دفجار دوتلي ج ې سرلښکر حرب بن اميه او دزور اوځواك تن داسلام وتلی دښمن عقبه بن معيط,همداراز ابوسفيان بن حرب چې داسلام له راوړو مخکي يې دبدر له غزا پرته په نورو ټولوغزاګانو کي دقريشو دمشر په توګه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره مقابله کوله دهمدې (اموي) کورنۍ سترګي اوځراغونه وو .
دحضرت عثمان رضي الله عنه دعمر ځلورديرشم پسرلی په سپړيدو وو چې په مکه مکرمه کي دتوحيد زړه راښکونکي اوازونه پورته شول , دملکي رسم ورواج اودعربو دمذهبي تخيل له کبله حضرت عثمان رضي الله عنه له دې اوازونو سره نااشنا وو, خو دفطري سپيځلتيا ,ريښتينولي او ديانت درلودو له کبله حضرت عثمان رضي الله عنه حق ته درابلونکو شاځلموددې اوازونو قبلولو ته تيار وو .
داسلام لومړي خليفه حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه چې کله ايمان راوړ نو داسلام تبليغ او پر مخ بيول يې خپله ديني دنده بلله ځکه يې نو دخپلو ملګرو په کړۍ کې داسلام دتلقين او لارښوونې په کار پيل وکړ ,دجاهليت په زمانه کې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه له حضرت عثمان رضي الله عنه سره خوږه ملګرتيا وه ,او ډيری مهال به يې ډير ځان ي مجلسونه سره کول دهمدې پيژندګلوي له امله يوه ورځ حضرت عثمان رضي الله عنه دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه مجلس ته راغی او داسلام په اړه يې

خبرې اترې ورسره پيل کړې دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه خبرو په حضرت عثمان رضي الله عنه کې دومره اثر وکړ چې حضرت عثمان رضي الله عنه دنبوة دربارته په تللو سره داسلام قبلولو ته اماده شو .
دواړه ملګري درسول الله صلى الله عليه وسلم لورې ته د ورتلو په تکل کې وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی مجلس ته تشريف راوړ, کله چې درسول الله صلى الله عليه وسلم ستر ي په حضرت عثمان رضي الله عنه ولګيدې نو ورته وېې فرمايل :عثمانه :دخدای جل جلاله جنت قبول کړه ,زه ستا او دټول مخلوق د لارښوونې لپاره ټاکل شوی يم .دنبوة دژبې دې ساده اوپاکو تورو په حضرت عثمان رضي الله عمه کې دومره اغيزه وکړه چې بې اختياره يې د(اشهدان لااله الاالله واشهدان محمداعبده و رسوله) کلمه ترخوله ووته او درسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارك لاس کې يې لاس ورکړ او داسلام سوچه او حق مذهب يې قبول کړ .
دحضرت عثمان رضي الله عنه شمير له هغو کسانو څخه کيږي کومو چې آن دجاهليت په زمانه کې ليك لوست تر سره کړي وو .

## دحضرت عثمان رضي الله عنه واده

داسلام له قبلولو وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه ته هغه وياړ ور په برخه شو کوم چې ډيرو صحابهٔ کرامو ته نه وو ورپه برخه شوی , هغه داچې رسول الله صلى الله عليه وسلم ده ته خپله لور حضرت رقيه رضي الله عنها په نکاح ورکړه او دخپل ځوم توب وياړ يې حضرت عثمان رضي الله عنه ته ورپه برخه کړ .
حضرت رقيه رضي الله عنها لومړی دابو لهب د زوی عتبه په نکاح کې وه مګر داسلام له راتلو وروسته دابو لهب له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دښمني دې پوړ ته رسيدلې وه چې خپل زوی عتبه يې اړ کړ چې درسول الله صلى الله عليه وسلم پتمنې لور ته طلاق ورکړي هماغه وو چې عتبه طلاق کړه او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې له حضرت عثمان رضي الله عنه سره نکاح وتړله .

## دبدردغزا پيښه او دحضرت رقيي رضي الله عنها ناروغي

دکفر او اسلام تر ټولو لومړۍ ج ه چې د بدر په ځيره کي ښکاره شوه حضرت عثمان رضي الله عنه ديوې اتفاقي پي ې له امله چې دحضرت رقيي رضي الله عنها دناروغي په صورت کې ورپيښه شوه دبدر په غزا کې ون ونه کړ .
دحضرت عثمان رضي الله عنه ميرمنه او درسول الله صلی الله عليه وسلم دزړه ټکړه حضرت رقيه رضي الله عنها چې کله بيماره شوه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت عثمان رضي الله عنه ته وفرمايل چې ته بدر ته مه ځه , بلکې دخپلې ميرمنې د دارو درملو څه چاره وکړه ,که څه هم دبدر په غزا کې د ون نه کولو خبر اوريدل دحضرت عثمان رضي الله لپاره تر يوې لويې پي ې لږ نه وو خو درسو الله صلی الله عليه وسلم امر وو ځکه يې په سرا وسترګو منلو ته تيار شو.
رسول الله صلی الله عليه وسلم دده دلا خو لپاره ورته وفرمايل چې ته به دبدر په غزا کې په ون نه کولو سربيره هم شميرل کيږې او د بدر د غزا په ثواب او دغنيمت په مالونو کي (په دواړو کي) به تاته هرو مرو خپله برخه درکول کيږي .
خو دحضرت رقيي رضي الله عنها دا ناروغي په اصل کې دمړينې يو پيغام وو, ناروغي ورځ په ورځ مخ په زياتيدو وه تردې چې درسول الله صلی الله عليه وسلم دنه موجوديت په مهال يې څو ور ې وروسته دمرګ ملائکې ته ښه راغلاست وويل .
انا لله وانا اليه راجعون
حضرت عثمان او حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنهمادجنت د دې ملکي په جنازه او خښولو بوخت وو چې حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه چې درسول الله صلی الله عليه وسلم په اوښه سپور وو او په بدر کې يې دمسلمانانو دسوبي زيری راوړ.
حضرت عثمان رضي الله عنه دخپلې ميرمنې په مړينې ډير غمجن وو ,يوه ورځ حضرت عمررضي الله عنه ورته وفر مايل چې څه چې خدای جل جلاله ليکلي وو هغه وشو دومره غمژن کيدو ته اړتيا نه ليدل کيږي .حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وفرمايل : زه چې دخپل نصيب په محرومۍ باندې هرڅومره غم وکړم بيا هم لږ دي

,رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې دقیامت په ورځ به زما له خپلوۍ پرته ټولې خپلوۍ پای ته رسيږي , زه افسوس کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍسره زما تړاو پرې شو.
کنز العمال 6ټوك 379 مخ .
که څه هم دحضرت عثمان رضي الله عنه د خو لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته دبدر د غزا غنیمت هم یوه برخه ورکړه او هغه ته يې د بدر د ثواب د ورلو زیری هم ورکړی وو خو پدې سربیره يې خپله دوهمه لور حضرت ام كلثوم رضي الله عنها هم حضرت عثمان رضي الله عنه ته په نکاح ورکړه چې پدې سره په دوهم ځل دحضرت عثمان رضي الله عنه له نبوي کورنۍ سره تړاو راغی .
درسول الله صلی الله علیه وسلم له دوو لوڼو (حضرت رقيه رضي الله عنها او حضرت ام كلثوم رضي الله عنها) سره په پرله پسې ډول دنکاح کولو له امله حضرت عثمان رضي الله عنه ته د(ذوالنورين) (دوو رڼاوو??رقيه ,ام كلثوم,, خاوند) لقب ورکړل شوی

## دحضرت عثمان رضي الله عنه حلیه

حضرت عثمان رضي الله عنه ډیر ښکلی او ښایسته غنم رنګی سړی وو, قد يې برابر, پوزه يې لوړه او بند درلودونکې وه, مخ يې له غو ي ډك او د چیچك لږ لږ داغونه هم وربانديې وو, ږیره يې ه او لویه وه , د سر ویښتان يې ه او ډیر لوی وو چې ي يې آن تر غوږونو پورې رسیدې , دځینو روایاتو له مخې به يې په ویښتانو نکریزي هم لګولې ,غاښونه يې تك سپین , ځلیدونکي , پرله پسې او د سرو زرو په تارونو باندې ټینګ کړي وو .
ابن حنبل 1ټوك 73 مخ اومستدرك حاكم 3ټوك 96 مخ

## میرمنې او اولادونه يې

حضرت عثمان رضي الله عنه تر یوه ډیر ودونه کړي وو لومړۍ نکاح يې له حضرت رقيي رضي الله عنها سره وتړله ,او له هغې څخه يې عبدالله نامي زوی پیدا شو چې په وړوکوالي کې په حق ورسيده .

بيا يې درسول الله صلى الله عليه وسلم له دوهمې لور حضرت ام كلثوم رضي الله عنها سره نكاح وكړه هغه هم شپږ كاله وروسته په حق ورسيده او له هغې څخه يې كوم اولاد نه دى شوى .
له هغه وروسته يې له لاندې ميرمنو سره نكاح كړي وه :
فاخته بنت غزوان :له دې څخه يې هم عبدالله نامى هلك پيداشو چې هغه هم په وړوكوالي كې مړ شو .
ام عمرو بنت جندب :له دې څخه يې عمرو,خالد,ابان,عمر او مريم پيدا شوو .
فاطمه بنت وليد: دا دحضرت عثمان رضي الله عنه دزامنو وليد او سعيد مور وه .
ام ا لبنين بنت عتيه : له دې څخه يې عبد الملك نومى ماشوم پيداشو چې په وړوكوالي كي مړ شو .
رمله بنت شيبه : عايشه ,ام ابان او ام عمروله دې څخه پيداشوي وو .
نائله بنت فرافصه : دا دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت په مهال موجوده وه .
په زامنو كې يې حضرت ابان وتلى دى او دبنو اميه په زمانه كي دځان ي اعزاز تن وو.

## حضرت عثمان رضي الله عنه په لاندې غزاوو كې ون كړى وو

داحد په وتلې غزا كې حضرت عثمان رضي الله عنه ون درلود ,همدا راز دهجرت په څلورم كال كې چې دذات الرقاع غزا پيښه شوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم غزا ته ولاړ او حضرت عثمان رضي الله عنه ته په مدينه منوره كې د قايم مقام لوى وياړ ورپه برخه شو . بيا د بنو نضيرو دجلا وطنۍ او په پنځم هجري كې دغزوۀ خندق په پيښو كې هم حضرت عثمان رضي الله عنه ون كړى دى .دهجرت په شپږم كال كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دكعبې شريفې د ليدلو هوډ وكړ نوكله چې حديبيي نومې ځاى ته ورسيدل نو دوى ته خبر ورسيده چې مشركين جنګ ته تيار ناست دي خو څنګه چې درسول الله صلى الله عليه وسلم موخه دجنګ كول نه وو ځكه يې نو حضرت عثمان رضي الله عنه د مشركينو لورې ته دسولې لپاره دمسلمانانودسفيرپه توګه وروليږه

طبقات ابن سعدقسم اول 3 ټوك دتذكرۀ عثمان رضي الله عنه په.
بحث كې

## دحضرت عثمان رضي الله عنه دخلا فت په مهال فتوحات

دطرابلس دفتحې لپاره كه څه هم دهجرت په 25 كال تياري شوې وه خوخونړۍ بريد وربandې په كال 27 هجري كې دحضرت عبدالله بن زبير اوحضرت عمرو بن العاص او حضرت عبدالرحمن بن ابې بكر رضوان الله عليهم اجمعين غوندې وتلو جهادي سرلښكرو تر څان ې مشرۍ لاندې وشو .كله چې طرابلسي مشرانو وليدل چې دمسلمانانو مقابله ممكنه نه ده نوپدې ج ه كې د مجاهدينو دعمومي مشر حضرت عبدالله بن ابي السرح رضي الله عنه حضور ته راغلل او په 25لكه ديناره يې سوله وكړه . يعقوبي 2 ټوك 189 مخ .
افريقيه : كومو سيمو ته چې نن الجزائر او مراكش ويل كيږي هغه هم دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كې د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه تر مشرۍ لاندې دهجرت په 26 كال فتح شوې .
اسپين : ننۍ هسپانيه هم دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كې دحضرت عبدالله بن نافع بن عبد قيس او حضرت عبدالله بن نافع بن حسين رضي الله عنهما تر څان ې څارنې لاندې فتح شوه .
قبرص : چې نن په (سائپرس) نامه باندې يادېږي, دروم او شام بحر ته څېرمه خورا شنه او زړه راښكونكي جزيره ,اوداروپا او روم له لورې دمصر او شام دفتح كولو لپاره ددروازې بڼه لري پدې سيمه هم دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كې داميرالبحرحضرت عبدالله بن قيس حارثې رضي الله عنه او بيا دهغه له شهادته وروسته دحضرت سفيان بن عوف ازدي رضي الله عنه تر مشرۍ لاندې دلاندې شرائطو په منلو سره سوله وشوه :
1-قبرصيان به اووه زره ديناره كلنۍ خراج ادا كوي .
2-په بحري جنګونو كي به قبرصيان دمسلمانانو ددښمنانو دخو ت يا نقل وحركت خبر مسلمانانو ته وركوي .
3- مسلمانان به دقبرص دساتلو پړه په غاړه نلري .
خودهجرت په 33 كال قبرصيانو دا پريكړه ماته كړه او دمسلمانانو په مقابل كي يې درومي جهازونو مرسته وكړه ,څكه نو حضرت

امیر معاویه رضي الله عنه ددوهم ځل لپاره په قبرص برید وکړ او هغه ځمکه يې دمسلمانانو تر لاس لاندي راوسته .
دهجرت په دیرشم کال حضرت عبدالله بن عامر او حضرت سعید بن عاص رضي الله عنه په دوو ځان و لارو دخراسان او طبرستان لورې ته مخه وکړه .له سعید بن عاص رضي الله عنه سره حضرت امام حسن , حضرت امام حسین, حضرت عبدالله بن عباس, حضرت عبدالله بن عمر, حضرت عبدالله بن عمروبن العاص او حضرت عبدالله بن زبیر رضوان الله تعالی علیهم اجمعین غوندي جلیل القدره صحابهٔ کرامو ون درلود او دې کسانو دخپل پر مختګ په ترڅ کي دحضرت عبدالله بن عامر رضي الله عنه تر رسیدو مخکي جر جان ,خراسان او طبرستان فتح کړل .
عبدالله بن عامر رضي الله عنه خپله ورسپارل شوې دنده مخ پر وړاندې بوتله او دهرات ,کابل او سجستان له فتح کیدو ورسته يې دنیشاپور لورې ته مخه کړه او هلته يې اسبرائن ,ارغیان او نورې ځیرمه سیمې ونیوې نیشاپوریانو له دې ښار څخه څو میاشتې دفاع وکړه خو بالاخر اړ شول او دکال اوو لکو درهمو په ورکولو سره يې له اسلامي لښکر سره سوله وکړه .
عبدالله بن عامر رضي الله عنه له نیشاپوره وروسته حضرت عبدالله بن خازم دسَرَخِس په لورې ولیږه او پخپله يې دماوراءالنهر لورته مخه کړه دسرخس اوسیدونکو اطاعت قبول کړ او دماوراءالنهر اوسیدونکي له عبدالله بن عامر رضي الله عنه سره سولې کولو ته اماده شول حضرت عبدالله بن عامر رضي الله سوله ورسره وکړه او قسي بن الهیثم رضي الله عنه يې خپل قائم مقام وټاکلواو پخپله له سامان وړلو سره سره پلازمینې ته ستون شو . ابن اثیر 3ټوك 84 مخ .
دهجرت په 31 کال دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې خبیب بن مسلمه فهري آرمینیه فتح کړه .دهجرت په 32 کال حضرت امیر معاویه رضي الله عنه تر قسطنطنیي پورې ټولې سیمي فتح کړې .په همدې کال عبدالله بن عامر مرو,طالقان ,فاریاب او جوزجان فتح کړل .دهجرت په 33 کال حضرت امیر معاویه رضي الله عنه دروم دخاوري په حصن المرأة سیمه برید وکړ.

## دحضرت عثمان رضي الله عنه ځان   تیاوې

1- دحضرت عثمان (ذوالنورين)رضي الله عنه ترټولو لويه ځان   تيا دا وه چې درسول الله صلى الله عليه وسلم دوه لوڼ يې په پرله پسې ډول په نكاح كې راغلې وې .
2-حضرت عثمان رضي الله عنه دمسلمانانو ددريم خليفه په توګه وټاكل شو .
3-حضرت عثمان رضي الله عنه يو له هغو لسو كسانو څخه وو چې درسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې ورباندي دجنت زيرى وشو.
4-دحضرت عثمان رضي الله عنه په اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې : ??ان عثمان اول من هاجر باهله من هذه الامة ,, عثمان د دې امت تر ټولو هغه لومړى سړى دى چې له خپلې كورنۍ سره يې هجرت وكړ .اصابه 8 ټوك تذكرۂ رقيه رضي الله عنها
5-حضرت عثمان رضي الله عنه دبير رومه په نامه باندې څا دمسلمانانو لپاره له يوه يهودي څخه په دوو وارو په شل زره درهمه واخيسته او عامو مسلمانانو ته يې وقف كړه .
6-حضرت عثمان رضي الله عنه دخپل ښه ليك دليكلو له كبله درسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې دوحي دليكونكي په توګه وټاكل شو .

## دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت پيښه

كه څه هم دبصرې , كوفې او مصر فتنه اچوونكي چې په زوراو زياتۍ سره دخپلو غوښتنو دپوره كولو لپاره راغلي وو په لمړي ځل دحضرت علي رضي الله عنه په دريم   يتوب سره بيرته ستانه شول او خلكو نوره داهيله درلوده چې داسلام په چمن كې به چې له شپړو كلونو راهيسې دخزان بادونو وهلى وو اوس يو پسرلى راشي خويوه ورځ په ناڅاپي توګه دمدينې په كوڅو كې داسونو د قدمونو غږ شو صحابۂكرام وويريدل او له كورونو نه راووتل چې ويې كتل نو دا فتنه ګر بيا راغلي او د(انتقام,انتقام) چيغې وهي .
حضرت علي رضي الله عنه له دوى څخه دبيرته راتللو لامل وپوښت دوى ورته وويل چې مونږ په لاره دتلو په مهال دخلافت ددربار يو قاصد وليد چې ډير په چټكۍ سره روان وو نو ګمان مو وكړ چې

ګواکې د حضرت عثمان رضي الله له لورې به زمونږ په اړه د مصر والي ته څه احکام جاري شوي وي نو کله چې مو له دې سړي څخه تالاشي وکړه نو یو لیك مو ورڅخه راپیداکړ چې په هغه کې دمصر والي ته لارښوونه شوې وه چې هغه دې زمونږ سرونه پرې کړي ځکه نو دحضرت عثمان رضي الله عنه ددې ژمن ماتي (وعده خلافي) له کبله له هغه څخه کسات اخیستلو ته راغلي یو .

کله چې حضرت عثمان رضي الله عنه ته ددې لیك خبر ورسید نو لوړه یې وکړه چې زه له دې لیك نه هیڅ خبر نه یم او ماته ددې لیك په اړه هیڅ معلومات هم نشته , کله چې فتنه ګرو داخبره واوریده نو ویې ویل چې که څه هم دا کار به مروان کړی وي خو یو خلیفه دوخت چې دومره کمزوری شي چې هغه ته دداسي امورو په اړه هیڅ معلومات نه وي نو هغه خلیفه ددې وړ نه دی چې نوردې په خلکو حکومت وچلوي ځکه یې نو وغوښتل حضرت عثمان رضي الله عنه دي له خلافته لاس په سرشي .

حضرت عثمان رضي الله عنه چې د دوی له دې غوښتن خبر شو نو ویې فرمایل چې ترڅو په ماکې یو نفس ساه موجوده وي نو دغه دخدای جل جلاله له لورې راکړل شوی منصب به پرې نږدم اودرسول الله صلی الله علیه وسلم له وصیت سره سم به دخپل ژوند تر آخیري سل پورې صبر غوره کړم .ابن سعدتذکرۀ عثمان رضي الله عنه

دحضرت عثمان رضي الله عنه دانکار له امله باغیانو دخلافت ددربار ټینګه محاصره وکړه چې تر څلویښتو ورځو پورې یې په پرله پسې ډول دوام درلود په دې موده کې دحضرت عثمان رضي الله عنه ځای ته یو غړپ اوبه وروړل هم جرم بلل کیده .

حضرت عثمان اوحضرت ابی بن کعب رضي الله عنهما څو ځله دباغیانو دپوهولو لپاره ویناوې وکړې خو په باغیانو باندې دې ویناوو هیڅ اثر ونه کړ او حضرت عثمان رضي الله عنه یې آن دلمانځه داداکولو لپاره هم دباندې نه راپریښود .

خو کله چې باغیانو ولیدل چې دحج موسم په ختمیدو دی او د دې موسم له پای ته رسیدو سره سم به خلك بیرته مدینې ته راځي او دا مساعده موقع مو له لاسه وځي نو دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهیدولو مشورې یې سره پیل کړې , حضرت عثمان رضي الله عنه چې دا حالت ولید نو باغیانو ته یې وویل چې تاسي ما په کومه

ګناه وژنئ ؟
په اسلامي شريعت كې خو يو چاته دبل چا وژل له دريو لارو رواكيږي :لومړی داچې چا بدكاريې كړی وي نو هغه په ډبرو ويشتل كيږي ,يا كه يو څوك بل څوك په قصد او اراده ووژني نو وژونكی قصاصا وژل كيږي ,او دريم چې يو څوك مرتد شي نو هغه وژل كيږي .
ماخو نه دجاهليت په زمانه كې او نه داسلام په زمانه كې بدكاري كړې,او نه مې څوك وژلي او نه له اسلام راوړو ورسته مرتد شوی يم زه اوس هم دا شاهدي وركوم چې خدای جل جلاله يو دی او محمد صلی الله عليه وسلم دخدای رسول او بنده دی . ليكن په باغيانو يوې خبرې هم هيڅ اثر ونه كړ .مسندابن حنبل 1ټوك 62 مخ .
څنګه چې له يوه پلوه رسول الله صلی الله عليه وسلم دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت وړاندوينه كړې وه او له بله پلوه دحضرت عثمان رضي الله عنه دشهادت په اړه دباغيانو مشورې روانې وې نو دحضرت عثمان رضي الله عنه دايقين وو چې شهادت دده په برخه كيږي .رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت عثمان رضي الله عنه ته دهغه دشهادت خبر وركړی وو او پداسې حالت كې يې دصبر غوره كولو وصيت ورته كړی وو ځكه نو ذهناً حضرت عثمان رضي الله عنه دې ته تيار وو چې يوه داسې ورځ هم راتلونكې ده او د باغيانو دمحاصرې په مهال په هره لحظه كې دحضرت عثمان رضي الله عنه شهادت شونی وو ,ځكه نو دا حالات حضرت عثمان رضي الله عنه درسول الله صلی الله عليه وسلم له وصيت سره سم په پوره صبر سره زغمل .همداراز حضرت عثمان رضي الله عنه دجمعې په مباركه ورځ خوب هم ليدلی وو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له حضرت ابو بكر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما سره ناست وي او ده ته وايي چې ,,عثمانه زرراشه مونږستا دافطار په انتظار يو ,,كله چې راويښ شو نو حاضرينو ته يې خوب ووايه او خپلې ميرمنې ته يې وفرمايل چې زما دشهادت مهال راغلی او باغيان ما شهيدوي , هغې ورته وويل چې امير المؤمنينه داسې نشي كيدای, حضرت عثمان رضي الله عنه ورته وويل چې ما خوب ليدلی .
همداراز په يوه بل روايت كې راځي چې : ??رسول الله صلی الله

علیه وسلم حضرت عثمان رضي الله ته ووایي چې عثمانه :نن
جمعه له ما سره ادا کړه,,ددې خوب له لیدلو سره سم یې خپل
شل غلامان راوبلل او هغه واړه یې ازادکړل ,او قرآنکریم یې
پرانست اوپه تلاوت باندې بوخت شو .ابن سعد 3ټوك 53 مخ ,حاکم
3ټوك 99 او 103 مخونه,په مسند ابن حنبل کې یواځي لومړی او په
حاکم کي ددواړو خوبونو ذکرراغلی .
هماغه وو چې باغیانو دخپلې دې ناوړې موخې دپوره کولو په غرض
دحضرت عثمان رضي الله عنه په کور برید وکړ حضرت امام حسین
رضي الله عنه چې ددروازې په څارلو ټاکل شوی وو له لښ دفاع کولو
وروسته زخمي شو ,څلور باغیانو تر دیوال ورټوپ کړ او دبام سر ته
وختل ,په دې کسانو کې د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه کشر
زوی حضرت محمد بن ابي بکر رضي الله عنه هم   ون درلود چې له
حضرت عثمان رضي الله عنه څخه دیوې لویې دندې د ورسپارلو
غوښتنه یې کوله خو دحضرت عثمان رضي الله عنه له لورې
دنوموړې دندې دنه ورکولو له امله دباغیانو په ډله کې ور   او له
حضرت عثمان رضي الله عنه سره یې ددښمنۍ لار ونیوله .
دحضرت عثمان رضي الله عنه په کور باندې دباغیانو له لورې له
بریدکولو وروسته محمد بن ابي بکر رضي الله عنه راوړاندي شو او
حضرت عثمان رضي الله عنه یې تر ږیره ونیواوپه ډیر زور سره یې
وَجړَقَاوه ,حضرت عثمان رضي الله عنه په هغه مهال هم ورته وویل
چې وراره! که دې پلار ژوندی وای نوداڅه به دهغه نه وو خوښ شوي
,کله چې محمد بن ابي بکر رضي الله عنه دا خبره واوریده نو د شرم
ورتلو له کبله په شا شو ,د ده په شاتلو سره سم یو بل تن چې
کنانه بن بشرنومیده رامخکې شو اوپه حضرت عثمان رضي الله عنه
یې داوسپنیز سیخ یوګزار وکړ د وسپنې سیخ دحضرت عثمان
رضي الله عنه په مبارك تندي ولګیداو دبغل په لورې ولویدواو په دې
مهال یې هم د(بسم الله توکلت علی الله) توري په ژبه جاري وو
,له لویدو سره سم ورباندي دیوه بل سخت زړي (سودان ابن
حمران مرادي) له لورې یو بل ګزار وشو چې له دې ګزار سره سم
دحضرت عثمان رضي الله عنه له مبارکه بدنه له دسرو وینو فواري
پورته شوې ,په همدې حالت کې ورباندې یو بل باغي عمرو بن
الحمق په سینه مبارکه ور وختلو اودجسم په مختلفو برخو کې یې
دنیزې پرله پسې نهه وارونه وکړل ,یو بل بدبخت بیا ورباندې له بله

لورې دتوري وار وکړدحضرت عثمان رضي الله عنه وفادارې میرمن حضرت نائله رضي الله عنها چې کله دتوري ګزار ولید نو دتوري مخي ته یې دلاس په نیولو سره دحضرت عثمان رضي الله له بدن څخه دتوري دنیولو نابریالۍ هڅه وکړه چې له امله یې دحضرت نائلې رضي الله عنها درې ګوتي شهیدانې شوې او توره دحضرت عثمان رضي الله عنه په زړه کې خښه شوه ,دتوري همدې وار دتل لپاره دحضرت عثمان رضي الله عنه دژوند ډیوه مړه کړه او حضرت عثمان رضي الله عنه دجمعې په مبارکه ورځ , دژړ مازدیګري په مهال ,دروژې په حالت کې , دقرآنکریم د تلاوت په سردشهادت له لیلی سره غاړه غړۍ شو. انا لله وانا الیه راجعون .
دشهادت پر مهال حضرت عثمان رضي الله عنه دقرآنکریم له مخي دسورة البقرة دا آیت ??فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ {137} ,,ژباړه: نو ژر ده چې کافي به شي په (دفع دشر) د دوی کې تا لره الله ,او هم دی دی ښه اوریدونکی (داقوالو) ښه عالم (په احوالو) , تلاوت کاوه چې په توره ولګیده او دقرآني پاڼو دنوموړي آیت پاڼې ته په تکوسرو عثماني (رضي الله عنه) وینو درنګیدو ویاړ ورپه غاړه شو .
تر دوو ورځو پورې د حضرت عثمان ذوالنورین رضي الله عنه مړی بې ګوراو کفنه پروت وو ,په حرم رسول کې قیامت جوړوو ,دباغیانو له ویرې چا دحضرت عثمان رضي الله عنه لورې ته هم نشوای کتلای څه خو یې ښکاره خښول وو,ددوشنبې دور ې له تیریدو سره سم یو څو کسانو دسرښندنې لپاره خپل سرونه په تلي کې کیښودل او دجنازې اوخښولو همت یې وکړ,او له لامبولو پرته یې د دې مظلوم او په وینو کې لت پت شهید جنازه له کفن ورکولو پرته په خپلووینو لمدو کالیو سره پورته کړه او له کابله تر مراکشه دمسلمانانو د دي محبوب مشرجنازه یواځې اوولسو(17) کسانو اداکړه .
په مسند احمد کې یې لیکلي چې حضرت زبیر رضي الله عنه او په ابن سعد کې یې لیکلي چې حضرت جبیر بن مطعم رضي الله عنه یې دجنازې لمونځ اداکړ ,او جنت البقیع ته څیرمه په (حش کوکب) نامې سیمه کې دصبر , زغم ,بېکسۍ او مظلومۍ دغه پیکر خاورو ته وسپارل شو .چې وروسته بیا دغه سیمه هم په جنت البقیع کې ه شوه نن هم دجنت البقیع په پای کې د حضرت عثمان رضي الله

عنه مزار مبارك موجوددی .
دحضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه په دې شهادت باندې ځمکو او اسمانونو وژړل ,دبې کسۍ پدې مهال باندې ځمکنيو او اسماني کائناتو اوښکې توی کړې ,دمظلوميت پدې حالت باندې عالم امکان هم ګريوانونه لامده کړل ,دقضا او قدر کارکوونکو وويل :کومه وينې ونکې توره چې نن بې تيکي شوې هغه به تر قيامته بې تيکي وي , ا و دکومې فتنې او فساد دروازه چې نن پرانستل شوې هغه به بيا تر قيامته ونه تړل شي . رضي الله عنهم ورضوا عنه

## حضرت علي حيدر رضي الله عنه

نوم يې علي كنيت يې ابو الحسن او ابو التراب وو,حيدر (زمری) يې لقب وو, دپلار نوم يې ابو طالب او دمور نوم يې فاطمه وو , دنسب پوره لړۍ يې داده :
علي بن ابي طالب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن كلاب بن مره بن كعب بن لوئ .
څنګه چې دابو طالب واده دخپلې كا كا له لور سره شوی وو ځكه نو حضرت علي رضي الله عنه دمور او پلار دواړو له لورې هاشمي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سكه د كاكا زوی كيږي .
دهاشموكورنۍ ته چې په عربو او قريشو كې كوم عزت حاصل وو د هغې بيان ته هيڅ اړتيا نه ليدل كيږي , د كعبې شريفې چوپړ هم د همدې كورنۍ ځان تيا وه , دهمدې ځان تيا له كبله هغوی ته په ټولو عربو باندې دمذهبي مشرۍ كولو شرف حاصل وو .
دحضرت علي رضي الله عنه پلار ابو طالب دمكې له لويانو څخه وو او رسول الله صلى الله عليه وسلم د همده دشفقت په غيږكې رالوی شو , او له بعثت څخه وروسته يې دابو طالب تر ځارنې لاندې دمكې په كوڅو كې دحق بلنه پيل كړه , د كفارو له لورې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ترڅنګ ابو طالب ته هم ډول ډول تكليفونه ورسيدل ، دساري په توګه له هغه سره يې هر ډول راكړه وركړه ودروله ,په خو ,غم ,خوراك او اك كې يې ون ورسره پريښودل,لنډه داچې له هيڅ ډول ربړ و ورسولو نه يې ډډه نه كوله .
درسول الله صلى الله عليه وسلم ډيره تلوسه وه چې دابو طالب زړه دايمان په رڼا روښانه كړي او هغه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دحمايې او ځارنې په بدل كې جنت الفردوس وركړل شي,

همدالامل ووچې دمړینې په مهال په وار وار رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو طالب ته دکلمې ویلو بلنه ورکوله . خو ابو طالب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ځواب کې وویل چې : پتمنه وراره :که له ما سره دقریشو دپیغور راکولو ویره نه وای نو ما به په ډیره خو سره ستا بلنه په ځان منلې وه .سیرت ابن هشام 1 ټوك 228 مخ .

که څه هم په سیرت ابن هشام کې دحضرت عباس رضي الله عنه دا روایت هم راوړل شوی چې په هغه کې حضرت عباس رضي الله عنه ویلي چې دزنکدن په مهال دابو طالب په ژبه دحق کلمه جاري وه لیکن دا روایت خورا کمزوری دی .
که څه هم په ښکاره ډول باندې دابو طالب داسلام منلو کوم روایت نه لیدل کیږي ,مګر بیا هم درسول الله صلی الله علیه وسلم دپالنې , حمایت او درسول الله صلی الله علیه وسلم له امله دکفارو ټولو ربړونو ته دسینې ورکولو له کبله نن هم دابو طالب نوم له هغه څخه ددې څه په بدله کې دمننې په توګه د اسلامي تاریخپاڼو په زرینو کرښو کې لیکل کیږي .
دحضرت علي رضي الله عنه مور حضرت فاطمې رضي الله عنها هم دبي بي آمنې ددې سپيڅلي یتیم پالنه په ډیره مینه سره کړیوه .دمستندو روایاتو له مخې حضرت فاطمه رضي الله عنها مسلمانه شوه اودهجرت په آړکې مدینې منورې ته ولاړه او هملته په حق ورسیده .انا لله وانا الیه راجعون . دمړینې په مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته خپل کمیس دکفن په توګه وراغوست ,او دهغې په قبر کې پریووت او پدې څه کولو سره یې دهغې قبر متبرك وګرځاوه .کله چې خلکو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ددې مهرباني کولو لامل وپوښت نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې له ابو طالبه وروسته زه ددې میرمنې د ډیرو احسانونواو نیکیومنونکی او له امله یې له هغې څخه مننه کوم .اسدالغابه 5 ټوك 517 مخ .

حضرت علي رضي الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت څخه لس کاله دمخه وزیږید,له زیږیدو سره سم وروسته حضرت علي رضي الله عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم تر

ځان  ې ځارنې لاندې وو , ځکه خو هم حضرت علي رضي الله عنه له ډېر وړوکوالي څخه درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلسونو کې کیناستلو اودرسول الله صلی الله علیه وسلم ویناوې به یې دزړه په غوږونو اوریدلې .زرقاني 1 ټوك 280 مخ .

لکه څنګه چې مو وویل حضرت علي رضي الله عنه دلسو کالو وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله تعالی له لورې دنبوة په لوی مقام وټاکل شو ,څنګه چې حضرت علي رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای اوسیده ځکه یې نو داسلام دمذهبي تګلارو ننداره له ډیره نژدې نه کړې وه .
یوه ورځ حضرت علي رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها په عبادت باندې بوخت ولیدل ,ددې تاثیرکوونکي ننداري په لیدو سره یې په ډیر ماشومانه استعجاب سره وپوښتل چې تاسې دواړو څه کول ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دنبوة دلوی مقام دترلاسه کولو خبر ورکړ او دکفر اوشرك بدي یې ورته بیان , او توحید ته دراتلو بلنه یې ورکړه .
څنګه چې حضرت علي رضي الله عنه له داسي خبرو سره نااشنا وو ځکه یې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ځواب کې وویل چې زه به پدې اړه له خپل پلار ابو طالب څخه وپوښتم , خو رسول الله صلی الله علیه وسلم نه غوښتل چې وحدانیت ته درابللو داخبره دې په ناځاپي توګه په لومړي ځل عام ډګرته ووځي ځکه یې نو حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چې :ته پخپله پدې خبر ه فکر وکړه چاته دویلو اړتیا یې نه لیدل کیږي .
درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجالسو کې د  ون له کبله دحضرت علي رضي الله عنه فطرت ډیر پاك وواودتوحید په اړه فکر کولو کې دخدای جل جلاله توفیق ورسره مل شو هماغه وو چې ډیر ژر دنبوة په دربار کې حاضر شو او داسلام په سپیڅلي دین یې ایمان راوړ,او توحید ته دخلکو رابلل یې خپله دیني کړنلاره وبلله .او پدې ډول یې په ماشومانو کې تر ټولو دلومړي ایمان راوړونکي ماشوم ځان  تیا تر لاسه کړه .

## له حضرت فاطمې رضي الله عنها سره دحضرت علي رضي الله عنه واده

دهجرت په دوهم کال حضرت علي رضي الله عنه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دځومتوب وياړ ور په برخه شو ,او درسول الله صلى الله عليه وسلم له محبوب ترينې لور سيده فاطمة الزهرا رضي الله عنها سره يې نكاح وشوه .كله چې حضرت علي رضي الله عنه له فاطمة الزهرا رضي الله عنها سره دنكاح تړلو غوښتنه وكړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل چې ته دمهر اداكولو په بڼه څه شى لرې ؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل چې زه له يوه اس اويوې ذرې پرته بل هيڅ شى هم نلرم . رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې اس خو دجهاد لپاره دى ولاړشه ذره خرڅه كړه ,حضرت علي رضي الله عنه هغه ذره په حضرن عثمان رضي الله عنه په څلور سوه اتيا(480) درهمه وپلورله او هغه قيمت يې درسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته كيښود ,رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت بلال رضي الله عنه ته امر وكړ چې له بازاره عطر(خوشبو) راوړي او پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم نكاح وويله او په دواړو (خاوند او ميرمن) يې داوداسه اوبه وشيندلې او دخير او بركت دعا يې ورته وغوښته .زرقاني 2ټوك 4 مخ .

## دحضرت علي رضي الله عنه حليه

حضرت علي رضي الله عنه غنم رنِګى ,دمنځني قد, د غټو غټو سترګو ,ښايسته سپين مخ ,او دبرې پراخې سينې تن وو .بدن يې غوښين او ګيډه يې لږ دباندې لور ته راوتلې وه , د سر ويښتان يې نه وو . په يوه روايت كې راځي چې خرييل به يې , او په بل روايت كې راغلي چې له څيلمي يې دسر ويښتان وو نه . ږيره يې لويه او دومره پراخه وه چې له يوې اوږې او بلې اوږې سره به لګيدله ,دعمر په پاى كې يې ويښتان خورا سپين شوي وو او په ټول عمر يې يوا ې يو ځل خضاب (نكريزي) لګولې وې .

## ميرمنې او اولادونه يې

دجنت دسردارې حضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنها له نكاح وروسته يې له يوه نه ډېر ودونه كړي وو ,او ډېر اولادونه يې زيږيدلي وو تفصيل يې دادی :
حضرت فاطمه رضي الله عنهاچي درسول الله صلی الله عليه وسلم دزړه ټكړه وه له هغې څخه يې په هلكانو كي حضرت حسن ,حضرت حسين ,حضرت محسن رضي الله عنهم پيدا شوي وو . او په ينه اولادونو كې يې زينب كبری ,او ام كلثوم كبری رضي الله عنهما پيدا شوې وې ,محسن په كوچني توب كې مړشو .
ام البنين بنت حزام : له دې څخه يې عباس ,جعفر ,عبدالله او عثمان پيداشوي وو, چې له دوی څخه له عباس څخه پرته نور ټول له حضرت امام حسين رضي الله عنه سره په كربلا كې شهيدان شول .
ليلی بنت مسعود :له دې څخه عبيدالله او ابو بكر پيداشو,چې له يوه روايت سره سم دا دواړه هم له حضرت امام حسين رضي الله عنه سره شهيدان شول .
اسماء بنت عميس : له دې څخه يحيی او محمد اصغر پيداشو .
صهبا (ام حبيب بنت ربيعه) : دا ام ولده وه ,له دې څخه عمر اورقيه پيداشو .
امامه بنت ابي العاص : دا دحضرت زينب رضي الله عنها لور اودرسول الله صلی الله عليه وسلم لمسۍ وه له دې څخه محمد(اوسط) پيداشوي وو.
خوله بنت جعفر : محمد بن علي چې په محمد بن حنفيه باندېس شهرت لري له همدې څخه پيدا شوی وو .
ام سعيد بنت عروه :له دې څخه ام الحسن او رمله كبری پيداشوي وو .
محياة بنت امرألقيس : له دې څخه يې يوه لور پيداشوه او په وړوكتوب كې په حق ورسيده .
له دې ميرمنو پرته هم دحضرت علي رضي الله عنه نورې مينې هم وې ,چې له هغوی څخه يې لاندې ينه اولادونه شوي :
ام هانئ , ميمونه , زينب صغری , رمله صغری , ام كلثوم صغری , فاطمه , امامه , خديجه , ام الكرام , ام سلمه ,ام جعفر ,جمانه او نفيسه .
لنډه داچې دحضرت علي رضي الله عنه نژدې 17 لوڼي او 14 زامن

وو ,په دوی کې یوا ي له لاندې څلوروکسانوڅخه دنسب لړۍ روانه شوه :
حضرت امام حسن رضي الله عنه ,حضرت امام حسين رضي الله عنه , حضرت محمد بن حنفيه رضي الله عنه , او عمر رضي الله عنه .

## حضرت علي رضي الله عنه په لاندې غزاوو کې ون کړی وو

دبدر وتلې غزا ,داحد وتلې غزا ,دهجرت په 5کال کې دبنو نضيرو په جلاوطنۍ کې هم حضرت علي رضي الله عنه ون درلود,په 5 هجري کال کې دخندق په وتلې غزا کې هم دکفارو مشر عمرو بن عبدود هم دحضرت علي رضي الله په لاس دوزخ ته ولیږل شو , دخندق له پي ي وروسته بنو قريضه و دمسلمانانو په خلاف دقريشو مرسته کړې وه او له مسلمانانو سره شوی تړون يې مات کړڅکه نو له هغوی سره دج ې کولو په موخه يې حضرت علي رضي الله عنه دمسلمانانو مشر وټاکه او هغه درسول الله صلی الله عليه وسلم په امر دکفارو کلا ونيوله او دمازديګر لمونځ يې هم پکې ادا کړ .
دهجرت په 6 کال رسول الله صلی الله عليه وسلم ته څرګنده شوه چې بنو سعد دخيبر ديهودو دمرستې لپاره يوځای شوي څکه يې نو حضرت علي رضي الله عنه دسلو کسانو مجاهدينو سره دهغوی دمقابلې لپاره واستاوه اوحضرت علي رضي الله عنه دشعبان په مياشت کې په بنو سعدو بريد وکړ او له هغوی څخه يې 500 اوښان او 200 وُزې په غنيمت ونيولې .
په همدې کال رسول الله صلی الله عليه وسلم له 14000 صحابهٔ کرامو رضوان الله تعالی عليهم اجمعين سره يوځای دکعبې شريفي دزيارت کولو لپاره ولاړ, کله چې حديبيي نومې ځای ته ورسيدل نو مشرکينو ج ه کول غوښتل خو درسول الله صلی الله عليه وسلم موخه جنګ کول نه وو څکه يې حضرت عباس رضي الله عنه دسفير په توګه هلته ورواستاوه ,دلته داخبره مشهوره شوه چې حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد کړی شوی نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغه دکسات اخيستلو له کبله له صحابهٔ کرامو

ځخه بيعت واخيست پدې بيعت وركولو كې حضرت علي رضي الله عنه هم   ون درلود او دسولې پاڼه هم دحضرت علي رضي الله عنه په ګوتو وليكل شوه .
دخيبر په سيمه كې دكفارو ډيرې مضبوطې كلاوې او مركزونه موجودوو ,چې په فتح كولو يې حضرت ابوبكر صديق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما زور وواهه خو بريالي نه شول ,يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې سبا به زه دج   ې بيرغ دداسې چا په لاس وركوم چې هغه خداى جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته خورا محبوب دى كله چې سهار شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم بيرغ دحضرت علي رضي الله عنه په لاس كې وركړ هغه دسترګو د ناروغي درلوده، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلي لاړې دهغه په سترګو ورومښلې او هغه رك روغ شو او خپله ورسپارل شوې دنده يې مخ پر وړاندي بوتله تردې چې دخيبر سيمه يې فتح او دكفر او شرك اولسونه يې پو پناكړل .
دحُنين په وتلې غزا كې هم حضرت علي رضي الله عنه ډير په ميړانه له دښمن سره وجنګيده . او دهغوى مشر يې په خپل حيدري وار باندې دتل لپاره د دوزخ برغولى وګرځاوه .
دهجرت په 9كال كې چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم تبوك نومې ځاى ته دتلو هوډ وكړنو داهل بيتو دساتنې لپاره يې حضرت علي رضي الله عنه په مدينه كې پريښود .
دهجرت په لسم كال رسول الله صلى الله عليه وسلم وروستى حج وكړ,حضرت علي رضي الله عنه هم له يمن ځخه راغى او په دغه مبارك حج كې يې   ون وكړ.

## دحضرت علي رضي الله عنه ځان   تياوې

1- حضرت علي رضي الله عنه يو له هغو لسو كسانو ځخه وو چې درسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې ورته دجنت زيرى وركول شوى وو.
2-حضرت علي رضي الله عنه داسلام دڅلورم خليفه په توګه وټاكل شو .
3-حضرت علي رضي الله عنه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دځومتوب وياړ ورپه برخه شو .

4- حضرت علي رضي الله عنه ته دترټولو لومړي ايمان راوړونكي ماشوم وياړ ورپه برخه دى .

## دحضرت علي رضي الله عنه دشهادت پيښه

دهجرت په 40 كال دخوارجو دباطلې ټولى له لورې د كورنيو ج و او دهغوى دلاملونودجاج اخيستلو په اړه دحج په موسم كې خبرې اترې پيل شوې , دخبرو په ترځ كې په يوه خله دا ومنل شوه چې ددې پيښو لاملونه يوا ې درې كسان حضرت علي رضي الله عنه , حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه او حضرت امير معاويه رضي الله عنه دي .
دخبرو په پاى كې يې وويل چې د دې پيښو يواځينى حل د نوموړو دريو كسانو شهيدانول دي ,ځكه نو دريو كسانو عبدالرحمن بن ملجم دحضرت علي رضي الله عنه ,نزال دحضرت امير معاويه رضي الله عنه او عبدالله نامي تن بيا دحضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه دشهيدولو دروند پيټي په خپلو ځانونو كيښودل .او د دې شومو موخو دتر سره كولو لپاره روان شول .
كوفې ته په رسيدو سره ابن ملجم له يوې پيمخي قطام نومې ميرمنې سره مخامخ شو او دخپلې موخې په اړه يې توضيحات وركړل دې بدبختې ميرمنې نه يوا ې داچې دابن ملجم دناوړي كار تاييد يې وكړ بلكه د دې كارپه برياليتوب سره دپاى ته رسيدو په صورت كې يې دنكاح كولو ژمنه هم ورسره وكړه .
لنډه داچې دې دريو واړو كسانو دهجرت په 40 كال د روژې په مياشت كې دسهار په مهال په دريو صحابه وباندې بريد وكړ ,حضرت امير معاويه رضي الله عنه د تورې دنه لګيدو له امله ,حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه امامت ته دنه تلو له امله روغ پاتې شول او هغه تن چې دحضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه په ځاى امامت ته تللى وو دخوارجو دتيروتنې له كبله په شهادت ورسيد.
خو دالهي قضا له مخې داميرالمؤمنيين حضرت علي رضي الله عنه دژوند نيټه نوره په پوره كيدو وه ,كله چې هغه لمانځه ته راغى نو ابن ملجم چې په مسجد كې ويده وو يې دلمانځه داداكولو په نيت راويښ كړ.او پخپله دلمانځه داداكولو په نيت ابن ملجم چې كله حضرت علي رضي الله عنه دسجدې په حالت كې وليدنو په هغه

يې د تورې سخت ګـزار وكړ ,توره دحضرت علي رضي الله عنه په سر مبارك كې خښه شوه او حضرت علي رضي الله عنه سخت زخمي شو .
كه له يوې خوا دتورې وارونه ډير زور وو نو له بلې خوا دابن ملجم توره په زهرو هم ككړه وه او دزهرو اغيزې په ډيره چټكتيا سره دحضرت علي رضي الله عنه په ټول بدن كې وغزيدلې چې له امله يې داسلام دغه څلورم ځليدونكی ستوری حضرت امام حسين رضي الله عنه ته دځه نصيحت له كولو وروسته دهجرت په 40 كال دروژې په شلمه نيټه دجمعې په مباركې شپې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .انا لله وانا اليه راجعون .

اودس

## د اوداسه فرضونه

**د اوداسه فرضونه څلور دي.**

**١ ) د ټول مخ پرېمنځل دي د تندي د وېښتانو د شنه كېدلو له ځای څخه د زنې تر لاندې پورې او د يو غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې.**
**٢ ) د دواړو لاسونو پرېمنځل دي د څنګلو سره .**
**٣ ) د سر څلورمه برخه مسح كول دي.**
**٤ ) د دواړو پښو پرېمنځل دي د پړكو يا غوزانو سره.**

## د اوداسه سنتونه

**د اوداسه سنتونه ١٣ دي چې په لاندې ترتيب سره بيانيږي.**
**١) نيت دی**
**٢ ) بسم الله الرحمن الرحيم وېل دي**
**٣ ) د واړو لاسونو پرېمنځل دي تر مړوندونو پورې**
**٤ ) د خولې پرېمنځل دي .**
**٥ ) مسواک وهل دي .**
**٦ ) د پوزې پرېمنځل دي**
**٧ ) د ګوتو په واسطه د ږيرې خلالول دي .**
**٨ ) د ټول سر مسح كول دي .**
**٩ ) د دواړو غوږونو مسح كول دي .**

**١٠ ) د لاسونو او پښو د ګوتو خلالول دي .**
**١١ ) درې ، درې ځلې د هر غړي پرېمنځل دي .**
**١٢ ) په هغه ترتيب د غړو پرېمنځل دي څرنګه چې په آيت شريف کې راغلي دي .**
**١٣ ) د لومړي وينځل شوي اندام له وچېدونه د مخه ورپسې د بل اندام وينځل دي.**

## د اوداسه ماتوونکي

**د اوداسه ماتوونکي ېزونه په دې ډول دي.**
**١ ) د شرم د ځايونو څخه د څه شي وتل دي.**
**٢ ) له بدن څخه د وينې يا زوې وتل او جاري کېدل .**
**٣ ) په ډکه خوله قې کول .**
**٤ ) هغه وينه ده چې له خولې څخه راشي او لاړې پرې غالبه نه وي .**
**٥ ) په ملاسته خوب ، يا په ناسته خوب په داسې حال کې چې کوم شي ته يې تکيه کړي وي هغه ترې لرې شي پرې به وځي .**
**٦ ) بې هوشي .**
**٧ ) مستي ( نشه کېدل )**
**٨ ) لېونتوب**
**٩ ) په لمانځه کې په قهقهه خندل .**

## د اوداسه ترتيب

**١ ) لومړی به د اوداسه په نيت بسم اللّه الرحمن الرحيم ووايي .**
**٢ ) دواړه لاسونه به تر مړوند پورې درې ځله پرېمنځي .**
**٣ ) مسواک يا د شهادت ګوته به په خوله کې ووهي ، او په ښي لاس به درې کرته خولې ته اوبه واچوي او غړغړه به وکړي.**

٤ ) په ښي لاس به درې کرته په پوزه کې اوبه واچوي او په چپ لاس به پوزه سوڼ کړي او پاکه به يې پرېمنځي .
٥ ) درې ځله به ټول مخ په دواړو لاسونو پرېمنځي . مخ د تندي د ويښتانو د شنه کېدو له ځايه څخه تر زنې لاندې ، او د يو غوږ د نرمۍ څخه د بل غوږ د نرمۍ پورې دي .
٦ ) که ږيره ه وي نو حلال به يې کړي او که رن وي ، نو ه ته به وکړي چې د ويښتانو بېخو ته اوبه ورسيږي.
٧ ) بيا به دواړه لاسونه ، لومړی ښي لاس او بيا به کيڼ لاس د څنګلو سره پرېمنځي .
٨ ) د لاسونو ګوتې به خلال کړي . که چېرې ګوته ، بن ي او ی په لاس وي ، له خپلو ځايو څخه به يې ښکته پورته وخوځوي تر څو ترې لاندې ځايونه لامده شي .
٩ ) بيا به دواړه لاسونه لامده کړي او ټول سره به له اوله تر آخره پورې مسح کړي .
١٠ ) بيا به په غټو او مسواکي ګوتو د غوږونو ظاهري او دننه برخه مسح کړي .
١١ ) بيا به لاسونه لامده کړي او د هر لاس د درې ګوتو په شاه به غاړه مسح کړي .
١٢ ) بيا به دواړه پ ې ، لومړی ښي او بيا به کيڼه پښه د غوزانو سره درې کرته پرېمنځي .

## غسل

د ټول بدن وينځلو ته غسل وايي .

### د غسل فرضونه

د غسل فرضونه درې دي .
١ ) د خولې پرېمنځل دي ( غړغړه )
٢ ) د پوزې پرېمنځل دي (( استنشاق ))
٣ ) د ټول بدن پرېمنځل دي .

### د غسل سنتونه

د غسل سنتونه په لاندې ډول دي .
١ ) تر مړوندو پورې د دواړو لاسونو پرېمنځل .
٢ ) استنجا کول .
٣ ) له بدن څخه د ظاهري نجاست لرې کول .

٤ ) له غسل څخه لومړی د لمانځه د اوداسه په شان اودس کول خو که غسل يې په داسې ځای کې کولو چې اوبه هلته ډنډ ودريږي نو پ ې به له غسل څخه وروسته پرېمنځي .
٥ ) بيا به ټول بدن باندې درې ځلې اوبه تېروي .
که غسل کوونکی ه وي او د ويښتانو بېخونو ته يې اوبه رسېدلي وي نو د کوڅيو خلاصول او وينځل ورباندې ضروري نه دي . او که نارينه وي او کو يې لرلې نو د کوڅيو سپړل او پرېمنځل ورباندې ضروري دي .
د غسل قسمونه
غسل په څلور قسمه دی .
١ ) فرض ، د جُنابت غسل او د حېض او نفاس د پاکېدلو غسل فرض دی .
٢ ) واجب ، که کافر په حالت د جنابت کې مسلمان شي . غسل ورکول مسلمان مړي ته په ژوندو مسلمانانو واجب دي.
که ټول بدن ته يې ظاهري نجاست رسېدلی وي.
٣ ) سنت : د جمعې د لمانځه ، د اخترونو د لمونځونو ، د احرام او په عرفات د درېدلو لپاره عسل کول سنت دي.
٤ ) مستحب : هلک يا نجلۍ چې پنځلس کلنۍ ته ورسي ، کافر چې مسلمان شي او جنب نه وي ، مدينې منورې ته د ننوتلو د پاره او داسې نور .
تېمُم
تېمُم : قصد کول د پاکې ځمکې او پاکې خاورې ته د پاکوالي په نيت .
تېمم هغه وخت روا کيږي چې يا اوبه نه وي او يا شخص د اوبو له استعمال څخه عاجز وي. لکه چې سړی ناروغه وي او اودس کول ورته ضرر رسوي او يا د اوبو نه اقلاً د يو ميل په اندازه لرې وي چې که په اوبو پسې ځي نو لمونځ ترې قضا کيږي او يا له قافلې نه پاتې کيږي يا د ځناورو يا د دښمن ويره وي ، او يا اوبه دومره يخې وي چې له استعمال څخه يې د مرګ يا کوم اندام د تلف کېدو وېره وي ، يا دا چې يو څه اوبه خو ورسره وي مو که هغه مصرف شي نو له

تندې څخه وېرېږي نو په دغه ډولو وختونو کې هغه ته روا ده چې تېمُم وکړي . همداراز که د جنازې يا اخترونو د لمونځونو د تېرېدلو وېره وي هم تېمم ورله روا دى .

## د تېمم عملي طريقه

په تېمم کولو کې نيت کول فرض دي .لومړى به داسې اراده کوې چې ناپاکي رانه لرې شي او لمونځ راته روا شي . وروسته به دواړه لاسونه په پاکه ځمکه او يا هغه شي چې د ځمکې له جنسه وي ووهې او بيا به دواړه لاسونه لږ غوندې څنډ وهې او خپل ټول مخ به ورباندې مسح کړې ، په دوهم ځل به بيا دواړه لاسونه په پاکه ځمکه ووهې او لږ غوندې به يې څنډ وهې او په چپ لاس به ښي لاس ، او په ښي لاس به چپ لاس د څنګل تر پايه پورې وسح کړې.
د بې اودسۍ ، جنابت ، حيض ، او نفاس ډولو د پاره يو شان تېمم دى څه توپير نه لري .

## د لمانځه اذان او اقامت

اذان اعلان کولو ته وايي ، او خلک پرې د جماعت د لمانځه د ادا کولو لپاره رابلل کيږي .
اذان په لاندې ډول دى

اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلااللّهُ ـــــ اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلااللّهُ
اَشهَدُ اَن مُحَمَدُ ارَسُولُ اللّه
اَشهَدُ اَن مُحَمَدُ ارَسُولُ اللّه
حَيَ عَلیَ الصَلا ۃ ـــــ حَيَ عَلیَ الصَلا ۃ
حَيَ عَلیَ الفَلاَ حِ ـــــ حَیَ عَلیَ الفَلاَ حِ
اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
لاَ اِلهَ اِلااللّهُ

د لمانځه لپاره اقامت

اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلااللّهُ ـــــ اَشهَدُ اَن لاَ اِلهَ اِلااللّهُ
اَشهَدُ اَن مُحَمَدُ ارَسُولُ اللّه
اَشهَدُ اَن مُحَمَدُ ارَسُولُ اللّه

حَیَ عَلیَ الصَلا ۀ ـــ حَیَ عَلیَ الصَلا ۀ
حَیَ عَلیَ الفَلاَ حِ ـــ حَیَ عَلیَ الفَلاَ حِ
قَد قَامَتِ الصَلاۀ ـــــ قَد قَامَتِ الصَلاۀ
اللّهُ اَکبر ، اللّهُ اَکبر
لاَ اِلهَ اِلااللّهُ

د مقتدي له خوا په حاضر امام پسې په جيږ غږ د لمانځه اقامت وېل کيږي.

د لمانځه فرضونه ، شرطونه ، ارکان ، واجبات

د لمانځه فرضونه

دلمانځه فرضونه شپاړلس دي چې نهه( ۹ ) له لمانځه نه دباندې او اووه( ۷ )په لمانځه کې دننه دي. دلمانځه نه د باندې فرضو ته د لمانځه شرطونه وايي او د لمانځه دننه فرضونو ته د لمانځه رکنونه وايي . د شرطونو د پوره کولو ، او د رکنونو د ادا کولو نه پرته لمونځ نه کيږي.

د لمانځه شرطونه

۱) د بدن پاکوالی
۲) د جامو پاکوالی
۳ ) دلمانځه د ځای پاکوالی
٤ ) اودس کول په هغه صورت کې چې اودس ونه لري او که جنب وي غسل کول ، او که اوبه نه وي او يا له استعمال څخه عاجز وي نو تېمم وهل .
٥ ) د عورت پټول .
٦ ) د کعبې شريفې په لورې مخ کول .
۷ ) د لمانځه نيت .
۸ ) تکبير تحريمه (( لومړی تکبير ))
۹ ) د لمانځه د وخت داخلېدل

د لمانځه ارکان

۱ ) قيام ، يعنې نېغ ودرېدل په داسې شان سره چې لاسونه يې زنګنونو ته ونه رسي .
۲ ) قرات ، يعنې لږ تر لږه د قرآن شريف يو آيت لوستل
۳ ) رکوع
٤ ) سجده

**٥ ) وروستۍ قعده : يعنې د التحياتُ څخه د عَبدُ هُ وَرَسُولَهُ ، پورې د وېلو په اندازه کېناستل .**
**٦ ) له لمانځه څخه په عمل خپل سره وتل**
**٧ ) ترتيب دى د لمانځه د هغو ارکانو تر مېنځ چې په ټول لمانځه کې يو ځل راغلي ، لکه تکبير تحريمه او آخره قعده ، او يا د لمانځه په هر رکعت کې يو ځل راغلي دي ، لکه قيام او رکوع .**
**د لمانځه واجبات**
**د لمانځه واجبات په لاندې ډول دي .**
**١ ) د فاتحې ، الحمد لله ، د سورت لوستل.**
**٢ ) د فرض لمانځه په دوه لومړيو رکعتونو او د سنتونو او نفلونو په هر رکعت کې د فاتحې د سورت سره د قرآن کريم د کوم بل سورت او يا څو آياتونو د قرات پېوسته کول .**
**٣ ) د فرض لمونځ د دوه لومړيو رکعتونو ټاکل د قرات د پاره .**
**٤ ) په دواړو قعدو کې د تشهُد لوستل .**
**٥ ) لومړۍ قعده .**
**٦ ) د وترو په وروستي دريم رکعت کې د قنوت د دعا لوستل .**
**٧ ) د دواړو اخترونو د لمونځونو تکبيرونه**
**٨ ) په جهري لمانځه کې د امام لخوا قرائت په زوره لوستل**
**٩ ) په خُفيه لمانځه کې قرائت په پټه سره لوستل .**
**١٠ ) د ارکانو تعديل : يعنې ارکان په طمانيه او آرامتيا سره پوره ادا کول .**
**١١ ) د جماعت په لمانځه کې د امام متابعت.**
**د لمانځه سنتونه**
**١ ) د لومړي تکبير وېلو په وخت کې نارينه ولره د غوږو تر نرمېو پورې ، او     و لره د اوږو تر سرونو پورې دواړه لاسونه پورته کول .**
**٢ ) د لاسونو د پورته کولو په وخت کې وتې په خپل حال پرې    ودل .**
**٣ ) په لوړ آواز د امام تکبير وېل .**
**٤ ) د ښي لاس اېښودل په کيڼ لاس باندې په داسې**

ترتیب سره چې د ښي لاس غټه او خچه ګوتې د کيڼ لاس له مړوند څخه حلقه شي ، او درې نورې ګوتې يې د کيڼ لاس په تخته ، بند ، باندې راشي .
٥ ) د نارينه و د پاره د نامه د لاندې ، د و لپاره په سينه د لاسونو تړل .
٦ ) په خفيه د اعوذُ بِاللّهِ لوستل .
٧ ) په خفيه د بِسمِ اللّه لوستل .
٨ ) په خفيه د ثنا سُبحانَکَ اللهُمه لوستل .
٩ ) د وَلاَالضَآلِين څخه وروسته آمين وېل .
١٠ ) د انتقالاتو تکبير وېل .
١١ ) په رکوع کې درې ځلې (( سُبحَانَ رَبِیَ العَظَیم )) وېل .
١٢ ) په رکوع کې د لاسونو په ګوتو د دواړو زنګنونو ټينګ نيول .
١٣ ) امام لره (( سَمِعَ اللّهُ لِمَن حَمِدَه )) او مقتدي لره (( رَبَنا وَلَکَ الحَمدُ )) او يوا ې لمونځ کوونکي لره د دواړو وېل .
١٤ ) وروسته له رکوع څخه قومه کول . ( سم نېغ ودرېدل )
١٥ ) سجده په داسې ترتيب کول ، چې اول به زنګنونه بيا لاسونه ، بيا پوزه او وريسې تندی د دواړو لاسونو په مېنځ کې کې دي ، څنګلې به له اړخونو نه ، او ګېډه به له ورنونو ، او ورنونه به له پنډيو نه ، او پنډۍ به له ځمکې نه لرې ساتي . او د پښو ګوتې به قبلې ته مخامخ کوي . ه به څنګلې د اړخونو ، ې ه به د ورنونو او ورنونه به د پنډيو ، او پنډۍ په د ځمکې سره نښلوي .
١٦ ) په سجده کې درې ځلې (( سُبحانَ رَبِیَ الاَ علی )) وېل .
١٧ ) د دواړو سجدو په مېنځ کې جلسه (( کېناستل ) او په زنګنونو باندې د دواړو لاسونو إ ودل .
١٨ ) د نارينه و د پاره د ښي پ ې ودرول او د کي ې پ ې غوړول ، او ورباندې کېناستل . ې لره د دواړو پښو ښي خوا ته ويستل او په کيڼ کوناټي کېناستل .
١٩ ) په وروستۍ قعده کې د تشهد څخه وروسته درود او دعا لوستل .

۲۰ ) د اَاسَلامُ عَليكُم وَرَحمَتهُ اللّهِ په وېل سره مخ ښي او بيا کيڼ طرف ته ګرځول .

## د جماعت د لمانځه د ادا کولو ترتيب

کله چې د لمانځه وخت داخل شو، اذان کيږي ، څو مسلمانان خبر شي او د جماعت د لمانځه د ادا کولو د پاره مسجد ته راشي لکه چې خلک مسجد ته راغلل ، اقامت وېل کيږي . پدې وخت کې لمونځ کوونکي په برابرو صفونو کې اوږه په اوږه ودريږي . واړه هلکان به د لويانو په صف کې نه دريږي ، په اخر کې به دريږي .

امام به په زوره (( اللّهُ اَکبَر )) وايي او مقتديان به يې ورو وايي، او بيا به امام او مقتديان دواړه (( سُبحنَکَ اللهمَ )) تر اخره پورې د ځان سره ورو وايي .وروسته به امام قرائت وايي او مقتدي به چپ وي . که امام قرائت په جهر وېلو نو مقتديان به ورته غوږ نيسي او کله چې امام (( وَلاَالضَالِين )) ووايه ، نو مقتديان به ورو ( امين ) ووايي.

له قرائت څحه وروسته امام په زوره (( اللّهُ اَکبَر )) وايي او رکوع ته ښکته کيږي ، مقتدي به هم ځان سره يو ځلې (( اللّهُ اَکبَر )) وايي او رکوع ته به ځي .

او په رکوع کې به امام او مقتديان درې ځلې (( سَبحانَ رَبِیَ العَظيم )) ووايي .

کله چې امامِ رکوع څخه راپورته کيږي ، په جهر سره ( ( سَمِعَ اللّهُ لِمَن حَمِدَه )) وايي ، ورپسې به مقتديان د (( رَبَنالَکَ الحَمدُ)) په ورو وېلو سره له رکوع نه پورته کيږي .

کله چې امام په زوره (( اللّهُ اَکبَر )) ووايه او سجدې ته ولاړ ، مقتدي به هم د (( اللّهُ اَکبَر )) په ورو وېلو په امامِ پسې سجدې ته ځي او په سجدې کې به درې ځلې (( سُبحانَ رَبِیَ الاَ على )) وايي، او په همدې ډول د امام په متابعت دوه سجدې به پوره کوي .

دوهم رکعت به هم د لومړي رکعت په شان د امام سره ادا کوي . او په اوله قعده کې دې (( التَحِيَاتُ لِلهِ )) تر (( عَبدُهُ وَرَسولُهُ )) پورې ووايي . که لمونځ دوه رکعتي وي نو درود شريف او دَعا دې هم ولولي ، او د امام په متابعت دې سلام وګرزوي او که لمونځ څلور رکعتي يا درې رکعتي وي نو د ((

**عَبدُهُ وَرَسولُهُ )) له ويلو وروسته دې د امام په متابعت پاڅې او پاتې رکعتونه دې ادا او په اخره قعده کې دې د (( التَحِيَاتُ لِلهِ )) درود او دعا له وېلو نه وروسته د امام په پيروی ښې او كيڼ خوا ته سلام وګرزوي . امام سلام په لوړ غږ وايي او مقتديان يې ورو.**

داخترونو لمونځ

ددواړو اخترونو (كوچني او لوی) لمونځونه دوه دوه ركعته كول واجب دي .او د دواړو لمونځونو لپاره اذان او اقامت نشته .

داداكولو طريقه يې څه داسې ده :

تر هرڅه له مخې دې داسې نيت وكړي ؟

**زه دعيد الاضحى يا عيد الفطر لمونځ سره له هغو شپږو تكبيرونوچې واجب دي په ما باندې پدې امام پسې كوم مخ مې كړی لورې دكعبې ته .**

بيا دې لاسونه غوږونو ته پورته كړي او (اللّه اكبر)دې ووايي او لاسونه دې تر نامه لاندې وتړي او ثناء

**(سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالی جدك ولااله غيرك)**

دې ووايي بيا دې لاسونه غوږو ته پورته كړي او (اللّه اكبر) دې ووايي او لاسونه دې ايله پريږدي دا لومړی تكبير شو , بيا دې په دوهم ځل (اللّه اكبر) ووايي او لاسونه دې غوږو ته يوسي او بيا دې ايله پريږدي دا دوهم تكبير شو , بيادې په دريم ځل (اللّه اكبر ) ووايي او لاسونه دې غوږو ته يوسي او پدې ځل دې لاسونه تر نامه لاندې وتړي دا دريم تكبير شو , اوس به نو امام قرأت پيل كړي او دنورو لمونځونو په څير به دا ركعت پوره كړي .

كله چې دوهم ركعت پيل شي نو امام به قرأت ووايي او دقرات له فراغت نه وروسته دې (مخكې تردې چې ركوع ته ولاړ شي ) لاسونه غوږو ته پورته كړي او (اللّه اكبر) دې ووايي او لاسونه دې ايله پريږدي دا لومړی تكبير شو ,بيا دې لاسونه غوږونو ته پورته كړي او (اللّه اكبر)دې ووايي او لاسونه دې ايله پريږدي دا دوهم تكبير شو, بيا دې په دريم ځل بيا (اللّه اكبر) ووايي او لاسونه دې غوږو ته پورته كړي او ايله دې كړي دا دريم تكبير شو, بيا دې بې له لاس پورته كيدو (اللّه كبر) ووايي اوركوع ته دې ولاړشي .بيا دې دغه ركعت هم دنورو عادي ركعتونو په څير پوره كړي .

بيا دې امام خطبه ووايي او خلك دې پټه خوله كيني او خطبه دې واوري ,ځكه چې ددې خطبو اوريدل هم واجب دي . په اخترونو كې هم دجمعې په څير دوه خطبې دي , اوامام ته ددواړو خطبو تر منځ ناسته سنت ده .
والله تعالى اعلم باالصواب
## په لمانځه کې د تيروتنې سجده
كله چې څوك لمونځ كوي نو كله ناكله له هغه څخه په لمانځه كې تيروتنه هم كيږي ,نو كه يو څوك په لمانځه كې تيروځي نو دهغه دلمانځه دسم والي لپاره په هغه باندې دتيروتنې سجده (سجدۀ سهوه) ضروري ل كيږي ,دا چې په كومو تيروتنو سره په لمونځ كوونكي باندې د تير وتنې سجده واجبيږي د دې پوښتنې په ځواب كې ښايي وويل شي چې :
1- كله چې دلمانځه له واجباتو نه كوم يو پاتې شي نو دتيروتنې سجده ضروري بلل كيږي .
2- كله چې دلمانځه دكوم واجب په اداكولو كې تاخير راشي نو هم دتيروتنې سجده ضروري بلل كيږي .
3- كله چې دكوم واجب څيره وربدله شي دساري په توګه په جهري لمونځ كې خفا وشي يا په خفي لمانځه كې قرائت وشي نو پدې صورت كې هم د تيروتنې سجده ضروري ل كيږي .
4- د ډيرى علماوو په آند په فرضو كې د تاخير په صورت كې هم دتير وتنې سجده اړينه بلل كيږي .
دسجدې ادا كولو طريقه
دسجدې كولو طريقه څه پدې ډول ده چې -كله تيروتنه رامنځته شوه نو خپل لمونځ په خپل حالت جاري ساتل پكاردي خو كله چې په آخري التحيات كيناستلې نو تر تشهد (اشهد ان لا اله الاالله واشهد ان محمدا عبده ورسوله) پورې به يې ولولې او(په اصح قول) يوا ې ښي لورې ته به سلام وكړې او بياه به دالله اكبر په ويلو سره سجدې ته ټيټ شې او دوه سجدې به دنورو سجدو په څير اداكړې او بيا به التحيات له پيله تر پايه پورې ووايې كله چې دې التحيات پوره كړ نو دواړو لورو ته به سلام وګرځوې.
كه په يو لمونځ كې (دساري په توګه دسهار په دوو ركعتونو يا دماسپښين په څلورركعتونو كې) له يوې نه ډيرې تيروتنې رامنځته

شوي وي نو دټولو تيروتنو دجبيرې لپاره يوځل سجده كول كافي بلل كيږي .

د تلاوت سجده

په قرآنكريم كې ټولې (14 ) سجدې دي او د سجدې لرونكي آيتونه په قرآنكريم كې د (السجدة) په توري په نښه شوي دي , او په خوا كې يې ورسره شمېره هم ليكلي وي چې دا لومړۍ سجده ده يا دوهمه يا دريمه يا...........يا څوارلسمه .
دسجدې دآيت دتلاوت په پاى كې دسجدې كول واجب دي , او دسجدې كولو طريقه يې داسې ده چې :
كله يې دسجدې آيت تلاوت كړ نو پورته دې شي او نيت دې وكړي چې :

**نويت ان اسجد لله تعالى , لسجدة تلاوة القرآن , آمنت باالرحمن , ورضيت باالاسلام ,متوجها الى جهة الكعبة الشريفة**

كله چې يې دا نيت وكړ نو دتكبير (الله اكبر) په ويلو سره به د لاسونو پورته كولو او ركوع كولو پرته سيخ سجدې ته ولاړشي او يوه سجده به وكړي او په هغې كې به درې يا پنځه يا اووه ځله تسبيح (سبحان ربي الاعلى ) ووايي او سربه راپورته كړي .

د لمانځه ژباړه

**تكبير (الله اكبر) ژباړه :**

الله ډير لوى دى .

**ثنا : (سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا اله غيرك)**

ژباړه :اى الله ! مونږ ستا دښاكس اقرار كوو, او ستا تعريفونه بيانوو او, ستا نوم ډير بركت تن دى ,او ستا بزرګي ډيره لوړه ده, او له تاپرته هيڅ دعبادت ور نشته ?

**تعوذ: (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم )**

ژباړه :
زه په الله سره پناه غواړم له شيطان ترټلي څخه

**تسميه : (بسم اللّه الرحمن الرحيم)**

ژباړه :پيل کوم په نامه دخدای جل جلاله چې ډېر مهربان او خورا رحم کوونکی دی

**سورة فاتحه : (الحمد للّه رب العلمين . الرحمن الرحيم .ملك يوم الدين .اياك نعبد واياك نستعين . اهدنا الصراط المستقيم . صراط الذين انعمت عليهم .غير المغضوب عليهم. ولاالضالين . آمين .)**

ژباړه :ټول تعريفونه الله لره دي ,کوم چې پالونکی دمخلوقاتو دی , ډير مهربان او خورا رحم کوونکی دی , دقيامت دور ی تن دی , (ای اللّه) مونږيوا ی ستا عبادت کوو,او يوا ی ستا څخه مرسته غواړو , مونږته حقه لار راوښايه , دهغو کسانو لارپه کومو چې تاسې انعام کړی , نه دهغو کسانو لارپه کومو چې ستا غضب نازل شو,او نه دګمراهانو لار, قبوله کړې ته خدايه دعا زمونږ .

**سورة اخلاص قل هواللّه احد . اللّه الصمد . لم يلد ولم يولد. ولم يكن له كفوا احد)**

ژباړه :(ای نبي!) ووايه : چې اللّه يو دی, اللّه بې نيازه دی , نه له هغه څخه څوك زيږيدلی , او نه هغه له چا څخه زيږيدلی , او نه يې څوك سيال شته .

**درکوع (دټيټيدو دمهال )تسبيح سبحان ربي العظيم)**

پاکي بيانوم دخپل لوی پالونکي .

**دقومې (له رکوع نه دپورته کيدو دمهال ) تسميع : (سمع اللّه لمن حمده)**

واوريده الله تعالی دهغه چا (خبرې) چاچي دهغه تعريف وکړ.

**دقومې (ولاړې) تحميد: (ربنا لك الحمد)**

اى زمونږ پالونكيه : يوا ې تالره دي ټول تعريفونه .

**دسجدې تسبيح : (سبحان ربي الاعلى)**

پاكي بيانوم دخپل لوى پالونكي .

**تشهدبالتحيات التحيات للّه, والصلوة, والطيبات, السلام عليك ايها النبي , ورحمة اللّه وبركاته , السلام علينا, وعلى عباداللّه الصالحين ,اشهد ان لااله الااللّه , واشهد ان محمدا عبده ورسوله .**

ژباړه :ټول قولي, فعلي, او مالي عبادتونه اللّه تعالى لره دي , سلام دې وي پر تا او رحمت داللّه او دهغه بركتونه ,سلام دې وي په مونږ او داللّه په نيكو بندګانو باندې , ګواهي وركوم چي پرته له اللّه څخه بل معبود نشته او ګواهي وركوم چې محمد (صلى اللّه عليه وسلم ) داللّه تعالى بنده او دهغه رسول دى .

**درود شريف : (اللهم صل على محمد, وعلى آل محمد, كما صليت على ابراهيم , وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد, اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد.)**

ژباړه :اى اللّه ! رحمت نازل كړه په محمد(صلى اللّه عليه وسلم) او دهغه پر آل (اولادونو)باندې ,لكه څنګه چي تا رحمت نازل كړى دى په ابراهيم عليه السلام او دهغه پر آل باندې , بيشكه ته دتعريف وړاودلويى تن يې . اى اللّه !بركت نازل كړه په محمد(صلى اللّه عليه وسلم )او دهغه پر آل باندي, لكه څنګه چي تابركت نازل كړى پر ابراهيم عليه السلام او دهغه پر آل باندي, بيشكه ته دتعريف وړ او دلويي تن يي .

**له درود وروسته دعا : (اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي آآخرة حسنة وقنا عذاب النار .)**

ژباړه : ای الله ! ماته په دنیا او آخیرت کې نیکي راکړه , او موږ وساته داورله عذابه څخه .

**او په ځینو روایاتو کي دادعا هم رغلې دهاللهم اني ظلمت نفسي ظلما کثيرا ولايغفر الذنوب الا انت , فاغفرلي مغفرة من عندك وارحمني انك انت الغفور الرحيم .)**

ژباړه : ای الله ! موږ پخپل نفس ډیر تیری کړی ,او له تاپرته هیڅوك هم ګناهونه نشي ښلای ,اوس ته پخپله ځان ې ښنې سره ما وښه او رحم راباندې وکړه , بیشکه ته ښونکی او مهربان یې .

**سلام : (السلام عليكم ورحمة اللّه)**

سلام دې وي پر تاسو او دالله رحمت .

**دلمانځه وروسته دعا : (اللهم انت السلام ومنك السلام تبارکت يا ذالجلال والاکرام .)**

ژباړه : ای الله !یوا ې ته سلامتي ورکوونکی یې , او هم ستا له لورې سلامتي ده ته ډیربرکت تن یې ,ای دلویۍ او پت خاونده .

د وترو د قنوت دعا او ژباړه يې

**اللهم انا نستعينك , ونستغفرك ,ونؤ من بك ونتوكل عليك ,ونثني عليك الخير ,ونشكرك ,ولا نكفرك ,ونخلع ,ونترك ,من يفجرك ,اللهم اياك نعبد ولك نصلي ,ونسجد ,واليك نسعى ,ونحفدو نرجوا رحمتك ونخشى عذابك ان عذابك بالكفار ملحق .**

**ژباړه : ای الله ! موږ له تا څخه مرسته غواړو , او له تاڅخه بخښنه غواړو ,او په تا ایمان راوړو ,او تکیه کوو پر تا, او ستا ښه تعریف کوو , او ستا ښه شکر ادا کوو ,او ستا ناشکري نه کوو , او لرې کوو او پرېږدو هغه څوك کوم چې ستا نافرماني کوي . ای الله موږ یوا ې ستا عبادت کوو ,او یوا ې ستا لپاره لمونځ کوو,او سجده کوو ,او یوا ې ستا لور ته منډې**

**وهو او حاضريږو ,او يوا ې ستا درحمت هيله لرو ,او ستا له عذابه ويريږو , بيشكه ستا عذاب كافرانو ته رسيدونكی دی**

دزنكدن مهال

كله چي مسلمان مرګ ته نژدي شي نو ستونې ستاغ يي پرې باسئ , پښي يې دقبلې لورته كړئ , سر يې لږ پورته كړئ ترڅو خوله يې دقبلې لورته شي , او ترڅنګ يي په زوره زوره كلمه طيبه واياست تر څو هغه ستاسې كلمه واوري او پخپله هم كلمه پيل كړي .

كله چې هغه كلمه ووايي نو بيا پټه خوله شه ځكه چي دمرګ په وخت كي دسا ختلو په مهال كې كلمه ويل ضروري نه دي بلكې كه يو وارې يې كلمه وويله نوهمدا كافي ده ,خو كه يې له كلمې ويلو وروسته بيا خبرې وكړې نو بيا ورسره په لوړ آواز كلمه ويل پيل كړئ تر څو هغه بيا كلمه ووايي كله چې بيا كلمه ووايي نو پټه خوله شئ .

قريب الموت ته دكلمې ويلو امر مه كوئ ځكه هغه ډير سخت مهال وي هسې نه چې سړی په عين مهال كي دمرګ دسختۍ له كبله ستاسې ځواب په (نه يې وايم) سره دركړي چې خدای مكړه په دې څه ويلو سره به يې آخيرت تباه او بربادشي .

كله چې دسړي ساسخته او لنډه لنډه كيږي ,پ ې يې ډيله او سستې شي , پوزه يې كږه شي ,او غامبوري يې ولويږي نو پوه شه چې ددې سړي مرګ رانزدې شو نو اوس په زوره زوره كلمه شريفه پيل كړه .

په حديث شريف كې راغلي چې دسورة يسين شريف ويل دمرګ په سختيوكې اساني راولي نو ياخو پخپله دزنكدن په مهال دسړي سر ته كينئ او يا هم بل څوك كينوئ تر څو هغه سورة يسين شريف ووايي .او دچا دزنكدن په مهال ددنيا خبرې كول نه دي پكار ځكه هسي نه چي دقريب الموت كس هم د دنيا په لورې پام شي او د دنيا په مينې كې مړشي او دا ډيره ناوړه خبره ده .

كله چې سړی مړشي نو دهغه ټول عضلات ښايي برابر شي او په كومه څيره يې زنه(خوله) ښايي داسي ور وتړله شي چې څيره تر زنې لاندې تيره شي او دڅيرې دواړو خواوو ته دمړي په سربانډې ښايي غوټي ور واچول شي ترڅو خوله يې وازه پاتې نشي او

دخولې اونورو عضلاتو دبندولو په مهال ښايي دا دعا ولوستل شي (بسم الله على ملة رسول الله ) ,او ښايي ستر ي يې وربندې کړې شي ,او دواړه پ ي يې سره نزدې کړې شي اودواړه غ ي ګوتې يې سره وتړل شي ترڅو پ ي يې سره وازې پاتې نشي .بيا ښايي يو څادر پرې واچول شي او په لمبولو او خښولو کې يې ښايي ډيره بيړه وشي .له مړيني وروسته دمړي تر څنګ دقرآنکرين تلاوت کول سم کار نه دی . همداراز اړينه ده چې جنب سړی يا ه ,حايضه او نفاسه ه دمړي له خوا نه ليرې شي .

## دمړي دلمبولو بيان

کله چې دمړي دلمبولو وخت راشي نو ښايي مړی په تخته پرې ايستل شي او کالي ورڅخه وايستل شي او يوا ي له نامه تر ځنګنو پورې يوه ځيره ښايي وربان‌دې واچول شي (ترڅو چې عورت يې معلوم نشي ) او تر تخته لاندې ښايي ځمکه لږ وکيندل شي ترڅو دلامبلو اوبه په هغې کندې کې تويې شي ) دا هلته کچيرې دمړي دلمبولو لپاره کوم ځان ی ځای نه وو البته که ځان ی ځای وو بيا دځمکې کنستلو ته اړتيا نه ليدل کيږي ) .دمړي دلمبولو په مهال لومړی ښايي مړي ته استنجا ور وکړل شي ليکن دمړي له ورنونو او داستنجا په ځای ښايي لاس ونه لګول شي بلکه يوه ځيره(کپړه) ښايي په لاس تاوه شي او تر هغې ټو ی لاندي (چي تامخکي دستر دپټولو لپاره وربان‌دي اچولي وه ) لاس ورننه ايستل شي او مړی پريمينځل شي .

بيا بايد اودس ورکړل شي ليکن په خوله او پوزه کې اوبه وراچول ضروري نه دي اونه تر مړوندو دلاسونو ور مينځل اړين دي بلکې لومړی ښايي خوله ور ومينځل شي بيا لاسونه له څنګلو سره بيا دسر مسح وروکړل شي بيا دواړه پ ي ور ومينځل شي .

ليکن که څوک پنبه (مالوچ) لمده کړي او دمړي په (وُريُو)يي وروميښي او دپوزې په سوريو کې ور ننه باسي دا هم روادي .آن تردې که مړی دناپاکۍ په حالت يا دحيض او نفاس په حالت کې مړشي نو بيا خو يې پوزې او خولې ته په نوموړي طريقه سره اوبه وررسول خورااړين بريښي .

او دمړي په پوزه ,غوږونو او خوله کې ښايي پُنبه کيښودل شي تر څو دلمبولواو اودس ورکولو په مهال يې په نوموړو ځايونو کې اوبه ولاړې نشي . نو کله چې اودس ورکول شي اوس يې ښايي سرپه

خوشبويه صابن يا دگل خيرو(چي يو خوشبويه گل دى ) په اوبو سره ور ومينځل شي , بيا دې مړى په ښي خوا راواړول شي او درې ځلي دې له سر نه تر پښو پوري نيم گرمې اوبه ور باندي واچول شي تر دې چې اوبه يې كيڼ لورې ته ورسيږي بيا دې مړى په كيڼ لور راواړول شي او له سره ترپښو دې وربانديې درې ځله دومره نيم گرمې اوبه واچول شي ترڅو دا اوبه دهمدې كيڼ لورې دپاى خوا ته ورسيږي بيادې مړى لږ كينوي او گيډه دې په ورو, ورو سره ور ومښي كه چيري له گيډې څه شى راووځي نو هغه دې هم ومينځي او نومړى ځاى دې پاك كړل شي او له گيډې نه دڅه شي دراوتو په صورت كې دې اودس يا غسل په دوهم ځل نه وركوي . بيا دې مړى په ښي خوا پرې ايستل شي اود كافورو خوشبويه اوبه دې وربانديې له سر نه تر پښو درې ځله توى كړل شي (دكافورو اوبه ضروري نه دي بللكې كه دعامو عطرو اوبه وي هم كافي دي ) بيا دې ټول بدن په كوم جانپاك يا بله كومه ټوټه وروچ كړي او كفن دې ور واغوندي .

مړي ته دكفن وراغوستلو طريقه

دسړي كفن درې ټوې سنت دى : 1- څادر 2- ازار 3- كميس دضرورت په مهال دوه ټوې هم روا دى البته بې ضرورته مكروه دى .

د ي كفن پنځه ټوې سنت دى : 1- كميس 2- ازار 3- سينه بند 4-څادر 5-سربند- دا له ازار څخه نيولې تر پښو پورې وي او څادر تر دې (سربند) يو لاس لوى وي او كميس له غاړې نيولى ترپښو پورې وي ليكن په هغه كې به لستوڼي او گريوان نه وي او سينه بند به له سينې نيولى تر ورنو پورې اوږد وي اوسور(عرض) به يې دومره وي چي يو پلو او بل پلو يي سره وتړل شي .

مړي ته دكفن وركولو په مهال به لومړى څادر اوار كړئ بيا به ازار او په ازار بر سيره به كميس وي بيا به مړى دهغو په سر پري باسئ . لومړى به كميس ور واغوندئ او دسر ويښتان به يې په دوو برخو وويشئ او په سينه به يې ور واچوې يوه برخه ښي لورې ته او يوه كيڼ لورې ته له هغه وروسته به يې سربندپه سر اوويښتانو ور واچوې مگر تړې به يې نه بيا ازآر ور واغونده لومړى يي ښي لورې ونغاړه بيا يې كيڼ لورې . له هغه وروسته يې سينه ور وتړه بيا يې په څادر كې ونغاړه لومړى ښي لورې بيا كيڼ لورې بيا يې په

كومه څيره يا ټوټه سره دسر او پښو خواته كفن وتړه او يوه څيره يې تر شا هم وتړه تر څو په لاره كې دهوا چليدو له امله پرا نه نيزي (بېرته نشي ) او دجنازې كولو پر لور يې يوسه .
(داخو د ينه مړي طريقه ده او نارينه به هم لومړى څادر اوار كړئ برسيره به ازار او په ازار برسيره به كميس اواركړئ مړى به دهغه په سر پرې باسئ او لومړى به كميس ور واغوندئ بيا به ازار ورواغوندئ بيا به يې په څادر كې لومړى ښي لورې بيا كيڼ لورې ونغاړئ او دكفن دواړه سرونه به وروتړئ ) او دجنازې پر لورې يې يوسئ

## دجنازې لمونځ دلمانځه نيت

كله چې مسلمان مړ شو نو اوس به يې دجنازې دلمانځه داداكولو لپاره جنازه ګاه ته يوسئ . دجنازې دلمانځه مسنونه طريقه داده چې مړى به مخكې كيږدئ او امام به دهغه دسينې په برابر ودريږي اوامام او خلك به دجنازې دلمانځه دادا كولو نيت وكړي چې په اظهرقول په پښتو ژبه يې توري دادي :

**نيت مي كړى لمونځ كوم دجنازې خاص خداى جل جلاله ته دعا كوم دې حاضر مړي ته ( اقتدا مې كړې په دې حاضر امام پسې) مخ مې كړى كعبې شريفي ته**

(امام به داتوري نه وايي چي (اقتدا مې كړې په دې حاضر امام پسې ). او په عربي ژبه يې دنيت لپاره داتوري غوره ګڼل شوي :

**" نويتُ ان اصلي صلاة الجنازة للهِ تعالى داعيا للميت (اقتديت بهذاالامام )متوجها الى الكعبة الشريفة "**

دلته به امام د(اقتديت بهذاالامام ) توري نه وايي .
كله چې مقتدي نيت وكړ نو په سمدستي ډول به **(اللّه اكبر)** ووايي او له تكبيره وروسته به دادعا پيل كړي :

**" سُبحانكَ اللهُمَ وَبِحَمدِكَ وَتَبارَكَ اسمُكَ وَتَعالى جِدُ كَ وَجَلَ ثناءُ كَ وَلااِلهَ غَيرُ كَ "**

کله چي يې دا دعا وويله نو بيا به (**اللّه اکبر**) ووايي او له همدې دوهمه تکبيره وروسته به دا درود ووايي

**" اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت وباركت ورحمت وترحمت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد "**

(دلته عام درود هم ويلاي شي يعني)

**" اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد "**

کله چې يې درود شريف ووايه نو دريم تکبير(اللّه اکبر) به ووايي او که مړی بالغ وو، که نر وو که ه نو دادعا به ووايي

**" اللهُمَ اغفر لِحينا, وَمَيتِنا, وَشاهِدِنا,وَغائِبِنا,وَصَغيرنا,وَکَبيرنا,وَذَکَرِنا وَاِنثانا اَللهُمَ مَن احييتَه مِنا فَاحيه على اِلاسلامِ وَمَن تَوَفَيته مِنا فتوفه عَلى اِلايمان "**

بيا به دڅلورم ځل لپاره (**اللّه اکبر**) ووايي او له څلورم تکبير وروسته به سمدستي يوې او بلې خواته سلام وګرځوي او هرلورې ته په مخ ګرځولو سره به **" السلام عليكم ورحمة اللّه "** وايي .

دماشوم-ماشومې دجنازې لمونځ

که مړی نابالغ هلك وو نو نور لمونځ يې هماغسې دی البته له دريم تکبير څخه وروسته دې د دعا په ځای کې دا دعا ولولي

**" اَللهُمَ اِجعَلَهُ لَنا فَرَطاً واجعلهُ لَنا اجراً وَ ذخرا واجعلهُ لَنا شافِعاً وَمُشفِعا "**

او که مړی ماشومه وه نو بيا دې له دريم تکبيره وروسته دا دعا ووايي

**" اَللهُمَ اجعَلها لَنا فرَطاً وَاجعلها لَنا اجراً وذخرا واجعلها لَنا شافعةً ومشفعة "**

دجنازې په لمانځه کې پنځه فرضونه دي : څلور تکبيرونه او يوه ولاړه
. ځکه نو که يو تکبير له تکبيرونو څخه پاتې شي نو لمونځ يې نه
کيږي , او که يې دجنازې لمونځ په ناسته وکړ هم نه کيږي .
ثنا ويل او درودشريف ويل سنت دي , او په دعا ويلو کې اختلاف دی
څوک يې سنت بولي او څوک يې فرض .
او سلام ويل دجنازې په لمانځه کې واجب دي .
دجنازې په لمانځه کې مستحب داده چې ښايي لږ تر لږه درې
صفونه وي آن تردې که اووه کسان وو نو يو دې له دوی څخه امام
شي او درې دې په لومړي صف کې ودريږي , او دوه دې په دوهم ,
او يو دې په دريم صف کې ودريږي .او که تردې ډير وو نو بيادې تر
آخيره همداسې طاق صفونه پسې جوړوي .

## دمړي ښخول

دمړي ښخول فرض کفايه دي نوکله چې د مړي جنازه وشي نو په
سمدستي ډول يې دقبر ځای ته وړل اړين بريښي .او داخستلو
طريقه يي داده چې لومړی دې دهغه دتابوت (ياهغې تختې چې
مړی پکې پروت وي ) دمخې لورې ښي خوا په اوږه کيښودل شي
اولږ ترلږه لس ګامه دې ورسره ولاړشي ,بيا دې دشا د لورې ښي
خواته اوږه ورکړي او لږ ترلږه لس ګامه دې ورسره ولاړشي ,بيا
دې د مخې لورې کيڼ خواته اوږه ورکړي او لس ګامه دې يوسي
بيا دې دکيڼ لورې وروستۍ پ ې ته اوږه ورکړي او لس ګامه دې
يوسي چې داټول 40 ګامونه کيږي .

## دمړي قبر تيارول

دمړي قبر دې دهغه دنيمايي قد سره په برابره اندازه وکنستل شي
(کډی دې شي) او دمړي دپوره قد په اندازه دې نه کنستل کيږي
(نه کډی کيږي) .البته دقبر اوږدوالی دي دمړي دقد په اندازه وي
. په قبر کې بغل وهل يا لحد جوړول غوره دي , خو دا هله که چيرته
دقبر دلويدو ويره نه وه او که دقبر دلويدو ويره وه او يا ځمکه نرمه وه

نو بيا په صندوقي قبر جوړولو کې هم هيڅ حرج نشته . يعنې دقبر
په مينځ کې دې کنده جوړه کړي او مړی دې پکې کيږدي .
کله چې قبر تيار شي نو مړی دې دقبلې له لورې قبر ته ننه ايستل
شي چې طريقه يې داسې ده چې جنازه دې له قبر سره دقبلې په
لورې کيږدي او دمړي رااخستونکي دي هم دقبلې په لور
ودريږي او مړی دې راواخلي او ورو دې په قبر کې کيږدي .
په قبر کې دمړي د کېږ ودونکو لپاره طاق يا جفت شميره اړينه نه
ده , د دواړو نړيو سردار محبوب رب العالمين حضرت محمد
مصطفی صلی الله عليه وسلم يې په څلورو کسانو قبر ته ښکته
کړو .
په قبر کې دمړي د کېږ ودو په مهال ښايي د(بسم الله علی ملة
رسول الله ) دعا وويله شي .په قبر کې له کېږ ودلو وروسته دې
دکفن هغه غوټې چې دمړي سراوپښوته مو د هوا د لګيدلو او د
کفن د وړلو له ويرې ورکړې وې پرانستل شي .
له دې وروسته دې قبر په خټه يا خامه خښته باندې بند شي او پخه
خښته يا لرګي تخته دې نه پکې استعماليږي .
مګر کچيرې ځمکه نرمه وي او دقبر دکيناستلو ويره وي هلته بيا
دپخې خښتې او لرګي استعمال مکروه نه دی . والله اعلم
د ينه مړي قبر ته د ټيټولو په مهال پرده کول مستحب دي خو
که چيرې دمړي دبدن دښکاريدو ويره وه نو بيا پرده کول واجب دي .
والله اعلم
کله چې مړی په قبر کې کيښودل شي نو هغه خاوره چې دقبر د
کنستلو په مهال ورڅخه راايستل شوې وه هغه دې ټوله دوباره په
مړي وراچوي تردې ډيره خاوره پرې اچول مکروه دي .
په قبر باندې دخاورې د وراچولو پيل دمړي دسر له لورې کول غوره
دي او هر سړی دې خپل دواړه موټي له خاورې ډکوي او په قبر دې
ور اچوي او په لومړي ځل خاورې اچولو دې وايي " مِنها خَلقناکُم " او
په دوهم ځل دې وايي " فيها نعيدکم "  او په دريم ځل دې وايي "
وَمِنها نَخرجُکُم تارة اخری "

دقبر څلور کُنجه جوړول مکروه دي بلکې مستحب داده چې قبر
مسنم وي يعنې د اوښ دکوهان په څير وي او له ځمکې څخه ښايي
ديوې لويشتې په اندازه پورته وي

دقبر تر يوې لويشتې نه ډير پورته كول مكروه تحريمي او ناروا دي .
دمړي له ښخولو وروسته په قبر باندې ګنبده يا قبه لګول
دښايست په بڼه حرام دي او د قبرمضبوطي په بڼه مكروه دي .
كه چيرې د قبر دوركيدو ويره وه يا بله كومه اړتيا ليدل كيده نو دمړي
په قبر ديادښت په توګه څه ليكل روادي او كه اړتيا نه ليدل كيده
نومكروه دي .
په قبر باندې له خاورو اړولو وروسته داوبوشيندل مستحب دي .
مړى كه غټ وي او كه ماشوم وي په كور كې يې ښخول نه دي
روا, ځكه چې دا دانبياووځان تيا ده .

د حېض مسايل او حكمونه

مسئله - حيض هغو وينو ته وايي چې وروسته له نهوكلونوپه مختار قول وعليه الفتوى (ردمحتار) بې له ولادته د ي له رحمه ځي .
مسئله - له نهو كلونو وروسته كه هر كله ي وينه وليده نو په سملاسي ډول به لمونځ ,روژه او جماع پريږدي (كه واده شوې وه )كه څه هم د وينو دليدولومړى ځل وي .
مسئله - دحيض په مهال جماع كول او ترنامه لاندې او په ورنونو باندې خوند اخيستل هم حرام دي .
مسئله - دحيض په مهال كې لمونځ نه فرضيږي ځكه يې نو قضا هم نشته او روژه فرضيږي ځكه يې قضا هم راوړل ضروري دي .
مسئله - دحيض لږ ترلږه موده درې شپې او ور ي ده او ډير تر ډيره يې لس شواروزه ده .
مسئله - كه وينې تر دريو ورځو لږې وې نو داحيض نه بللكې دې ته استحاضه يا مرض ويل كيږي ,نو له دې وينو وروسته كه كومې ميرمنې لمونځ پريښى وو نو قضابه يې راوړي .
مسئله - همداراز كه له لسو ورځو وينې تيرې شي نو داهم حيض نه بلل كيږي له لامبلو وروسته به لمونځ كوي ,روژه به نيسې او له لامبلو مخكې جماع هم ورسره روا ده .
فايده : هر حيض ته تير شوى نژدې حيض عادت بلل كيږي .
مسئله - كه وينې ودريږي وروسته له لسو شواروزو او دكوم لمانځه يوا ي دومره مهال وو چې تكبير اولى پكې ځاييدو نو لمونځ پرې فرضيږي او قضا به يې راوړي ,او جماع له لامبلو مخكې ورسره رواكيږي .
مسئله - كه وينې وروسته له عادته له لسو شوارورزو مخكې

ودريږي او دکوم لمانځه دومره وخت پاتې وو چې غسل (سره له اغوستلو دکاليو)او تکبير اولی دواړه پکې ځايدل نو ددې مهال لمونځ په ميرمن فرضيږي او قضابه يې هرو مرو راوړي ,او جماع له لامبلو مخکې ورسره روا ده ځکه چې دا حکما پاکه ده و او که دومره وخت وو چې لمونځ او تکبير اولی دواړه نه پکې ځاييدل نو لمونځ نه پرې فرضيږي او ترڅوچي يې لامبلي نه وي جماع هم نده ورسره روا .
مسئله - که وينې له عادته مخکې ودريږي نو ودې لامبي لمونځ به کوي ,روژه به نيسي او جماع نه ده ورسره روا ترڅو چې عادت يې تير نه شي .
مسئله - که وينې له لسو شواروزو تيرې شي او د ي عادت معلوم وو نو دعادت شپې يې حيض بلل کيږي او نورې له عادته ډيرې مرض ل کيږي نو دهغو ورځو دلمانځه قضا به راوړي کومې چې له عادته زياتې وي . او که يې عادت نه درلود او دوينو لومړی ځل وو نو لس شواروزه به حيض بلل کيږي او تردې زياتې به مرض بلل کيږي و نو غسل دې وکړي لمونځونه به کوي ,روژه به نيسي اوله لامبلو مخکې جماع ورسره روا ده .
مسئله - که په لومړي ځل يوې ي ته يوه ورځ وينه ورغله او څوارلس شپې پاکه وه او شپاړلسمه ورځ بيا وينه ورغله نو داټولې شپې وينې بلل کيږي نو لس شپې يې حيض او نوري يې مرض ل کيږي .
مسئله - که عادت درلودونکې ي ته له عادته يوه ورځ مخکې وينه ورغله او لس شپې پاکه وه او دوولسمه ورځ بيا وينه ورغله او عادت يې دساري په توګه لس شپې وو نو پداسې حالت کې به هغه لس شپې چې ي په ظاهري ډول پاکې تيرې کړي هغه پاکې شپې به حيض او هغه دوه لومړنۍ او آخيرنۍ شپه چې په ظاهره ويني وې هغه دوه ور ي به مرض ل کيږي .لنډه داچې دعادت شپې که پاکې وې او که وينې وې که په پيل کې وې يا هم په منځ کې هغه حيض بلل کيږي .
مسئله - که پاکي راغله په منځ د دوو وينو کې او داپاکي له پنځلسو شپو لږه وه نو نو هغه پاکي وينې بلل کيږي .
مسئله - حايضه ميرمنه که بيګاه ناپاکه ويده شوه سهار چې

راجګه شوه پاکه وه نو دماسخوتن دلمانځه قضا به راوړي . والله اعلم باالصواب

د نفاس مسایل او حکمونه

مسئله - نفاس هغو وینو ته وایي چې له میرمنو څخه له ولادته وروسته ځي .

مسئله - دنفاس لږه موده نده ځرګنده , او زیاته موده یې څلویښت شواروزه ده . که له څلویښتو شواروزو نه وینې زیاتې شوې او ې عادت درلود نو دعادت موده یې نفاس ده اوله عادته زیاتې شپې یې په مرض کې شمارل کیږي , ځکه به نو دهغو لمونځونو چې دخپل عادت په زیاتو شپو کې یې قضاکړي قضایي راوړي .

دساري په توګه دیوې میرمنې دنفاس عادت 35 شپې دي او دې میرمنې ته له 40 شواروزو نه زیاته وینه ورغله نو اوس به دا ه 35 شپې دخپل عادت په بڼه په حیض کې شماري او دنورو ورځو دلمونځونو قضایي به راوړي .

مسئله - که په لومړي ځل کومې میرمنې ته داپیښه وروشي او وینه یې له 40 شواروزو زیاته شي نو د داسې میرمنې حکم دادی چې 40 شپې به نفاس شمیري اوتر دې زیاتې به مرض ل کیږي ځکه به نو دا لامبي او لمونځ به کوي ,روژه به نیسي او له لامبلو مخکې جماع هم ورسره روا ده .

مسئله -دلمانځه په نه کولو او دروژې په نه نیولو او دجماع په نه کولو کې دنفاس حکم دحیض دحکم په څیر دی ,البته که کومه میرمنه دنفاس په موده کي 15 شپې پاکه شوه او بیا یوه ورځ وینه ورغله نو دا 15 ور ې هم په نفاس کې شمارل کیږي نه په پاکي کې .وعلیه الفتوی .

مسئله - که کومې میرمنې ته یوه ورځ وینه ورغله او 38 شپې پاکه وه بیا بله ورځ بیا وینه ورغله نو داټوله موده په نفاس کې شمارل کیږي .

مسئله - که یوې میرمنې یوه ټکړه وزیږوله او هغې یوشی درلودل لکه لاس ,یا پښه ,یا نوکونه ,یا ویښتان,یا ګوته نو دا ټکړه داولاد په حکم کې راځي او له دې وروسته کومې وینې چې راځي په هغې دنفاس حکمونه جاري کیږي ,او که یې کومه نښانه نه وه نو بیا به ګورو چې آیا دا وینه درې شواروزه جاري وه که

نه او آيا ترديې وينو مخكې دې ميرمنې طهر صحيح يعنې پوره پنځلس ورځې پاكې تيري كړي كه نه كه دا دواړه حالتونه موجود وو وينه هم لږ تر لږه دريې شوارورزه روانه وه او له دې وينې مخكې ميرمنې طهر صحيح هم تير كړى وو نو بيا پدې وينو دحيض احكام جاري كيږي او كه له نومړو شرطونو نه كوم يو هم نه وو نو بيا دا وينې مرض ... ل كيږي او دحيض حكمونه هم نه ورباندې جاري كيږي .

د زكات وجوب

زكات ياخو په لغت كې پاكي ته وايي نو زكات ته هم ځكه زكات وايي چې په وركولو سره يې پاتې مال او شتمني پاكې ... ي , او ياهم زكات زياتوالي ته ويل كيږي نو زكات ته هم ځكه زكات وايي چې دالله تعالى له لوري دفرض كړاى شوې برخې په وركولو سره دمال نوره برخه زياتيږي .

په قرآنكريم كې پالونكي ... تن جل جلاله زكات نژدې په 34 ځايونو كې دلمانځه تر څنګ ذكر كړى . او فرمايلي ئې دي چې :

1-وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ [البقرة : 43 - ژباړه : او سم قائموئ (په ښه ترتيب سره اداكوئ ) لمونځ اووركوئ زكات او ركوع وكړئ سره له ركوع كوونكو (لمونځ كوونكو مسلمانانو) .

2-وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لاَ تَعْبُدُونَ إِلاَّ اللّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْناً وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلاَّ قَلِيلاً مِّنكُمْ وَأَنتُم مِّعْرِضُونَ [البقرة : 83 ژباړه : (او ياد كړه هغه وخت اى محمده ) چې واخيست مونږه ټينګه ژمنه له بني اسرائيلو نه چې عبادت مه كوئ مګر يوا ... ې دالله او (نيكي كوئ ) له مور او پلارسره ,او له خاوندانو دخپلوئ سره ,او له يتيمانو سره ,او له مسكينانو سره او وايئ خلكو ته ... ې خبري ,او سم قائموئ لمونځ اووركوئ زكات .

بيا وګرځيدئ تاسې (له دې ژمنې ) مګر (ونه ګرځيدل) لږ له تاسې څخه حال داچې هم دا تاسي مخ اړوونكي ياست (له الهي احكامونه .)

همداراز دا لاندې آيتونه هم دزكات دفرضيت په اړه راغلي دي :

3-وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُواْ لأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ

عِندَ اللّهِ إِنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [البقرة : 110]
4 -لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَـكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّآئِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُواْ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَـئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ [البقرة : 177

5-إِنَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ [البقرة : 277]

6-أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّواْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلا أَخَّرْتَنَا إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ قُلْ مَتَاعُ الدَّنْيَا قَلِيلٌ وَالآخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقَى وَلاَ تُظْلَمُونَ فَتِيلاً [النساء : 77]

7-لَّـكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلاَةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ أُوْلَـئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْراً عَظِيماً [النساء : 162]

8-وَلَقَدْ أَخَذَ اللّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَبَعَثْنَا مِنهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيباً وَقَالَ اللّهُ إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلاَةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللّهَ قَرْضاً حَسَناً لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ فَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاء السَّبِيلِ [المائدة : 12]

9-إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ [المائدة : 55]

10- وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَـذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ إِنَّا هُدْنَـا إِلَيْكَ قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاء وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَـاةَ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ [الأعراف : 156]

11 -فَإِذَا انسَلَخَ الأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُواْ الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُواْ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [التوبة : 5]

12-فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَنُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ [التوبة : 11]

13-إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللّهَ فَعَسَى أُوْلَـئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ [التوبة : 18]

14 -وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَـئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ [التوبة : 71]

15-فَأَرَدْنَا أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْراً مِّنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْماً [الكهف : 81]

16 -وَحَنَاناً مِّن لَّدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيّاً [مريم : 13]

17-وَجَعَلَنِي مُبَارَكاً أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيّاً [مريم : 31]

18-وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيّاً [مريم : 55]

19-وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ [الأنبياء : 73]

20-الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ [الحج : 41]

21-وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ

وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيداً عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ [الحج : 78]

22-وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ [المؤمنون : 4]

23-يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَداً وَلَكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [النور : 21]

24-رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْماً تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ [النور : 37]

25-وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ [النور : 56]

26-الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ [النمل : 3]

27-وَمَا آتَيْتُم مِّن رِّباً لِّيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِندَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُم مِّن زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ [الروم : 39]

28-الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ [لقمان : 4]

29-وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً [الأحزاب : 33]

30-الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ [فصلت : 7]

31-أأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ

اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ [المجادلة : 13]

32-إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَى مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَى وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْراً وَأَعْظَمَ أَجْراً وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ [المزّمِّل : 20]

33-قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا [الشمس : 9]

34-وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ [البينة : 5]

همداراز په مباركو نبوي احاديثو کې هم دزكات د وركړې حكمونه شوي دي .له حضرت عبدالله بن عمر (رض) نه روايت دى چې رسول الله صلى الله علهي وسلم فرمايلي چې داسلام بنسټ په پنځو خبرو ښودل شوى ١-كلمه :چې له الله تعالى نه پرته نور هيڅوك لايق دعبادت نشته او محمد (صلى الله عليه وسلم) دالله تعالى بنده او رسول دى ,٢-دلمونځ اداكول ,٣-دزكات اداكول ,٤ -دبيت الله حج , او٣ -درمضان دمياشتې روژې .- بخاري او مسلم .-

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته دامير په توګه ورواستاوه نو ورته ې و فرمايل : چې هلته ولاړشې نو خلك داسلام لورې ته رابوله ,او هغوى ته وايه چې داسلام لپاره تر ټولو لومړى د دې اقرار اړين دى چې الله تعالى يودى او له هغه پرته هيڅوك دعبادت وړ نه دى ,او زه (محمد صلى الله عليه وسلم) دخداى رسول يم ,كه هغوى ستا دا خبره ومني نو بيا ورته ووايه چې : الله تعالى په شپه اوورځ کې په تاسې باندې پنځه لمونځونه هم فرض كړي دي ,كه دا خبره هم هغوى ومنله نو بيا ورته ووايه

چې : الله تعالی په تاسې زکات هم فرض کړی دی ,چې ستاسې له شتمنو به اخستل کيږي او په غريبانو به مو ويشل کيږي . (بخاري او مسلم) .

له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : ماته امر شوی چې ترهغو له خلکو سره وجنګېږم ترڅو هغوی دا شاهدي ورنکړي چې خدای جل جلاله يودی او محمد دالله تعالی رسول دی ,او لمونځ قائم نکړي, او زکات ورنکړي , خو کله چې هغوی کلمه ووايي , لمونځ ادا کړي زکات ورکړي نو بيا زما له لورې دهغوی ځانونه او مالونه خوندي کيږي له هغه وروسته به داسلام غوښتنې له دوی نه پوره کول کيږي او دنوروورځوحساب په کتاب الله کې دی .(بخاري او مسلم)
حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي چې : يو سړی درسول الله صلی الله عليه وسلم حضورته راغی او عرض يې وکړ چې : ماته داسې کړۀ راوښيه چې جنت ته دننوتلو لامل وي , رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل : دالله تعالی بنده ګي کوه ,له الله تعالی سره څوك شريك مه نيسه ,لمونځ کوه ,زکات ورکوه ,او صله رحمي کوه( . بخاري او مسلم . )
حضرت جرير بن بن عبدالله رضي اله عنه فرمايي چې : ما له رسول لله صلی الله عليه وسلم سره دلمونځ په ا داکولو ,دزکات په ورکولواو هر مسلمان ته په ښو غوښتلو باندې بيعت کړی وو .
(بخاري او مسلم . )
که څه هم دزکات دفرضيت په اړه نور هم ډير احاديث راغلي دي خو مونږ په پورتنيو حديثونو باندې بسنه کوو .

## دزکات داداکولو بيان

لومړی مسئله :
کله چې په مال باندې کال تير شي نو په سملاسي ډول دې زکات ادا شي , ځکه چې په غوره کار کې ځنډ کول ښه خبره نده , هسې نه چې خدای ملکړه نابره مرګ راشي او دزکات دنه ادا کولو ګناه دانسان پر غاړه پاتې شي ,که چيرې دکال له پوره کيدو سره سم زکات ادا نه کړل شو نو بيا دې په راتلونکي کال کې دلومړني کال دزکات دنه اداکولو له امله په توبې ايستلو سربېره ددواړو کلونو زکات په يو وار ادا کړي .لنډه داچې په ژوند کې دې هرو مرو پاتې

زكات اداكړي او دا وجيبه دې پر ځان باندې نه پرې دي .

دويمه مسئله :
دټول مال څلوې تمه برخه وركول په زكات كې اړين دي يانې په سلو كې دوه نيمې روپۍ او په څلوې تو كې يوه روپۍ .
۳- مسكين (بې وسه ) ته دمال دوركولو پر مهال دې په زړه كې هرو مرو دا ور وګرځوي چې زه دا مال دزكات په بڼه وركوم , كه يې داسې نيت نه وي كړی او هسې يې مال فقير ته وركړی وي نو بيا زكات نه ادا كې ي له سره يې ادا كول اړين بلل كې ي ، البته دوركړل شوي مال به ځانته اجر او ثواب وركول كې ي .

څلورمه مسئله :
كه يې مسكين ته دمال دوركولو پر مهال نيت نه وو كړی نو تر كومه مهاله چې هغه مال دفقير په لاس كې وي تر هغو دزكات وركوونكي له لورې نيت پكې سم ( صحيح ) دی او كه يې اوس نيت وكړ هم زكات ادا كې ي ,خو كه فقير هغه مال خرڅ (مصرف ) كړی وي نو بيا دنيت كولو هيڅ اعتبار هم نشته بللكې له نوي سره به زكات وركوي.

پينځمه مسئله :
كه چا له خپله ماله يوه برخه فقيرته دزكات په نيت له نوره ماله را جلا كړه او ويې ويل چې فقير ته به ۍې دزكات په بڼه وركوم بيا يې هغه كوم فقيرته وركړخو هغه مهال يې نيت هير شو نو بيا هم زكات ادا شو , البته كه يې دجلا كولو پر مهال دزكات نيت په هغه مال كې نه و كړی نو بيا يې زكات هم نه ادا كيده .

شپږمه مسئله :
دزكات په وركړه كې زكات وركوونكي ته اختيار دی چې دزكات ټولې روپۍ يوه مسكين ته وركوي او كه يې په څو مسكينانو وېشي , همداراز كه وغواړي چې ټولې روپۍ په يوه ورځ چاته وركړي او كه وغواړي لږې لږې روپۍترڅو مياشتوهم مسكينانو ته وركولای شي .

اوومه مسئله :
غوره داده چې مسکین ته دومره روپۍ ورکړي چې لږ تر لږه ی ې
دیوې ور ې کار خو پرې وشي ,اوپدې ورځ له چا څخه بسپنې
اخیستلو ته اړ نه شي .

اتمه مسئله :
یوه مسکین ته دومره مال ورکول چې د ډیر والي له امله یې په
مسکین زکات فرض شي مکروه دي , خو که بیا هم فقیر ته
چادومره مال ورکړ نوزکات یې ادا کې  ي , او تردې لږ مال ورکول
بې له کراهیته روادي .

نهمه مسئله :
که کومه میرمن چې تنګلاسي یې ټولو ته څرګنده وي یا هم
دپور په نه ادا کولو کې وتلې وي چاته دپور غوښتلو په موخه راشي
نو زکات ورکوونکی هغي ته دپور په نامه دزکات پیسې ورکولای
شي البته په زړه کې به یې دا وي چې زه دا روپۍ دې میرمنې ته
دزکات په بڼه ورکوم نو زکات ادا کې  ي , که څه هم دغه میرمن به
دا فکر کوي چې ګواکې هغې ته دا پیسې دپور په توګه ورکړل
شوي دي .

لسمه مسئله :
که چاته دجایزې په توګه روپۍ ورکړل شي او په زړه کې یې دا
تیره شوې وي چې زه دزکات روپۍ ورکوم نو بیا هم زکات ادا کې  ي .

یوولسمه مسئله :
که دزکات ورکوونکي په کوم مسکین باندې دساري په توګه لس
روپۍ پور باندې وې نو زکات ورکوونکی دا روپۍ دزکات په بڼه
مسکین ته نشي وربښلای , البته که یې لس روپۍ زکات
مسکین ته ورکړې او بیا یې بیرته له مسکین نه دخپل پور په بدله
واخیستې نو دا روا دي , او زکات هم ادا کیږي .

دوولسمه مسئله :
که له چا سره دساري په توګه دسپینو زرو دومره ګیڼه ( ګاڼه )

وي چې له امله يې دساري په توګه په هغه سړ ي باندې دسپينو زرو درې تولې زکات ورکول واجبيږي , او په بازار کې دساري په توګه ددريو تولو سپينو زرو بيه دوه روپۍ ده نو دا سړی اوس د دريو تولو سپينو زرو په ځای دهغو بيه (دوه روپۍ) نشي ورکولای ,ځکه چې د دوورو‌پو وزن د دريو تولو سره برابر ندی , او دسپينو زرو په زکات کې که سپين زر ورکول کې ي نو دوزن اعتبار يې کې ي نه دبيې .خو که په همدې مسئله کې دزکات ور کوونکی په نوموړو دوو روپو سره زر واخلي ،يا ګيلټ واخلي ، يا کپړه ( رخت ) يا يو بل شی واخلي او دزکات په بڼه يې ورکړي ,يا پخپله درې تولې سپين زر دزکات په بڼه ورکړي نو بيا زکات ادا کې ي .

دیارلسمه مسئله :
که دزکات ورکوونکي دزکات روپۍ پخپله مسکين ته ورنکړې بلکې بل چا ته يې ورکړې او ورته وېې ويل چې ته دا روپۍ زما له لورې مسکينانو ته دزکات په بڼه ورکړه ، نو که چېرې هغه سړي دغه روپۍ مسکينانو ته ورکړې ،خو د ورکړي پر مهال يې دزکات نيت هم نه وو نو بيا هم زکات ادا کې ي .

څوارلسمه مسئله :
زکات ورکوونکي چاته دساري په توګه دوه روپۍ ورکړې ، خو هغه چا بعينه دزکات ورکوونکي له لورې ورکړل شوې روپۍ مسکين ته ورنه کړې بلکې له خپله ځانه يې نورې دوه روپۍ مسکين ته ورکړې او له ځانه سره يې وويل چې هغه دزکات ورکوونکي دوه روپۍ به زه ځانته راوګرځوم نو پدې صورت کې زکات ادا کې ي خو پدې شرط چې دزکات ورکوونکي دوه روپۍ به له نوموړي سړي سره موجودې وي او هغه به دخپلو دوو روپيو په بدل کې دزکات ورکوونکي ددوورو‌پود اخيستلو نيت هم کړی وي ، ليکن که چېرې دزکات ورکوونکي دوه روپۍ له هغه سړي نه دزکات ترورکولو د مخه مصرف شوې وې او له هغه وروسته يې غريب ته خپلي روپۍ ورکړې نو پدې صورت کي زکات نه ادا کيږي . همداراز که يې دخپلو روپو دورکړې پر مهال دا نيت هم نه وو چې دی به دزکات ورکوونکي دوه روپۍ ځانته ورګرځوي نو بيا هم زکات نه ادا کيږي . اوس به هغه له سره نورې دوه روپۍ په زکات کې ورکوي .

پينځلسمه مسئله :
که چېرې زکات ورکوونکي چاته روپۍ نه وي ورکړي بلکې يوا ې
دومره يې ورته ويلي وي چې ته زما له لوري زکات ورکړه او هغه
سړي دده له لورې زکات ادا کړ نودزکات ورکوونکي زکات ادا شو ،او
څومره روپۍ چې نوموړي سړي دده له لورې په زکات کې ورکړې
زکات ورکوونکی به هغه روپۍ نوموړي سړي ته ورکوي.

۱۶ مه -مسئله :
که چېرې زکات ورکوونکي دزکات دورکړې په اړه هيچا ته هم څه نه
وو ويلي مګر بيا هم کوم دخدای بنده راولاړ شو اود زکات
ورکوونکي له اجازې پرته يې دهغه له لورې زکات اداکړ نو دا زکات
نه ادا کېږ ي ،که چېرې دزکات له ورکولو وروسته زکات ورکوونکي
هغه ته اجازه هم وکړه بيا هم دا زکات نه ادا کېږ ي ، او هغه روپۍ
چې نوموړي سړي دزکات ورکوونکي له لوري اداکړې نو د هغو
دغوښتلو حق شرعاً دی له زکات ورکوونکي څخه نشي کولای .

۱۷ مه مسئله :
که زکات ورکوونکي چاته روپۍ ورکړې چې ته دا زما له لوري کوم
غريب ته ورکړه نو دهغه اختيار دی چې پخپله يې کوم غريب ته
ورکوي او که يې بل چاته ورکوي او ورته وايي چې دا کوم غريب ته
دزکات په بڼه ورکړه (دنوم وراخستل اړين نه دي چې دفلاني له
لوري يې ورکړه ) او که هغه سړي دا روپۍ کوم خپل خپلوان يا
پلار مور ته چې غريب وو ورکړې نو زکات ادا کېږ ي .خو که هغه
پخپله غريب وو نوځان ته يې نشي ګرځولای .
خو که زکات ورکوونکي ورته ويلي وي چې ته چې څه غواړې پدې
پيسو يې وکړه او يا چې چاته يې ورکول غواړې ورېې کړه نو بيا
يې په هغه صورت کې ځانته هم ګرځولای شي .
دکرهڼې دزکات بيان
۱۸مه -مسئله :
که کوم ښار دکفارو په ولکه کې و او کفار پکې اوسېدل ، بيا
مسلمانانو په هغه ښار بريد وکړاو هغه يې تر خپلې ولکې لاندې
راوست او هلته يې اسلام خپور کړ ، او اسلامي پاچا هغه ځمکې

له کفارو نه راوګرځولې او په مسلمانانو يې وويشلې نو داسې ځمکو ته په شريعت کې عُشري ځمکې وايي . همداراز که ددې ښار اوسېدونکي پخپله خوښه اسلام راوړي او له هغوی سره دج ې کولو اړتيا نه وي پېـ ه شوي بيا هم دنوموړي ښار ځمکو ته عُشري ويل کېـ ي .او دعربو دهيوادونو ټولې ځمکې عُشري دي .

۱۹مه مسئله :
که چاته له پلار نيکه نه دا ځمکې عُشري په لاس ورغلي وي ،يا يې له کوم داسې مسلمان نه اخيستي وي چې آن تر هغه پورې دا ځمکې عُشري تللي وي نو په داسې ځمکو کې چې هرڅه پيدا شي نو په هغه کې صدقه خيرات ورکول واجب دي ، چې دزکات دورکړې طريقه به يې څه په دې ډول وي :
که يې کښت اوبه کړی نه وي بلکې يوا ې دباران په اوبو يې پيداوار کړی وي ،يا يې دلښتي يا درياب له غاړې په لمده بله ځمکه څه کرلي وي او اوبه يې نه وي پرې لګولي نو دداسې کښت له پيداوار نه لسمه برخه خيراتول واجب دي ،يانې په لسو منو کې يو من او په لسو سېرو کې يو سېر .
او که يې چېرې کښت ته اوبه ورکړي وي او يا يې له نوموړو طريقو پرته په کومه بله طريقه خړوبه کړې وي، نو دداسې پيداوار نه شلمه برخه خيراتول واجب دي ،يانې له شلو منو نه به يو من او له شلو سېرو نه به يو سېر خيراتوي .او همدا حکم دبڼ هم دی ،پداسې ځمکو کې دصدقې په ورکړه کې دلږ يا ډېر پيداوار هيڅ توپير نشته بلکې په هر حال کې دصدقې ورکول اړين دي .که پيدا وار لږ،وو که ډير .

۲۰مه - مسئله :
د دانو ،ساکو،ترکاريو،ميوو، او ګلانو يانور هغه څه چې پدې ځمکو کې پيداشي همدا حکم دی .

۲۱مه - مسئله :
په عُشري ځمکو،غرونو يا ځنګلونوکې که شات (شهد) راوايستل شي نو په هغو کې هم داصدقه واجبه ده .

۲۲مه مسئله :
که چا پخپل کور کې ونه ولګوله یا یې دترکارۍ کوم شی وکرلواو په هغو کې میوه راغله نو په هغو کې صدقه واجبه نه ده .
۲۳مه مسئله :
که عُشري ځمکه کوم کافر واخلي نو هغې ته اوس عُشري نه ویله کیږي، که یې بیرته مسلمان واخلي یا یې په یوه بل ډول تر لاسه کړي نو بیا هم هغې ته عُشري نه ویل کیږي .

۲۴مه مسئله :
داخبره چې آیا دا لسمه یا شلمه برخه دچا په ذمه واجبه ده :
دځمکې د تن ؟ که دپیداوار د تن ؟ که څه هم پدې کې دعلماوو اختلاف دی خو غوره خبره داده چې زکواة دپیداوار د تن په غاړه واجب دی . که چېرې کښت چاته دنغدوپه بدل کې په ےکه ورکړي یا دغلې دانې په بدل کې ، نو بیا داصدقه دبزګر(چاچې په ےکه اخیستی) له غاړې کیږي ، اوکه یې کښت په دهقانۍ ورکړی وي (په دوهمه برخه یا دریمه برخه یا چې په څو یې ورکړی وي ) نو بیا به دځمکې تن او بزګر دواړه هریو یې دخپلې خپلې برخې سره سمه صدقه ورکوي .
زکوات چاته ورکولی شو ؟
۲۵مه مسئله :
له چا سره چې دوه پنځوس نیم تولې سپین زر یا اووه نیمې تولې سره زر یا له نوموړو شیانو سره برابر دسوداګرۍ سامان موجودوي نو داسې چا ته په شریعت کې شتمن ویل کې ي ، داسې چا ته دزکات پیسې ورکول روا نه دي،او داسې چاته دزکات اخستل هم روانه دي ، همداراز که له چا سره دذکرشویو شیانو (سپینو او سرو زرو ) له بیې سره سم سوداګریز مال خو نه وي لیکن په همدې بیې برابرله اړتیا نه ډیر مال ورسره وي نو دا سړی هم شتمن دی او دزکات ورکول ورته ناروادي ،که څه هم پداسې شتمن باندې پخپله دزکات ورکول واجب نه دي.

۲۶مه مسئله :
او که له چا سره دومره مال نه وي بلکې لږوي یا بیخي ورسره نه وي یانې دیوې ور ې دتیرولو په اندازه مال هم ورسره نه وي نو

داسې چا ته په شريعت كې غريب يا مسكين وېل كې ي ، چې هغه ته دزكات وركول او هم يې اخيستل دواړه روادي .

۲۷مه مسئله :
هغه غټ اوستر بډ ونه ، فرشونه ( قالينې او داسې نور ) شاميانې ( ترپالونه او لوۍ لوۍ پردې ) اودې ته ورته نورشيان ، چې هره ورځ نه كارول كې ي ، بلكې يوا ې په ودونو او خيراتونوكې ترې كار اخيستل كې ي ، نو داډول شيان په اړينو توكو كې نه شمېرل كې ي .

۲۸مه مسئله :
داوسېدو لپاره كور ، داغوستو لپاره كالي ( جامې يا كپړې ) ، او دكار او چوپړكولو لپاره خادمان نوكران او دكورهغه ځه ، چې ډېرى مهال ورته اړتيا ليدل كيږي دا هرڅه اړين توكي ل كې ي ، ددې شيانو په درلودلو څوك نه شتمن كيږي كه ځه هم نوموړي شيان د ډېرې بيې هم وي ځكه نو داسې چاته دزكات وركول روادي ، همداراز له لوستو كسانو سره دخپلې پوهې سره سم كتابونه درلودل دهغه د اړينو اسبابوپه ډله كې راځي .

۲۹مه مسئله :
كه يوڅوک تراړتيازيات كورونه لري (درې ،پنځه ،لس ...) اوهغه ۍې په كرايه وركړي وي او ددغو كورونو نه چې كومه كرايه ورته راځي په هغې خپل كور چلوي ، يا يې يو كلى وي او دهغه آمدني ورته راځي ليكن دده بچيان ،او په كوركې نور خوړونكي كسان دومره ډير وي چې سره له نوموړې آمدني يې هم ګزاره ډېره تنګه وي او له هغه سره نور داسې مال هم نه وي چې له امله يې په دې كس زكات واجب شي نو داسې چاته دزكات وركول روا دي .

۳۰مه مسئله :
كه له يوچا سره زر روپۍ نغدې وي (دساري په توګه )، خو له بله پلوه هغه زر ياتردې زيات پوروړى وي نو داسې چا ته زكات وركول روا دي،او كه له زرو روپو نه لږ پور ورباندي وي نو بيا كتل پكار دي چې دزكات له وركولو وروسته له سږي سره څومره روپۍ پاتې كې ي ؟

كه چيرې دزكات له وركولو وروسته دومره روپۍورسره پاتې شي چې له امله يې زكات ورباندې واجبېږي نو بيا داسې چا ته دزكات وركول نه دي روا، او كه دزكات له وركړې وروسته تردې لږ روپۍ ورسره پاتې شي نو بياهغه ته دزكات وركول روا دي .

۳۱مه مسئله :
يو سړی دخپل كور لوی شتمن دی ليكن په سفر كې ترې چا ټول مال غلاكړ آن تردې چې كورته بېرته دتلو لپارهم ورسره هم پيسې نشته نوداسې سړي ته هم دزكات وركول روادي ،همداراز كه له حاجي سره په لاره كې خرڅ خلاص شي خو دهغه په كور كې ډيره شتمني موجوده وي نو داسې حاجي ته هم دزكات وركول روادي .

۳۲مه مسئله :
دزكات پيسې كوم كافر ته وركول نه دي روا مسلمان ته به يې وركوي ، همداراز له زكات ،عُشر،صدقۀ فطر،نذر او كفارې پرته نور هرډول خيراوخيرات كافر ته وركول هم روادي .

۳۳مه مسئله :
دزكات روپۍپه كوم مسجد كې لګول ،يا دكوم لاوارثه مړي په كفن دفن كې لګول او يا دمړي له لورې د هغه ( مړي ) پور پرې اداكول يا په كوم بل نيك كار كې لګول نه دي روا،ترڅو پورې چې يې دا روپۍ كوم مستحق ته نه وي وركړي نو زكات يې نه اداكېږي .

۳۴مه مسئله :
دزكات روپۍ خپل پلار ،مور،نيكه،انا( نيا ) ، اونورو هغه كسانو ته چې دی ورنه پيدا شوی وي وركول نه دي روا ،- همداراز خپلو بچيانو، لمسيانو كړوسيانو اونورو هغو كسانو ته چې دده په اولادكې راځي هم دزكات وركول روانه دي ،- همداراز خاوند خپلې ميرمنې او ميرمن يې خپل خاوندته هم دزكات پيسې نشي وركولای .

۳۵مه مسئله :

له پورتنیویادوشویو خپلوانو پرته نورو ټولو خپلوانو ته دزکات ورکول روا دي لکه :ورور :خور ،وریره ،خورځه ،تره ،ترور،خاله ،ماما،میرنۍ یا ناسکه مور،نا سکه پلار ،نا سکه نیکه ،خوا ې،خسر او نورودغسې ټولوخپلوانو ته دزکات ورکول روادي .

٣٦مه مسئله :
دنابالغ هلك یا نجلۍپلار که شتمن وي نو داسې نابالغ ته دزکات ورکول روانه دي ، او که هلك یا جینۍبالغ وو او پخپله دوی خو شتمن نه وي لیکن پلار یې شتمن وي نو داسې هلك اوجینۍ ته دزکات ورکول روادي .

٣٧مه مسئله :
که د واړه (کوچني ) هلك پلار شتمن نه و لیکن مور یې شتمنه وه نو داسې هلك ته دزکات ورکول روادي .

٣٨مه مسئله :
سیدانو او علویانو ته ، همداراز هغه چاته چې دحضرت عباس رضي الله عنه ،حضرت جعفر رضي الله عنه ،حضرت عُقیل رضي الله عنه ، اوحضرت حارث بن عبدالمطلب له زامنو نه وي دزکات ورکول ناروادي ،همدارازنوموړو کسانو ته هغه صدقه چې شرعا واجبه شوې وي لکه نذر ،کفاره ،عُشر او صدقة الفطرورکول هم ناروا دي او له نوموړو شیانو پرته نوره کومه صدقه او خیرات ورکول روادي .

٣٩مه مسئله :
دکور نوکر ،چاپړاسي ،او خدمت ګارې ته دزکات ورکول روادي ،لیکن دهغوی په تنخواه کې حسابول یې روا نه دي البته که یې له تنخواه پرته دجایزې او اکرام په ډول ورکول او په زړه کې یې دزکات نیت وکړ نو داهم صحیح ده زکات یې اداکیږي.

۴٠مساله مسئله :
کوم هلك ته که زکات ورکوونکې ې شیدې ورکړې وي هغه ته ،یا دزکات ورکوونکي ته په ماشومتوب کې کومې ې شیدې ورکړې وي هغې ته دزکات ورکول روادي .

۴۱مه مسئله :
که دکومې ﻼ ې مهر زر روپۍ وي لیکن دهغې خاوند ډیرغریب وي او مهر نه شي اداکولای نو داسې ﻼ ې ته دزکات ورکول روادي ،لیکن که يې خاوند شتمن وي لیکن مهر نه ورکوي ،یا ﻼ ې خاوند ته مهر وباښه نو بیا هم ﻼ ې ته دزکات ورکول روادي ،لیکن که دمېرمنې دا تمه وه چې کله هم زه له خاوند نه دخپل مهر روپۍ وغواړم نو راکوي يې نو داسې ﻼ ې ته بیا دزکات ورکول روا نه دي .

۴۲مه مسئله :
که یوچاته پدې ګومان زکوة ورکړل شي چې مستحق دی خووروسته ورته څرګنده شوه چې هغه شتمن یاسیددی. اویايې هم په تیاره کې چاته زکات ورکړخووروسته ورته په ښکاره شوه چې هغه يې یاخوموریا لوروه اویايې هم یوله هغو خپلوانوڅخه و چې زکات ورکول ورته نارواديږنوپدې ټولوصورتونوکې زکات اداشو اوله نوي سره يې بیا اداکول واجب ندي. خوکه اخستونکي ته داڅرګنده شوه چې هغه مستحق نه دی اوداهم ورته جوته وه چې دا دزکات پیسې دي نونه دې اخلي اوکه يې واخستلې نوبېرته دې زکات ورکونکي ته وروسپاري.اوکه له زکات ورکولووروسته معلومه شوه چې ده خپل زکات کافرته ورکړی نوزکات يې نه اداکې ي اوله سره دې اداکړي .

۳۴مه مسئله :
که دچاپه اړه څوك شك لري چې خدای خبرهغه به خواروي که شتمن نوترڅوچې يې دهغه په اړه پوره تحقیق نه وي کړی زکات دې نه ورکوي.خوکه يې پرته له تحقیقه زکات ورکړنوودې ګوري چې زړه يې څه وايي.که یی زړه ویل چې هغه خواردی نوزکات يې اداشواوکه يې ویل چې شتمن دی نوزکات يې نه اداکې ي اوله سره دې ورکړي . اوکه دزکات له ورکولو وروسته هغه ته معلومه شوه چې هغه غریب دی نوزکات يې اداشو اوله نوي سره دزکات اداکول اړین نه دي .

۴۴مه مسئله :

دزكات اودصدقې په وركړه كې دي دلومړيتوب حق خپلوخپلوانوته وركړل شـي ځكه چې له نبوي احاديثونه په ډاګه كېږ ي چې خپلوخپلوانوته زكات ياصدقه وركول دوه ګوني اجرلري . لومړی يې دخيرات اجردی اودوهم يې له خپلوانوسره داحسان اوښي ي .
البته ددې لپاره چې هغوی يې بد ونه ي هغوی ته بايدداونه ويل شـي چې دغه پيسې دزكات ياصدقې دي (كه څه هم چې دوركونكي نيت به دزكات ياصدقې وي)

۴۵مه مسئله :
له يوه ښارنه بل ښارته دزكات لېږ ل مكروه دي خوكه چيرې په بل ښاركې اوسيدونكي دهغه خپلوان ، دنژدې اوسيدونكوپه پرتله خواران وو نوبياي‌ې هلته لېږ ل بې له كراهيته روادي .البته علماو?طالبانو اوددين په نوروكارونوكې بوختوخلكو ته زكات وركول خورا اجراوثواب لري .
والله اعلم بالصواب
نكاح
۱-نكاح په لغت او اصطلاح کې ،صفت يې ،ركن يې
۲-دنكاح شرطونه
۳-دنكاح حكم
۴-نكاح په كومو تورو تړل کی‌ږي ؟
۵-نكاح چې په كومو تورو تړل كي‌ږي هغه په دوه ډوله دي
۶- دمحرماتو بيان

۱-
نكاح په لغت كې يو ځای كولو ,او په اصطلاح كې هغه تړون ته ويل كي‌ږي چې له املـه يې سړي ته له ميرمنې او ميرمنې ته له سړي نه دشريعت په چوكاټ كې دننه دخپل غريضه غوښتنو دپوره كولو حق حاصلي‌ږي .
صفت يې : نكاح داعتدال په مهال سنت مؤكده ,او دورپسـي كړيدو په مهال واجبه ده , خو كه دسړي له لوري په ميرمنه باندې دتيري كولويا دنه سمبالولوويره وه نو بيا داسې چاته دنكاح كول مكروه دي .
دنكاح ركن : ايجاب او قبول دی ,له تړون كوونكو نه چې هر يو يې

په لومړي ځل کوم توری ادا کوي هغه ته ایجاب او له دوهمه لوري دنومړي توري ځواب ورکولو ته قبول ویل کیږي .

۲- دنکاح شرطونه په لاندې ډول دي

۱-تړون کوونکي به عاقل بالغ او ازادوي , نو دلیوني او هغه ماشوم چې عقل نلري نکاح نه منعقده کیږي , او دمریي او هغه ماشوم چې عقل ولري نکاح بیا د(ولي) تر اجازې پورې موقوفه بلل کیږي .
۲- محل به دنکاح وړ وي ,یعنې داسې میرمن به وي چې له هغې سره شرعا نکاح روا وي .
۳-تړون کوونکي به دیوه او بل خبرې اوري
۴-دنکاح په مهال به دوه شاهدان نارینه یا یو نارینه او دوه ینه موجودي وي ,په شاهدانو کې هم اسلام ,عقل ,ازادي او بلوغ شرط دی
۵-شاهدان به دتړون کوونکو خبرې اوري, ځکه نو دبیدو خلکوپه شاهدي سره نکاح نه تړل کیږي
۶- ایجاب او قبول به په یوه مجلس کې وي
۷-ایجاب او قبول به سره مختلف نه وي , دساري په توګه که یو سړي چاته وویل چې زه خپله لور تاته په یو لك روپۍ ولور په نکاح درکوم او دوهم سړي وویل چې نکاح مې قبوله ده خو ولور نه قبلوم نو دانکاح باطله ده
۸-نکاح به د ې ټول بدن ته یا داسې اندام ته راجع وي چې هغه په ټول بدن باندې تعبیرېږي لکه سر او غاړه , ځکه نو که چا وویل چې زه دلور لاس یا پښه تاته په نکاح درکوم نو دا نکاح نه تړل کیږي ,خوکچیري یې ګیډه یا شا وښودله نو داحنافو دمشایخو په اند یې نکاح تړل کیږي ,او کچیري یې وویل چې نیمایي لور تاته په نکاح درکوم نو غوره قول دادی چې نکاح یې نه کیږي .
۹-خاوند او میرمنه به څرګندوي ,نو که دچا دوه لو ې وې او ویې ویل چې زه یې یوه تاته په نکاح درکوم او څرګنده یې نکړه چې کومه یوه نو نکاح یې نه کیږي
۱۰- ه به په نومړي نکاح خوښه اوراضي وي , که هغه باکره بالغه(پیغله) وي او که ثیبه (یو ځل واده شوي ) .

۳-دنکاح حکم

دادی چې سړي ته له میرمنې او میرمنې ته له سړي څخه تر شرعي چوکاټ لاندې دهرډول غریضه اړتیاوو دپوره کولو اجازه ورکول کیږي .او په سړي باندې د ې نفقه ,لباس ,اوولَورواجبيږي ,اومیرمنه دخاوند له اجازې پرته دباندې تللو حق نلري ,همداراز حرمت مصاهرت (چې تفصیل يې دمحرماتوپه بیان کې راځي) اودمیراث وړلو حقونه دواړو غاړو ته ور په برخه کیږي .
همداراز په خاوند باندې له یوې نه دډیرو و په مهال دهغوی تر منځ برابري کول په شپه تیرولو ,لباس او خوراك كې واجبيږي ,همداراز په میرمنه باندې دخاوند دوربللو په مهال دخاوند خواته ورتلل واجبيږي او دخاوند او ې تر منځ په ښه ډول ګزاره کول اړین بلل کیږي , او خاوند ته دهمدې میرمنې له خور سره نکاح کول دنوموړې میرمنې تر ژوندە پورې حرامیږي .

۴- نکاح په کومو تورو تړل کیږي ؟

نکاح په ایجاب او قبول تړل کیږي خو داخبره په یاد ساتل اړین بریښي چې دایجاب او قبول توري به دواړه یا يې هم کوم یو په تیرې شوې زمانې دلالت کوي ,دساري په توګه داسې به ویل کیږي (ما خپله فلانۍ لور تاته درکړې وه ) دابل لورې به وایي (ما قبوله کړې وه ) یا به داسې وایي (ماخپله لور تاته په نکاح درکړیوه )دا بل لورې به وایي (ما قبوله کړیده ) دګونګي نکاح په اشاره باندې تړل کیږي که يې چیرې دقبول لپاره ځان ې اشاره څرګنده وه .

۵-نکاح چي په کومو تورو تړل کیږي هغه په دوه ډوله دي

لومړی صریح توري , لکه دنکاح توري (ما خپله لور تاته په نکاح در کړیوه ) دتزویج توري (زه خپله لور تاته په تزویج درکوم ) همداراز هغه ټول توري چې په هغو سره دیوه څرګند شي ملکیت په سملاسي ډول تر لاسه کیږي په هغو تورو سره نکاح هم تړل کیږي لکه :هبه ,تملیك ,صدقه ,بیع او شرا تورو سره نکاح تړل

کيږي .
دوهم ـ دنکاح دتړلو لپاره کنايي توري :
څنګه چې دنکاح دتړلو لپاره کنايي توري ډير دي او حکمونه يې سره جلا جلا دي ځکه يې نو له ليکلو نه ډډه کوو ,البته دنکاح په ترڅ کې دکنايي تورو دکارولو په مهال کې دې د نکاح دتړل کيدو او نه تړل کيدو پوښتنه له ځايي علماو نه وپوښتل شي .

۶-دمحرماتو بيان

له نکاح مخکې او له نکاح وروسته چې له کومو ميرمنو سره نکاح تړل حرام دي هغه په نهه ډوله دي :

لومړی -محرمات باالنسب : يعنې هغه ميرمنې چې دنسب له امله ورسره نکاح حرامه ده لکه ميندې ,خويندې , تروريانې ,خاله ګانې , وريرې , خورزې , له نومونړو ميرمنو سره دتل لپاره نکاح کول (ياهم ورسره يو ځای کيدل دملك يمين په ډول ) حرام او ناروا دي .
په ميندو کې دسږي ميندې او نيا ګانې که هغه دپلار له لورې وي که دمور له لورې تر هرڅومره لوړه پوړه پورې ټولې ي دي .
همداراز په لونړو کې خپلې لو ي او دزامنواو لونړو لو ي تر هر څومره ښکته پوړه پورې ټولې ي دي .
همداراز په خويندو کې هغه خور چې په مور او پلار دواړو کې سره وي (حقيقي خور),يا يوا ي په پلار کې سره وي (اخيافي خور) يا يوا ي په مور کې سره وي (علاتي خور) ټولې ي دي .
همداراز په وريرو او خورزو کې خپله دوي او دهغوي لو ي او دهغوی دلونړو لو ي تر هر څومره ښکته پوړه پورې ټولې شريکې دي .
په عماتو کې هغه عمه چې دپلار او مور دواړو له لورې وي يا يوا ي دپلار يا يوا ي دمور له لورې وي همداراز دنيکونو عمې دمور عمې دنياګانو عمې تر هرڅومره لوړه پوړه پورې ټولې ي دي .
له خالاګانو نه هم دعمه ګانو په څير دمور او پلار يا يوا ي دپلار يا يوا ي دمور همداراز دپلار ،نيکونو، مور او نياګانوخاله ګانې تر هر څومره لوړه پوړه ټولې مراددي .
دوهم -محرمات صهريه : هغه ميرمنې چې دخسر ګنۍ توب له امله ورسره نکاح حرامه ده په څلور ډوله دي :

۱-دميرمنې ميندې او نيا ګانې كه هغه دمور له لورې وي كه دپلار تر هرڅومره لوړه پوړه پورې چې وي ټولې حرامېږي .
۲-دميرمنې لو ې (چې هغه له بل خاوند څخه وي يا دهغې داولادونو لو ې تر هرڅومره ښکته پوړه پورې چې وي خو پدې شرط چې له نکاح وروسته به له نوموړې ميرمنې سره جنسي اړيكې ټين ې شوي وي خو كه له نكاح وروسته دجنسي اړيكو تر ټينګيدا له مخې دخاوند او ې تر منځ جدايي (طلاق) راغله نو بيادې خاوندته دميرمنې دعدت (دريو حيضونو كه حامله نه وي او كه حامله وي بيا يې عدت دماشوم پيدايښت دی ) تر تيرولو وروسته دنوموړې ميرمنې له هغو لوڼو سره چې له بل خاوندڅخه وي نكاح روا كيږي ) .
۳-دځوی ميرمنه ,دځوی دځوی ميرمنه ,تر هر څومره ښکته پوړه پورې ,كه ځوی له نوموړې ميرمنې سره جنسي اړيكې تر سره كړې وي او كه يې نه وي په هر صورت حرامېږي . البته دمتبني (يعني هغه چاته چي يواځي په خوله ورته ځوی ويل شوي وي او په حقيقت كي يي ځوی نه وي )له ميرمنې سره نكاح كول روادي .
۴-نوموړي تړون كوونكي ته دميرمنې دپلرونو او نيكونوتر هر څومره لوړه پوړه پورې وي (كه هغه دپلار له لورې وي او كه دمورله لورې) له ميرمنوسره نكاح كول ندي روا .
دا هم هغه ميرمنې دي چې دتل لپاره ورسره نكاح حرامه ده .
دريم -محرمات بالرضاع : هغه ټولې مير منې چې دنسب اوصهريت له امله ورسره نكاح حرامه ده درضاع(ددوه نيمو كلونوپه موده كي دكومې ميرمنې د شيدو لو) له امله په شيدې ونكی هلک يا انجيلۍ باندې حرامېږي . كه څه هم ماشوم يا ماشومې د ميرمنې تی يوا ې يو ځل رودلی وي بياهم رضاع ثابتيږي .
څلورم - محرمات باالجمع : يعنې هغه ميرمنې چې په يوه مهال ىې په نكاح كې يو ځای كول حرام دي په دوه ډوله دي : ۱-د اجنبياتو تر منځ يو ځای كول ۲- د ذوي الارحامو تر منځ يو ځای كول .
۱- د اجنبياتو تر منځ خو هیڅكله هم ترڅلورو نه ډيرې ې يو ځای كول روا نه دي .هر مسلمان ته په يوه مهال يوا ې دڅلورو و د په نكاح كولو اجازت شته او بس ،خو كچيرې له څلورو نه كومه يوه يې مړه شوه نو بيا له بلې ې سره نكاح كول ورته روادة كه په نوموړې ډول دنكاحګانو شميره تر لسو هم ور واوړي كومه پروا نلري

. يوا ې دومره خبره په ياد ساتل پکاردي چې په يوه مهال تر څلورو ډيرې نکاح کول روا نه دي .
٢- دذوات الارحامو تر منځ يو ځای والی ـ نو د دوو خویندو تر منځ يو ځای والی نه په نکاح سره روا دی او نه په مینځي توب سره .که هغه دواړه خويندې نسبي وي که رضاعي .
همداراز پدې اړه د يوې قاعدې په ياد ساتل پکار دي اوهغه دا چې : د داسې دوو میرمنو تر منځ په نکاح کې يو ځای والی نه دی روا چې که له هغو دواړو و نه ی‌ې کومه يوه مونږ نارينه فرض کړو نو د دوی تر منځ نکاح نه وي روا یا دنسب له امله يا هم درضاع له امله ، دساري په توګه د یوه سړي لپاره په یوه مهال د وريرې او دهغې د عمې تر منځ نکاح نه ده روا ځکه له دې دواړو میرمنو نه کومه یوه مونږ سړی فرض کړو نو نکاح ی‌ې نه سره کی‌ږي دا وريره توب او عمه توب که دنسب له امله وي او که د رضاع له امله وي په دواړو صورتونو کې د يوه سړي لپاره د داسې دوو ميرمنو تر منځ نکاح کول نه دي روا .

پنځم ؟ په ازاده ه برسیره مینځه په نکاح کول نه دي روا ، ځکه نو که چا مینځه او ازاده ه په يوه تړون کې سره يو ځای کړل نو په ازاده ه کې نکاح سمي‌ږي او په مینځه کې نه سمي‌ږي .
شپږم - هغه میرمنې چې په هغوی پورې د بل چا حق تړلی وي نکاح نه ده ورسره روا ، لکه د میړو ښي سره نکاح حرامه ده ،همداراز که يوه میرمن د بل چا په عدت کې ناسته وه هم نکاح ورسره حرامه ده تر څو ی‌ې عدت تير شي ، عدت که دطلاق وي ،که د وفات وي ،که د نکاح فاسد وي ،او که شبهي نکاح دټولو عدتونو همدا حکم دی .
اووم -محرمات باالشرک : هغه میرمنې چې مجوسی یا بت پرستې وي نکاح نه ده ورسره روا ، همداراز له لمر پرستو ،ستوري پرستو ،اباحیه و،باطنیه و ،انځور پرستو او زنادقه و سره هم نکاح نه ده روا .البته له کتابی‌ې میرمني سره نکاح روا ده .
اتم- محرمات باالملک : میر منې ته دا نه ده روا چې له خپل مريي سره نکاح وکړي همداراز که کوم مريي دنوموړې ميرمنې او بل چا تر منځ وي هم نکاح ور سره نه ده روا .
نهم ؟ محرمات باالطلاق : که يوه سړي خپلې ميرمنې ته درې

طلاقونه ورکړل نو تر څو چې له نوموړې میرمنې سره بل چا نکاح نه وي کړې او جنسي اړیکي ئې نه وي ورسره ټین ې کړې تر هغه لومړي سړي ته د دوهم ځل لپاره نه روا کیږي .
والله اعلم باالصواب

طلاق

١-د طلاق لغوي اواصطلاحي څېړنه

٢-طلاق ولي روا شو؟؟؟

٣-دطلاق اچولودرى ډولونه : احسن ،حسن ،بِدعي ،پېژندنه يې

٤-د احکامو له پلوه دطلاق درى ډولونه : رجعي ، بائن ، مغلظ، پېژندنه يې

٥-یوه مهمه یادونه

٦-دشرعي حلالې ېړ نه

٧-د طلاق توري په دوه ډوله دي : صریح ، کنایه . او حکمونه يې

١- طلاق په لغت کې مطلقا دتړلي شي پرانستلو ته وايي ، او د شریعت په اصطلاح کې په ځان و تورو سره سمدلاسه (لکه په طلاق باین کې) یاپه راتلونکي کې (لکه په طلاق رجعي کې )د نکاح د تړون پرې کولو ته طلاق ویل کیږي .
که څه هم په مباحو شیانو کې تر ټولوابغض (بد( شی دپالونکي تن په وړاندې طلاق دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فر مایلي (ان ابغض المباحات عند الله الطلاق )خو څنګه چې په ژوندانه کې کله نا کله د خاوند او میرمنې تر منځ نا خوالي آن تر دې ځایه راورسیږي چې نور يې نو له بیلوالي پرته بله کومه لاره نه وي ځکه نو د همدې اړتیا له امله په شریعت کې طلاق روا شوی دی .

٢-خو دلته اوس دا پوښتنه راپورته کیږي چې طلاق خو د خدای جل جلاله په وړاندې مبغوض دی نو ښایي چې ناروا وای ؟
ددې پوښتنې په ځواب کې علماوو دوه ځوابونه ویلي لومړی داچې په قرآنکریم کې راغلي چې (لا جناح علیکم ان طلقتم النساء ما لم تمسو هن )نو دا ایت شریف د دې دلیل دی چې د اړتیا په مهال خپلې میرمنې ته طلاق ورکول روا دي دوهم ځواب علماوو دا هم

ویلی چې :په حدیث شریف کې طلاق ته مبغوض ویل د طلاق دناروا والي دلیل ځکه نشي کیدای چې ابغض دعربي ګرامر له پلوه د اسم تفضیل صیغه ده او مضاف دی مباحات ته او مباحات يې مضاف الیه دی نو له عربي قاعدې سره سم اسم تفضیل دمضاف الیه ځنې وي ځکه نو طلاق هم مباح شو نه ناروا .
یوه بله پوښتنه دلته دا هم ده چې داسې حدیثونه هم شته چې په هغو کې په مطلقاتو و باندې لعنت ویل شوی نو له هغو نه د طلاق نارواوالی څر ګندیږي لکه رسول اللّه صلی اللّه علیه وسلم چې فرمایلي (ایما امرأة اختلعت من زوجها بغیر نشوز فعلیها لعنت اللّه والملائکة والناس اجمعین) هغه مېرمنې چې بې له اړتیا نه له خاوند نه جلا شي په هغوی باندې دې د خدای جل جلاله ،ملائکو او ټولو خلکو له لورې لعنت وي ؟؟
له پورتني او همداسې نوروهغو حدیثونو څخه چې هلته په مطلقاتو د لعنت ذکر راغلی هغه مېرمنې مراد دي چې بې له کومې اړتیا نه له خاوند نه جلا کیده غواړي ، مطلقا مطلقاتي مراد نه دي .

۳- فقهي کتابونو ته له کتلو وروسته جوَتیږي چې مېرمنې ته دطلاق وراچولو درې ډولونه دي چې لومړي ته يې طلاق احسن او دوهم ته يې طلاق حسن (سني) او دریم دېته يې بیا طلاق بِدعي ویل کیږي .
۱- طلاق احسن : دېته وايي چې سړی خپلې مېرمنې ته په داسې (طهر)پاکي کې یوطلاق ور واچوي چې په هغې پاکي کې له مېرمنې سره جنسي اړیکي نه وي نیول شوي ، او بیا مېرمن پرې ودل شي تر څو عدت يې تېر شي ، صحابه کرامو به دچا له لورې خپلې مېرمنې ته په داسې ډول طلاق ور اچول مستحب ل .
دلته دا خبره په یاد ساتل پکاردي چې طلاق احسن ته احسن ویل ددې معنا نه لري چې مېرمن ته داسې طلاق ورکول اړین او ښه کاردی ځکه چې طلاق خو د خدای جل جلاله په وړاندې مبغوض دی هغه هیڅکله هم ښه نه شي کیدای بلکې طلاق احسن ته دطلاق حسن له امله احسن ویل شوي تر څو ددواړو تر منځ تو پیر راشي .
۲- طلاق حسن (سني) : دېته وايي چې په دریو پاکیو کې

مېرمنې ته درې طلاقونه ور واچول شي يعنې په هرې پاکي کې يو طلاق .
پورتني طلاق ته طلاق سني (مسنون) هم وايي خو د دې د امعنا نه ده چې طلاق احسن نو مسنون نه دی ، بلکې مسنون دواړه طلاقونه دي البته د مسنون معنا دا هیڅکله هم نه ده چې داسې طلاقونه ورکول خپلې مېرمنې ته ښه او سنت کار دی بلکې د مسنون معنا داده چې خپلې مېرمنې ته په پورتني ډول طلاق ور اچولو سره سړی نه ګناهګارېږي .
۳-طلاق بدعي: دېته وايي چې په يوه پاکي کې خپلې ميرمنې ته په مختلفو مهالونو کې په مختلفو توروسره درې طلاقونه ور واچول شي ، يا هم په يوه توري سره په يوه وار ميرمنې ته درې طلاقونه ور واچوي . مېرمنې ته د دې ډول طلاق په ور اچولو باندې سړی ګناهګارېږي هم .

٤-د احکامو له پلوه هم د طلاق درې ډولونه دي : رجعي ، بائن ، مغلظ .

١- طلاق رجعي :
دېته وايي چې خاوند خپلې مېرمنې ته يو يا دوه ځله په سوچه تورو کې طلاق ورکړي دساري په ډول ته په ما طلاقه يې اوداسې نور چې دطلاق په تورو صراحت پکې شوی وي .
د طلاق رجعي حکم :
دا دی چې د عدت دپوره کيدو تر مهاله پورې ه دسړي په نکاح کې وي او سړی کولای شي د عدت په منځ کې کله چې يې هم زړه وغواړي رجوع کولای شي ( رجوع دې يا په تورو سره وکړي يعنې مېرمن ته دې ووايي چې ما خپل طلاق اخيستی او يا دې هم مېرمنې ته په عملي ډول رجوع وکړي لاس وروړل ښکلول اومستي کول هم رجوع بلل کيږي ) په طلاق رجعي کې په دوهم ځل د نکاح تړلو اړتيا نه ليدل کيږي .
ليکن که عدت تېر شو او سړي مېرمنې ته په وېنا يا څه کړنې سره رجوع ونکړه نو بيا د دوی دواړو تر منځ نکاح شکيږي او مېرمنه دوهم ځای نکاح تړلای شي ، همداراز که له عدت نه وروسته د خاوند او مېرمنې تر منځ روغه جوړه وشوه نو بيا هم

مىښه له مېرمنې سره نكاح كولاى شي .

٢- طلاق بائن :
دېته وايي چې ياخو سړى مېرمنې ته په كنايي تورو سره طلاق وركړي يا هم له طلاق سره كوم داسې صفت ذكر كړي چې په هغه صفت كې د سختې اظهار وي د ساري په توګه خاوند مېرمنې ته ووايي (تاته مې سخت طلاق در كړى ، ) يا (تاته مې اوږد طلاق در كړى) او داسې نور .
د طلاق بائن حكم : دا دى چې د طلاق له ور اچولو سره سم د ميښه او مېرمنې تر منځ بيلوالى راځي ه د سړي له نكاح نه وځي ميښه ته د رجوع كولو حق حاصل نه وي ، البته په عدت كې دننه يا له عدت نه وروسته مىښه له همدې مېرمنې سره نكاح كولاى شي .

٣- طلاق مغلظ :
دېته وايي چې سړى مېرمن ته درې طلاقونه وركړي ، پدې صورت كې ه په مىښه باندې حراميږي او له شرعي حلالې پرته نكاح نشي ور سره كولا .

يوه مهمه يادونه :

دلته دا خبره هم په ياد ساتل پكاردي چې كوم طلاقونه چې ميښه مېرمنې ته وراچولي له رجوع يا نكاح وروسته به مىښه دباقي پاتې طلاقونو د وراچولو ځواک لري معنا دا چې كه سړي يو طلاق ور اچولى وو او بيا يې همدې مېرمن ته رجوع ياله عدته وروسته نكاح ورسره وكړه نو په راتلونكي كې به دا سړى مېرمنې ته د دوو نورو طلاقونو د وراچولو ځواک لري كه يې بيا دوه طلاقونه ې ته ور واچول نو هغه مغلظه ګرځي او ورباندې حراميږي ،اوله شرعي حلالې (چې ږ نه يې مخكې را روانه ده) پرته لومړي ميښه ته نه حلالىږي .
او كه يې دوه طلاقونه ور اچولي وواو بيا يې له همدې مېرمن سره نكاح ياېې رجوع وكړه نو په راتلونكي موده كې به دا ميښه د يوه طلاق د ور اچولو ځواک لري نو كه يې مېرمنې ته

يو طلاق ور واچاوه نو ه ور باندې مغلظه ګر ځي ، او له شرعي حلالې پرته نه ورته روا کيږي .

## ۶-دشرعي حلالې نه :

په قرآنکريم کې راغلي چې که يوه خاوند خپلې مېرمنې ته درې طلاقونه ورکړل نو دا مېرمنه نوموړي سړي ته حلاله نه ده تر څو دا مېرمن له (عدته وروسته) له بل مېړه سره (صحيح) نکاح ونکړي او له نکاح وروسته دوهم مړ ه له دې سره جنسي اړيکې ټينګي نکړي ،بيا يې هغه دوهم مېړه مړ شي يا هم طلاق ورکړي او ددې ی عدت هم تېرشي نو بيا دا مېرمنه په دوهم ځل د لومړي خاوند لپاره حلاله ګرځي اونکاح ورسره تړلای شي ، دېته شرعي حلاله ويل کيږي .
له دريو طلاقو وروسته که ی له چا سره پدې شرط نکاح وکړه چې هغه سړی به له جنسي اړيکو وروسته دا طلاقوي او بيا به دا په دوهم ځل له لومړي مېړه سره نکاح کوي نو دا شرط باطل دی او په حديث شريف کې په داسې حلاله کوونکي باندې لعنت ويل شوی ، خو له ملعونېدو سره سره که چا له کومې مېرمنې سره په همدې شرط نکاح وکړه او جنسي اړيکې يې سره ټين ی کړې او نوموړي سړي ی ته طلاق ورکړاو د ی عدت تېرشو نو د لومړي سړي لپاره له دې ی سره په دوهم ځل نکاح روا ده . او که يې له جنسي اړيکو ټينګيدو پرته طلاق ورکړ نو لومړي سړي ته نه حلالېږي او نکاح يې نه ورسره کيږي .
خوکه کومې مېرمنې له کوم سړي سره له پورتني شرط څخه پرته نکاح وکړه که څه هم د سړي په زړه کې دا خبره وي چې زه به له جنسي اړيکو ټينګولو وروسته نوموړې ی ته طلاق ورکوم نو دا صورت بيا د لعنت وړ نه دی ، همداراز که د مېرمنې هم دا نيت وو چې له دوهم مړ ه سره دجنسي اړيکو له ټينګيدو وروسته به بېرته له لومړي مېړه سره نکاح کوي او بېرته به خپل کور ورسره جوړوي نو دا هم ګناه نه ده، ځکه ګناه يوا ی دشرط په صورت کې راځي نه د نيت په مهال .

۷-د طلاق توري په دوه ډوله دي : صريح او کنايه .

۱-طلاق صرېح :
دېته وايي چې سړی مېرمنې ته په داسې سوچه تورو سره طلاق ورکړي چې په هغوی کې هېڅ ډول پټوالی نه وي ، دساري په توګه مېرمنې ته ووايي (ته طلاقه يې ، ته مطلقه يې ،ما تاته طلاق در کړی او داسې نور) .

دطلاق صرېح حکم :
دا دی چې يو طلاق رجعي ور څخه واقع کيږي ، که څه هم سړي له نوموړو تورو څخه د طلاق نيت نه وي کړی .

۲- طلاق کنايه :
هغه طلاق ته وېلی شي چې په نا څرګندوتورو(مبهمويعنې داسې تورو سره چې هغه له طلاقه پرته دنور څه امکان هم لري ) سره خاوند خپلې ي ته طلاق ورکړي ، دساري په توګه مېړه ي ته ووايي (ته بائنه يې ،ته خلاصه يې ،ستا پړی ستا په غاړه کې دی ، ماته جلا کړي يې ،خپل اهل ته ولاړه شه ، او داسې نور) .
د کنايي طلاق حکم :
دادی چې په داسې ټولو تورو سره د مېړه له لوري د طلاق د نيت په مهال يو طلاق بائن واقع کیږي او که د خاوند نيت د طلاق نه وو نو بيا طلاق هم نه واقع کيږي . البته د علماو په اند دلالة حال هم دنيت قائم مقام کيداى شي يعنې که مېړه او مېرمنې ج ه سره وکړه او مېړه له پورتنو تورو نه کوم توری د مېرمنې په حق کې وکاراوه نو دلته هم طلاق واقع کيږي که څه هم نيت يې نه وي ځکه چې دلته دغصې او غضب حالت د دې ښکارندوينه کوي چې د سړي به هرو مرو دطلاق نيت وو هسې اوس انکار کوي نو کله چې د غصې حالت دطلاق په نيت دلالت کوي ځکه نو پداسې چا ه هم په بائن طلاق سره طلاقیږي .

والله اعلم باالصواب